د افغانستان د کلتور ودې ټولنې د درسي کتابونو په ویاړ

# د پوهنې فلسفې بنسټونه


لیکوال

**جارج نیلر**

کلیفورنیا پوهنتون، لاس انجلس


ژباړونکی

پوهاند داکتر محمد حسن هاشم

[illegible]


www.sikaraam.com

کتابتون ټولنه

# دپوهنې فلسفې بنسټونه

## ليکونکی

## جارج نيلر

کيفورنيا پوهنتون، لاس انجلس

ژباړونکی

**پوهاند ډاکټر محمدحسن کاکړ**

**پخوا د کابل پوهنتون استاد**

۱۳۸۰ل _ ۲۰۰۲م کال

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

## دکتاب ځانګړنې


دکتاب نوم : د پوهنې فلسفي بنسټونه

ليکوال : جارج نيلر

ژباړن : پوهاند محمدحسن کاکړ

خپرندوی : د افغانستان کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

خپرونو لړ : (۳۷)

چاپشمېر : (۱۰۰۰) ټوکه

کمپوزر : عزت الله شمسزی

چاپکال : ۱۳۸۱_۲۰۰۲


www.sikaraam.com



پوهاند محمد حسن کاکړ

www.sikaraam.com

# د خپرندويې ټولنې يادښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني لپاره د ډېرې خوښۍ خای دی، چې د نورو پوهنيزو، څېړنيزو، ادبي او تاريخي اثارو په لړ کې دا دی د هېواد د تکړه مورخ او ليکوال ښاغلي پوهاند محمدحسن کاکړ دا ارزښتمنه ژباړه ( د پوهنې فلسفې بنسټونه) خپروي.

ددې لپاره چې اوس فلسفه پوهنه د ژوند په ټولو اړخونو کې اړينه ده، په تېره بيا د ښوونکو او زده کوونکو لپاره. نو دادی ښاغلي کاکړ صيب د همدې اړتيا له مخې د جارج نيلر اثر ( د پوهنې فلسفې بنسټونه) وژباړه، چې ګران ښوونکي، زده کوونکي او د فلسفې د علم نور مينه وال ترې ګټه پورته کړي.

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني په داسې حال کې چې ښاغلي پوهاند محمدحسن کاکړ ته ددې ارزښتناکې ژباړې د چاپ له امله مبارکي ورکوي په راتلونکې کې هيله لري چې ګرانو هېوادوالو ته همداسې نور ګټور اثار هم وړاندې کړي.

په درنښت

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه ـ جرمني

www.sikaraam.com

# نیولیک

* یادښت
* د ژباړونکي خبرې ۱
* سریزه ۱۵


## لومړی څپرکی

## دفلسفې مناسبوب

* دفلسفې طریقې ۱۷
* فلسفه او ساینس ۱۹
* دپوهنې فلسفه ۲۱
* دحقیقت ماهیت ۲۳
* میتافزیك او پوهنه ۲۵
* ایدیالستي میتافزیك اوپوهنه ۲۷
* ریلستي میتافزیك او پوهنه ۳۰
* پرګماتست میتافزیك او پوهنه ۳۳


## دوهم څپرکی

## پوهه او ارزښت

* دپوهې ډولونه ۳۹
* اشراقي پوهه ۴۰
* عقلي پوهه ۴۲
* تجربي پوهه ۴۳
* صلاحیتي پوهه ۴۵
* ایدیالستي پوهپوهنه او پوهنه ۴۷


www.sikaraam.com

* ریلستي پوهپوهنه او پوهنه ۴۸
* پرګماتستي پوهپوهنه او پوهنه ۴۹
* ارزښتونه او پوهنه ۵۲
* اخلاقپوهنه اوپوهنه ۵۵
* ښکلا پېژندنه او پوهنه ۵۸
* ایډیالستي ارزښتونه او پوهنه ۶۰
* ریلستي ارزښتونه او پوهنه ۶۳
* پرګماتستي ارزښتونه او پوهنه ۶۷


## دریم څپرکی

## دپوهنې اوسنۍ تیورۍ ځانې


* دتل ترتله توب فلسفه ۷۱
* دپرمختګ فلسفه ۷۷
* د پرمختګ فلسفې باندې انتقادي بحث ۸۴
* داساسي توب فلسفه ۸۸
* دبیا رغونې فلسفه ۹۳
* د بیا رغونې فلسفې باندې انتقادي بحث ۹۸


## څلورم څپرکی

## دښته والې فلسفې ځوانې


* نړۍ لید ۱۰۲
* انتخابول ۱۰۵
* پوهه حاصلول ۱۱۰
* درس ورکول او زده کول ۱۱۴


www.sikaraam.com

## پنځم څپرکی

## منطق او تحلیل


* منطق او ساهپوهنه ۱۲۱
* دپلټنې منطق ۱۲۴
* منطق په تدریس کې ۱۳۰
* تحلیل او ژبه ۱۳۴
* دتدریس مفکوره ۱۳۹
* دبرابرۍ مفکوره ۱۴۹
* اصطلاحګانې او لنډې ویناوې ۱۵۷


www.sikaraam.com

# د ژباړونکي خبرې

همدا چې دغه کتاب مې په انګرېزي کې ولوست نیت مې وکړ، چې په پښتو یې واړوم، غټ دلیل یې دا و چې هغه د انسان له یوې اساسي موضوع نه بحث کوي او په دغسې ژبه کښل شوې چې نږدې هر لوستونکی پرې پوهېدلی شي. بل دلیل دا و چې د پوهنې فلسفې په هکله په پښتو کې کوم اثر نه شته. یا ماته معلوم نه دی. په هرحال پښتو لوستونکي په عمومي ډول، ښوونکي او زده کوونکي په خاص ډول دغه اثر ته ضرورت لري. په حقیقت کې ټول هغه کسان چې له پوهې، پوهنې او فکري جریانونو سره علاقمني لري ضرورت لري، چې د پوهنې فلسفې له بنیادي نظریو څخه خبر وي، په اصل کې ټول هغه کسان چې غواړي د انسان او ژوند په اړه د معاصرو سوچوالو په نظریو پوه وي ورته بنایي ددغه کتاب له موضوعګانو سره خانونه اشنا کړي.

د کتاب موضوع لکه چې له نامه نه یې ښکاري د پوهنې فلسفه ده، دغه عنوان به د ځینو لپاره وېرووونکی وبرېښي، فکر به کوي چې که پوهنه اسان مفهوم لري، فلسفه د هغه پرعکس یوازې د خاصو کسانو لپاره د بحث موضوع ده، په رښتیا هم دواړه مفهومونه رانه او قطعي نه دي او پېژندنه یې بحث غواړي، خو په دغه اثر کې دواړه او دهغو په اړوند نورې موضوعګانې په دې ډول بیان شوي چې نږدې د هر لوستونکي لپاره د پوهېدلو وړ وي. هغې چې نور مفهومونه په تېره مجرد مفهومونه ډول ډول تعریف کېږي. فلسفه هم ډول ډول تعریف شوې ده. دا ځکه چې څه وخت چې غواړو یو ځیز تعریف کړو ډېر لږ داسې پېښېږي، چې دهغه په یوه تعریف باندې اتفاق وکړو، که څه هم چې موږ به هغه ځیز و پېژنو او په ژوندانه کې به ترېنه کار اخلو. تعریف یو مفهوم په یوه قالب کې د ښتو په شان محدود کوي او هرڅوک

www.sikaraam.com

چې یو څیز تعریفوي د خپلې پوهې او خپل نړۍ لید له نظره یې تعریفوي. له همدې امله به وي چې د مفاهیمو په تعریف باندې اوس هغومره ټینګار نه کېږي، لکه پخوا چې کېده، نو فلسفه چې لغوي مانا یې پوهه دوستي ده هغه څېړنه بلله شوې ده، چې د څیزونو د ماهیت او بنیادي حقیقتونو په اړه یې کوي. په دې حساب فلسفه د پوهنې له ماهیت او د هغې له بنسټیزو حقیقتونو څخه غږېږي، په مشخص ډول مقصد یې دادی چې لرغونو اوسنیو سوچوالو دپوهنې په اړه څه ډول نظرونه وړاندې کړي، که دغه فکر په بل ډول بیان کړم و به وایم چې سوچوالو د افرادو د جسمي، عقلي او روحي استعدادونو د غوړېدلو په مقصد څه ډول نظرونه څرګند کړي دي. د نظریو دغه ډول والی له دې امله چې پوهنه چې د ژوندي عضویت په شان تغیر کوي. کوم ټاکلی او قطعي تعریف نه لري، هغسې تعریف چې په هر مهال او هرځای کې د اعتبار وړ وي.* هغه په داسې حال کې چې خینې دایمي خواص لري، تل تغیر کوي او له نویو غوښتنو او نویو شرایطو سره توافق کوي. (۱) په دغه دلیل پوهنه له یوې کلتوري سیمې نه وبلې کلتوري سیمې ته وړل کېدلی نه شي، خو یوه یې له بلې نه ډېر څه زده کولی شي.

خو پوهنه یوه دایمي پروسه ده، په کور کې د پلار او مور له خوا پیل کېږي، د زده کړې په مرکزونو کې د ښوونکو له خوا په رسمي او منظم ډول تدریسېږي او تر هغه وروسته یې افراد تر مرګه پورې په خپله زده کوي. اغېزمنه پوهنه هغه ده چې افراد یې په پوخوالي کې ترلاسه کوي، په دغې دورې کې فرد د خپلې علاقمنې مطالعې کوي.

پوهنه ټولې هغه اغېزې او عاملونه په حساب کې نیسي چې افراد له محض بیالوجیکي واحدونو نه په اجتماعي واحدونو تبدیلوي، نو ګورو چې پوهنه په اصل کې د انسان د استعدادونو د غوړېدلو لپاره هڅه ده

www.sikaraam.com

او له دې امله هغه مهمه ده او باید مهمه وي، ځکه چې دا انسان دی چې کورنی او ټولنې جوړوي او مدنیتونه او کلتورونه رامنځته کوي، پوهنه د ژوند د ښه کولو لپاره هم یوه اساسي وسیله ده." نه یوازې له ماشومانو سره مرسته کوي چې د لابنه ژوند خاوندان شي، هغه ټولنه اصلاح کړي چې په کې اوسو، هېواد قادرکړي چې د مخه ولاړشي او په نړیوال ډګر کې رقابت وکړي، خو هغه ددې لپاره هم اساسي ده که موږ غواړو په دغه بدلیدونکي، تخنیکي او ساینسي عصر کې ژوندي پاتې شو." له دې امله " پوهنه باید د هغې چې موږ په کې اوسو: خلک د ژوند او بدلون لپاره تیار کړي، ورسره مرسته وکړي چې انکشاف وکړي او توافق کوونکي اوسي، هغه باید ټولو ته ورسوله شي."(۲)

دهمدغه حیاتي اهمیت له امله افراد او ولسونه باید پوهنې ته خاصه توجه وکړي او د ملي سیاست مهمه برخه یې وګرځوي، خو پوهنې ته نه په عنعنوي ټولنو او نه په معاصرو ټولنو کې په دغه اندازه پاملرنه شوې ده. په وروسته پاتې یا عنعنوي ټولنو کې لږ شمېر خلک پوهنه په محسوس او منظم ډول ترلاسه کوي او نورډې ټول افراد یې ټول هغه څه چې ښېل کوي دخپلو کورنیو او ټولنو له غړو نه په نامحسوس او تدریجي ډول زده کوي. ان په پخواني یونان کې هم د ښوونځیو چارې شخصي تشبثاتو ته پرېښودل شوې وې او دولت ښوونځیو ته مقررې ایستلې وې، که څه هم یونانیانو غوښتل د ازادو هم ښاریو یا د یونان د اصلي غړو ټول ماشومان دې زده کړه وکړي. په دې ډول پوهنه په عمل کې د انسان په لومړی خلاندې د موکراسی کې د ارستو کراتانو او خاصانو لپاره اختصاص شوې وه، که څه هم د ټولنې دندې دهغې د اصلي افرادو ترمنځ په پراخې پیمانې سره وېشل کېدلې.(۳)

www.sikaraam.com

په پخوانیو یهودانو کې هم چې پوهنه او قانوني ژوند ډېر د وخته پیل شوی و، پوهنه د پېړیو پېړیو لپاره د کورنۍ دنده وه، چې په بابل کې پاتې چېرته چې دوی له فلسطین نه هلته شړل شوي وو. دغه دنده ورو ورو د عبادت ځایونو یا سنه ګاګ مسئولیت هم وګرځېد لکه چې په اسلامي نړۍ کې هم پوهنه او زده کړه د عبادت ترڅنګه د ماجتونو وظیفه وګرځېده، خو په دغو ټولنو کې بېخي لږو غړو به په ښوونځیو او مذهبي مرکزونو کې عمومي زده کړه او یو څه هم اختصاصي زده کړو کوله په دې مقصد چې یا دفتري چارې اجرا کړي. یا په شعر او ادب کې تبارز وکړي او یا د دیني نصوصو متخصان او مذهبي لاربودان شي

خو په معاصرو پرمختللو ټولنو کې پوهنې هم په کمي او هم کیفي لحاظ تغیر وکړ، دا داسې تغیر و چې ورو ورو عام او ژورېده او د انسانانو په ژوند کې یې انقلابونه راوستل. دغه تغیر هغه وخت محسوس شو چې پوهنه د خاصانو له انحصار نه ووتله او عوامو ته ورسېده. د ملي دولتونو عاملانو په دغې تدریجي پروسې کې اساسي رولونه ولوبول، د خپلو خلکو په غوښتنو او لګښت یې ډول ډول تعلیمي مرکزونه پرانیستل په داسې حال کې چې په ځینو هېوادونو کې د زده کړې شخصي مرکزونه د پخوا په شان هم چالان وو، نویو کشفونو، نویو وسیلو او نویو شتمنیو د دوی لپاره ممکنه کړه، چې پوهنه وار په وار لا زیاته عامه کړي. سواد ټولنې د پرمختګ معیار وګرځېد. اقتصاد پوه، جان ګالبرت په حقه وایي چې ده داسې ټولنه لیدلې نه ده چې افراد یې باسواده او په خپله بېرته پاتې وي.

د پوهنې په عام کېدو سره دا ضروري شوه چې دهغې ماهیت نور هم وسېږل شي او دا چې پوهنه د ډول ډول مرکزونو زده کوونکو ته په کومو لارو، څنګه او د څه ډول ښوونکو له خوا وړاندې شي. ترڅو

www.sikaraam.com

زده کوونکي خپلو استعدادونو ته انکشاف ورکولی شي، دغه فکر تر هربل وخت نه ډېر عام شو. څنګه چې موضوع د انسان پوهنه ده هغه باید د ځمکې پر مخ ټولو انسانانو ته ورسوله شي او که ددغه کار لپاره عملي امکانات د اوس لپاره د ټولو په لاس کې نه وي، لږ تر لږه هغه دې د نویو فکرونو او فلسفه په بڼه ور ورسوله شي. د هغو د ایستلو او فارمو لیزې کولو او د هغو د خپرولو دغه رسالت د سوچوالو مربیونو په غاړه ولوېد. دوی د پوهنې په عامېدو سره هم وکولی شول، چې د ډېرو زده کوونکو سلوکونه په نبغ ډول مطالعه کړي او هم د پوهنې په اړه نوي فکرونه او نوي فلسفې وړاندې کړي، هم په خپله او هم تمرین کوونکي مربیون هغه په ښوونځیو کې تطبیق کړي، نو د دغو سوچونو او فلسفو منځنی ټکی زده کوونکي پوهنه یا انسان پوهنه ده. خو انسان پوهنه ګرانه ده په دې چې دی د نړۍ پر سر ټولو موجوداتو کې پیچلی یو موجود دی، دی تر اوسه په دې بریالی شوی نه دی چې دیوې فلسفې له مخې یا د یوه قانون، یوه نظم او یوه کلتور لاندې ژوند وکړي، دی د زردشت په فکر د اهریمن، دعیسویت له نظره د اصلي ګناه له امله د اسلامي عنعنې له مخې د شیطان د زیګموند فروید په نظر د اید (id) او ایګو (ego) او د سید بهاءالدین مجروح په اند دخان خاني ناوړه ترقوي اغېزې لاندې دی، نو عجبه نه ده چې انسانانو په خپل اوږده تاریخ کې اسماني نصوص، بشري حقوقي منشورونه او قوانین تر ښو لاندې کړي او له یوه بل سره یې بې شمېره خونړي جنګونه کړي او اوس هم په خپل منځي ښېبو کې زیاتره له زور نه کار اخلي، خو له نېکه مرغه دوی په هماغه مهال کې چې ددغو قوتونو تر اغېزې لاندې دي، د ښې مثاله لوړ مغز یا عقلي استعداد خاوندان هم دي، هغې استعداد چې په هغه سره کولی شي، همدغه قوتونه او په مجموع کې خپل ځان او خپل ژوند تنظیم کړي او له

www.sikaraam.com

خپلو همنوعو سره په سوله او ارامۍ کې ژوند وکړي. دا چې انسانانو د طبیعي خطرونو په مقابل کې خپل نسل ته دوام ورکړی او د طبیعت خینې سرکښه قوتونه یې رام کړي. خپل ځان یې له خپل ابتدایي حال نه د مدنیت دغه اوسني پړاو ته رسولی او په خپلو کې یې ژمنه کړې چې په سوله او ارامي سره به ژوند کوي، د همدغه استعداد له برکته ده. له دې امله نوې پوهنه د انسان د همدغه استعداد ودې ورکولو ته په خاص ډول متوجه ده. دغې نوې پوهنې په دې باندې ټنګار اچولی چې د انسان عقلي استعداد ته دغسې وده ورکړي، چې هغه په هغه سره وکولی شي. خپل هغه نور غیر عقلي استعدادونه مهار کړي، خو دا چې دی دغه کار په څه ډول وکولی شي په هغه باندې اتفاق نه شته.

خینې په دې عقیده دي چې زده کوونکي او په نهایت کې انسانان هغه وخت اصلاح کېدلی شي چې اول د هغو چاپېریال یانې ټول هغه فزیکي، عقلي او اخلاقي موثرات تنظیم او کنترول شي. چې په هغو باندې نبه اثر کوي. دغه فکر اول د پخواني یونان اپلاتون په خپل اثر جمهوریت کې وړاندې کړ او زمونږ په وختونو کې په فاشستي او کمونیستي ټولنو کې تطبیق شو. خو هغه په عمل کې ناکام شو. دغه فکر ځکه ناکام شو چې د هغه تطبیق کوونکو د هغه په تطبیق کې له دولتي زور نه کار اخیسته او د نورو فکرونو متعقدین یې خپل او نه یې پرېښودل چې له رسمي فکر یا ایډیالوجی نه پرته په نورو فکرونو معتقد اوسي، نو په دغه یوه کرښه یېز حرکت کې وروستیو د فکر، بیان او عقیدې ازادي یا دخان ځرګندونې اختیار نه لاره.

نور بیا په دې عقیده دي چې د ټولنې اصلاح دهغې د غړو یانې افرادو له اصلاح نه پرته په بل ډول نه کېږي. په دې اړه هم سوچوالان په اتفاق نه دي. دلته هر سوچوال او په واقع کې هرڅوک ازاد دی دپوهنې. انسان او ټولنې په اړه فکرونه وړاندې کړي او نور

www.sikaraam.com

هم ازاد دي چې هغه ومني یا ونه مني. اوس چې د ساینس او ټکنالوجي پرمختګونو له امله ټولنې ډېرې پیچلې شوې او په انسانانو باندې د اټرکولو اغیزې هم ډول ډول او ډېرې شوې دهغه او د هغه ټولنو په اړه هم راز راز فلسفې وړاندې شوې. چې مهمې یې په دغه کتاب کې بیان شوې دي. له همدې امله هم دا یو خو کړنه- ییزحرکت دی. هغسې حرکت چې له ژوندیو انسانانو د هغوی د ژوند له واقعیتونو او تر څه حده د هغوی له تاریخ نه سرچینه اخلي او پرې باندې په ازاد ډول بحث او انتقاد کېږي او عوضو نه یې وړاندې کېږي. په دې ډول د فکر او بیان ازادي او ډله ییز انتقادي بحث د ټولو افرادو لپاره د ټولو هغو مسلو په اړه چې دوی متاثره کوي او خیال او دماغ یې مشغولوي ددغه خو کړنه ییز حرکت نه بیلبدونکې برخه ده، خو مشکل په دې کې دی چې په دغسې دموکراتو او سرخلاصو ټولنو کې. د سرپټو او ضیقو ټولنو پرخلاف. د پوهنې هدف څرګند او ټاکلی نه دی. لکه چې ویل شوي" د معاصرې پوهنې سخته کمزورتیا د هغې د موخو په اړه بې باوري ده." د سپارتا، فیوډالي، جزویت (jesuit). نازي او کمونستي پوهنو کې دغه څه ګډوډ، دوی پوهېدل چې څه غواړي او پرې باندې معتقد وو، په لبرالي دموکراسیو کې پوهنه د هغو په عکس د موخو له نظره په دردناک ډول مبهمه ده (۴) نو څکه یو مربي له مور نه غواړي چې ددغو حیاتي پوښتنو په اړه باید په رغنده ډول سوچ وکړو " څه باید تدریس کړو؟" د پوهنې موخه باید څه وي؟ هغه دې کوم ډول انسان تولید کړي؟" (۵)

د لومړی پوښتنې موضوع تعلیمي نصاب یانې طبعي علوم. اجتماعي علوم، دیني علوم، تاریخ، ادبیات، هنر، فلسفه، ژبې او ټکنالوژي کېږي. د هغو د تدریس په اړه دې دغه ټکی هم په نظر کې ونیول شي (۱) د مضمونونو انتخاب چې په هر تناسب وي د ژبو او

www.sikeraam.com

رياضياتو برخه دې په کې غوره وي رياضيات عقل تــه پـه خـاص ډول انکشاف ورکوي او ژبې د علومو او کلتورونو ترې د زده کوونکــو پرمـخ پرانيزي او په دې يې قادرکوي چـــې هغـه څه چـې اوري او لـولي ښه درک کړي او خپل مطلبونه په دقيق اوسم ډول بيان کړي. (۲) تدريـــس دې د زده کوونکو په مغزو کې د معلوماتو تخته کول نه. بلکـې پـه دې ډول وي چې د هغوی علاقمنی وپاروي او د انتقادي او تحليلي مهارت خاوندان يې کړي. څنګه چې شاګردان په عمومي دوره کـې پـوازې د علومو مبادي زده کولای شي. دغه مهارت يې په دې قادر کــولی شـي چې د علم په زده کړې کې په خپله د مخه ولاړ شي. د علم او غير علـم يانې حقيقت او غير حقيقت ترمنځ توپـير وکـړي او پـه ژوندانـه کـې د ټينګ فکر او ټينګ شخصيت خاوندان شي د تدريس او زده کوونکـو او د هغو د کرکـتر پـه شـکل نيولـو کـې دښوونکـو رول ډېر اغيزمـن وي. ښوونکي د زده کوونکو لپاره تر پلاره او مـور وروسـته سرمشـق وي. نـو لايق. وطن پالونکي ازادي پالونکي انـان پالونکي. متقـي. د پرنـسيپ خاوندان او هدفمن ښوونکي زده کوونکي پـه اغېزنـاک ډول هـڅولی شي چې هم پوهه زده کړي او هم د هغـو دغـه صفتونـه خپـل کـړي. ددغــې ښوونکو روزنه. استخدام او هغو ته کافي معاش دښې پوهنـې د واقعي کولو لپاره حتمي شرط دی.(٦)

داسې دې هم نه وې چې د علومو هغه برخـې پـه تعليمـي نصـاب کې ونه نيولی شي. چې دخپلو په فکر د هغـوی لـه کلتـوري ارزښتونـو سره ټکر کوي دې ته پـام دې وي چـې خپلـې کلتـوري ارزښتونـه او ارخونه دپوهې. پرمختګ او ان ژوند لپاره خنډ کېږي. دغه وينا بـه زه د څو مثالونو په راوړلو سره مشخصه کړم. د سترابو جغرافيه کې ويل شوي چې په سغديانه او اريانه کې بو رواج دا و - هغوی چې دعمر يا ناروغۍ

www.sikaraam.com

له امله له کار نه لوېدل هغو سپانو ته ژوندي اچول کېدل، چې د همدغه مقصد لپاره ساتل کېدل... سکندر دغه رواج ختم کړ."(۷)

په اوستايي دوره کې له خور سره د ورور واده کول مروج و، دغه رواج په غالب احتمال اسلام له منځه وړی. په هند کې رواج و چې ښځو د مېړو په مرګ سره خانونه اورته اچول باني ستي کول او انګرېزانو دغه رواج وخېه. په دې ډول هېڅ کلتور سپېڅلی او ثابت نه دی او هر کلتور تغير کوي نه په کلي ډول بلکې په دې ډول او په داسې حال کې چې خيني اړخونه يې پايېږي، نور يې د بدلونونو له امله له رواج نه لوېږي او وچېږي. داسې هم د هر کلتور خيني اړخونه د ژوند او پرمختګ مرستندوی او خيني يې خنډ کېږي، لکه په هر کلتور کې چې خيني خلک بدلون او پرمختګ غواړي او خيني موجود حال غوره بولي. نو که موږ غواړو په دغې نړۍ کې چې په چټکۍ سره تغير کوي او ملتونه يې په سختې سيالۍ سره بوخت وي، د يوه ملت په حيث ژوندي پاتې شو. حتمي ده چې د خپل کلتور هغه اړخونه وساتو او وده ورته ورکړو چې د پوهې، پوهنې، پرمختګ، شرافتمن او ارزښتناک ژوندي کېږي او هغه خواوې يې پرېږدو چې د هغو لپاره خنډ کېږي. خو دغه څه دقيق اوسم تشخيص غواړي او سم تشخيص هغوی کولی شي چې خپل خلک، خپله ټولنه او خپل کلتور دعلم او عمل له لارې پېژني

زموږ په عصر کې دا پوهنه ده، چې د افرادو لپاره په اساسي ډول دغه امکان برابروي، اوس هغه دوه وروستی پوښتنې د بحث موضوعګانې کېږي. دغه دواړه پوښتنې په اصل کې يوه موضوع ده او هغه دا چې پوهنه انسان ته دغه مقصد لپاره ښوونه وکړي؟ زده کوونکي ته د پوهې وړاندې کول د پوهنې په ظاهر کې اسان او څرګند مقصد دی چې ددغه اثر مهمه موضوع ده، خو دا يې يواځينی

www.sikaraam.com

مقصد نه دی  په عمومي ډول د پوهنې مقصد د انسان وده او غوړېدنه وه. دا هم د همدغه عمومي ودې يوه برخه ده چې دی د خپلې کورنۍ، خپلې ټولنې او نړيوالو ټولنو له غړو سره ښه سلوک وکړي، هغوی خپل هدف وګڼي يا د خپلو شخصي موخو لپاره وسيلې؟ دا اسانه نه ده چې د ريمانويل کانت په پيروی وويل شي چې " فرد دې هدف وي او له هغه نه دې د وسيلې په حيث استفاده ونه شي " لکه چې ديوې بلې وينا له مخې له فرد نه غوښتل کېږي چې له نورو سره هغسې سلوک وکړه چې غواړې نور له تا سره هماغسې سلوک وکړي".

دغه ويناوې د طلايي قوانينو په شان دي، خو نه عادي افرادو او نه هم دولتي چارواکو د هغو له مخې تر اوسه عمل کړی، که څه هم چې هغه دملي او نړيوال ژوندانه لپاره پوخ بنسټ کېدلی شي. خو هغه تر اوسه ايډيالونه دي. هغسې ايډيالونه چې د واقعي کولو لپاره يې بايد په پراخه پيمانه کار وشي، ددغه کار لپاره ضرورت اوس ډېر پېښ شوی دی، دساينس او تکنالوجۍ پرمختګونو په هماغه مهال کې چې د انسان ژوند ښه کړي، مدنيت او ان ژوند يې هم له نابودۍ او خطر سره مخامخ کړی. سربېره پر دې چې جنګونه يې د انساني تلفاتو او ورانيو له نظره تر هر بل وخت نه خطرناک کړي دي، دغه ايډيالونه شايد هغوی واقعي کولی شي. چې پوهنه  د هغوی هسکېدنه خپل مقصد وګرځوي او د تاماس هکسلې (Thomas Huxley) په نظر دغسې انسان ټولنې ته ورانديې کړي چې " د هغه دماغ د طبيعت او د هغه دعملياتو د قوانينو له لويو او اساسي حقيقتونو نه ډک وي، هغه چې ، په زړه کې يې د ژوند لمبه وي، خو جذبات يې ټينګې ارادې او اراده يې د زړه سواندې وجدان پيروي کوي، هغه چې زده کړې يې وي په ټولې ښکلامين وي. د طبيعت يا هنر، له ټولو بديونه بېزاروي او نورو ته په هغسې درنه سترګه ګوري لکه چې خپل خان ته ګوري " (٨)

www.sikaraam.com

نوې پوهنې دغسې انسانان او د هغو په شان انسانان هسک کړي، یا د هغو په هسکولو کې یې بېخکې رول لوبولی دی، خو د هغو شمېر اوس هغومره لږ دی. لکه په عنعنوي ټولنو کې چې د تعلیم کړو شمېر لږ و. مهمه داده چې پوهنه د غه توان لري. البته دا یوازې د پوهنې کار نه دی، هغه په اوله درجه کې د خلکو او حکومتونو کار دی، لکه چې پوهنه هم ددوی په اختیار کې ده. نو دوی ټول باید د هغه اهمیت له امله چې پوهنه یې د ژوند په ښه کولو کې لري هغه د ملي سیاست غټه برخه وګرځوي. نه یوازې دا چې پوره یې عامه کړي. بلکې ډول ډول اوښه یې هم کړي. په دې هکلــه هیله شته او هغه دا چې د انسان ذکاوت مخ په زیاتېدونکې درجه انکشاف کولی شي. لکه چې ددماغ عصبي حجرې چې سوچ کوي او یاد ساتي د انسان د ژوند په دوره کې هم جوړېږي او د زېږېدو په وخت کې سل میلیارده وي. ساینس پوهې الیزابت ګولډ او نورو دغه کشف نوی تثبیت کړی، په داسې حال کې چې پخوا فکر کېده چې د انسان د ژوند په بهیر کې نوې عصبي حجرې نه جوړېږي. په هرحال " ذکاوت کوم ټاکلی مقدار نه دی، په ښو شرایطو کې وده کوي، څنګه چې دخلکو حال لاښه کېږي، دوی نور هم مستعد کېږي او په همدې ډول څنګه چې یو ملت لا شتمن کېږي ددغسې کړو توان پیدا کوي چې په هغو سره دخپلو خلکو ذکاوت ته انکشاف ورکړای شي "(۹).

داسې هم " لوړ ذکاوت له اخلاقي تینګښت، ابتکار، خیال او ټولنیزو صفاتو سره په لوړه اندازه تړاو لري "(۱۰). په نورو لفظونو څومره چې افراد اخلاقي، ابتکاري، له تصور او تخیل نه ډک او اجتماعي کېږي ذکاوت یې په هماغه اندازه لوړېږي. نو خلک او حکومتونه باید د پوهنې چارواکو ته داسې امکانات برابر کړي چې

www.sikaraam.com

هغوی خپل بیخکي رول ولوبولی شي یانې نــه یــوازې پوهــه تدریــس کړي، بلکې اخلاقي او بدني شعور هم قوي کړي.

زده کوونکو ته اخلاقي او مدني ارزښتونه وړاندې کـول او هغـوی دې ته هڅول چې خپل کړه وړه د هغو لــه مخــې عیـار کـړي د یـوې ټولنې په کلتور پورې ارتباط پیدا کوي، خو پــه دې برخـه کـې ځینـې قاعدې او ان ځینې ارزښتونه عام وي. د مثال په توګه زده کوونکی تــر دغــې انضباط لاندې نیول چې د هغو لپاره د زغم او منلو وړ وي او دا چې هغه په پای کې د هغوی شخصي انضباط وګرځي. داسې هـم ټول هغه څه دې وشي چې د هغو په نتیجه کې اجتماعي وجـدان ټینـګ او د هغه پرعکس افراطي فردیت مهارشي، خو د دغــې فردیـت مـهارول دې داسې نه وي چې افراد په ټولنه کې تر دې حده پورې تخته کـړل شي چې ځان واکي له لاسه ورکړي او ماموران وګرځي. افراد چې پــه ځان واکمن، فعال او ازاد وي ټولنه هم هماغســې کـبدلی شـي. خـو " یوڅوک باید زموږ ماشومان پــه دې قـادر کـړي چـې پـوه شـي چـې د همدغې خمکې په سر ده چــې دوی ژونـد کـوي او دا چــې پـه هغـې باندې ژوند کول د معیارونو له رعایت نه پرته ګران وي."(۱۱). دا چــې دوی دمعیارونو له مخې ژوند وکولی شــي بـاید پـه خپـل ځان بـاندې واکمني کول او خپل ځان تر انتقادي کتنې لاندې نیول یې زده کـړی وي، دغه سلوک دلویانو، چارواکو او مشــرانو لپـاره لا ډېر ضـروري وي، ځکه چې د دوی کړه زیاتره خلک متاثره کــوي، دوی ټول پـه دغــې ټولنو کې پر ځان واکمن اوخپلواک کېدلی شي چــې چلوونکـي یـې د خپلو غړو په اتفاق هـک شوي او د قانون حکومت نه هغـې غاړه ږدي لکه چې افراد ورته غاړه ږدي. دموکراسي او د قانون حکومت په هغــو ټولنو کې بیخ نیولی شي چې کورنیو او تعلیمــي موسســو یـې ماشـومان دهغه په تمرینونو عادي کړي وي.

www.sikaraam.com

په دغسې حال کې ددې امکان ډېرېږي چې د فرد او ټولنې هیلې او ادعاګانې ارضاشي، دارضا او پیوستون درجه په پخوانې یونان کې ډېره لوړه وه. اوسنیو پرمختګونو دغه ارضا په پراخه پیمانه ممکنه کړې ده. خو اصلي خبره په انسان او دهغه په مقصد کې ده. که انسان دغسې لاره ونیسي چې هلته فرد موخه وګڼل شي، نه دا چې هر فرد د خپل خان خپله موخه وګڼي، که دولت ته اجازه ورکړل شي چې خپل بشپړوالی وساتي خو دا په نظر کې ولري چې هغه ددې لپاره دی چې انسان ته خدمت وکړي. ټولنه او فرد به په لوړه درجه راضي شوي وي، په دغه حال کې د پوهنې موخې به دا وي چې "اخلاقي انسان او اخلاقي ټولنه تولید کړي. داسې چې په هر یوه کې به موخه له خان نه د باندې وي" (۱۲) بیا به لکه څنګه چې اپلاتون هیله کوي، موږ په دې قادر شو چې دماشومانو سترګې د هغه پر لورې واړوو چې ښه او ښکلی وي او له "غیرمحسوس او نه لیدونکي" نه لرې وساتو ددې لپاره چې دوی" له هغه سره چې عقلي او حق وي په خواخوږي او مطابقت سره لوی شي" (۱۳) اوس ددې وخت دی چې هغه درانه ښاغلي په قدر یاد کړم چې ددغه اثر قدر یې کړی او د افغانستان د کلتوري ودې ټولنې په لګښت یې خپور کړی دی. نو له ښاغلي زرین انځور او د هغه له ملګرو نه مننه کوم چې د نورو فرهنګي خدمتونو ترڅنګ یې دغه خدمت هم کړی دی. داسې هم له محترم محمد اسمعیل یون نه مننه کوم چې دیوه هدفمن او زحمت ایستونکي ښوونکي په حیث یې له دغه اثر سره خاصه علاقمنې ښوولې او په پېښور کې یې له چاپي تېروتنو نه غبر را ایستلی دی

محمدحسن کاکړ

کانکورډ، کلیفورنیا

فبروري، ۲۰۰۲

www.sikaraam.com

# یادښتونه

۱ لسترسمت. پوهنه. پنګون خپرونه، ۱۹۷۱، مخ ۷

۲ جان ویزي، پوهنه د سبا لپاره، پنګون خپرونه، ۱۹۶۷. مخ ۱۲

۳ ای. کاسل، پخوانی پوهنه او نن ورځ، پنګون خپرونه، ۱۹۶۱. مخ ۲۳

۴ ام، جغریز. دقول نقل په سمت کې یادشوی اثر ، ۳۰

۵ رچرډ لونګستون. د قول نقل په سمت کې یادشوی اثر،۳۱

۶ دمولف او مربي کاسل (۱۹۸) په نظـر دښه ښوونکـي صفتونـه دادي ښه ښوونکی هغه څوک دی چې په دې پوهیږي چې هغه وخت چې دی لـه پوهنتون یا روزنیز کالج نه فارغ شو هغه د پوهنې پیل دی، حتمي ده چې دی باید په اجتماعي او داسې هم په اکاډمیک لحـاظ. یـو ښـېر تعلیم کړی شخص دی. انسان پخوا له دې چې ښوونکی دی: او انـــان چې د انکشاف وړ وي نه دا چې له خپل خاص تخصص سره تل بوخـــت وي: د خپل مهال له مروجو نظریو سره اشنا، څکه چې دی د هغې نـوې پوهې ترجمان او د هغې په ساده ژبــه ویونکـی دی. چــې دهغـه خپـل مدنیت نه شکل ورکـوي او پـه ژده کوونکـو بـاندې پـه نامتناسـب ډول هجوم کوي، په همدې دول دی د ارزښتونو ارزوونکی دی، څکه چې د نویو واقعیتونو په برابر کې سلوکونه او نویو تجربو نه انتقادي کتنــه بـاید دده له لارې وي."

۷ فرنک هولت، تندرغورځوونکی زیوس، د یوناني شوې باختر جـــوړول، د کلیفورنیا پوهنتون خپرونه، برکلي، لندن، ۱۹۹۹، مخ ۱۸۳، دغه مولـف د سترابو جغرافیي خینې پارکې په خپل اثر کې نقل کړي دي

۸ کاسل، یادشوی اثر، ۱۹۶

۹ جان ویزي، یاد شوی اثر، ۱۱۳

۱۰ کاسل، یاد شوی اثر، ۲۰۳

۱۱ پورته اثر، ۲۰۹

۱۲ پورته اثر، ۲۰۷

۱۳ پورته اثر، ۱۹۲

www.sikaraam.com

# سریزه

په تېرو څوکلونو کې که څه هم د پوهنې فلسفې د خاص ماهیت په اړه ډېرې لیکنې شوې دي. زه په دغه ضرورت باندې قانع شوی نه یم چې خپل نظر واړوم په لنډ ډول زه د پوهنې فلسفه د ټولنیزې اوسیاسي فلسفې په ښان. د صوري یا شکلي فلسفې یوه څانګه ګڼم. لکه چې په دغه اثر کې مې ښودلې. په هغو ایډیاګانو سره تعدیل شوې چې د پوهنیز تثبیت له نورو ډګرونو څخه هسکې شوې دي. زه داسې هم د تحلیلي طریقې پر خلاف له منظمې طریقې نه کار اخلم. په داسې حال کې چې څېړونکې مفهومونه توټې کوي. زه په خپله هم کله کله داکارکوم. زه غوره ګڼم چې هغه بېرته سره غونډ کړم. زه د تحلیل ګر کار ته ارزښت ورکوم او حتمي یې ګڼم. خو زه ترکیب ته لاهم ډېر ارزښت ورکوم. په دې فکر چې هغه زما په نظر نهایي ایډیال دی. په تېره د تړدې نه کنټرول کېدنې تخصصي کېدنې په عصر کې.

زه په دغه دويم چاپ کې د پوهنې او ارزښت پر موضوع ګانو باندې لاډېر لنګر اچوم او د فلسفې په شکلي کټه ګوریو باندې یو څه لږه زوره کوم زه دغه څه په ډېره لږه اندازه د هغې ډېر ، سامانې په خواب کې کوم چې شخصي او همدا راز معرفتي پوهې ته او د هغه څه چې زده کېږي انساني او اکاډمیك ارزښت ته کېږي.

زه دوه بېل فصلونه دشته والي فلسفې او تحلیل ته تخصیصوم. په دې چې د فلسفې کونو د نویو طرزونو په باب هر چېرې تېنګه علاقمنې ښودل کېږي. ما دشته توب پالانو دخپلو لیکنو پر اساس د



www.sikaraam.com

لیکنې په کولو سره لومړنۍ شتمنه کړې خو یوازې په نسبي ډول په څو موضوع ګانو کې چې دوی په پوهنې باندې دشته توب له نظره فکر کړی دی. په تحلیل باندې نوی فصل دمنطقي امپرسیزم یا تجربي طرز له تمرکز نه د منطق. ژبې. او تحلیل د استعمال ځایونو ته انتقال کوي. دلته مې دوه کوچني تحلیلونه له خپل ځان نه اضافه کړي:
"برابري" او "تدریس."

دغه چاپ دلومړني چاپ په شان دهغو فصلونو تثبیت دی چې په اصل کې مې دیوه کتاب لپاره برابر کړی و. دپوهنې په نامه بنسټونه (۱۹۷۱). دلته مې مقصد هماغه دی چې و. یانې داچې دښوونکي تحصیلي موسسو لپاره دغسې یو کتاب برابر کړم چې تاکلې موضوع د موجود وخت په چوکاټ کې میسره وي. په تېرې لسیزې کې که څه هم د پوهنې فلسفې مطالعه تریخوا لا ډېره پراخه شوې. امریکا یې کالجونو او پوهنتونو نه په عمومي ډول له اروپايي کالجونو اوپوهنتونو څخه په دې کې وروسته پاتې دي چې و بنېي فلسفه د پوهنې د پوهاوي لپاره څومره ژوره مرسته کولی شي. هیله کوم چې دغه اثر به دغه نېمګړتیا تر یوه حده پوره کړی شي.

جارج ف. نیلر

دکلیفورنیا پوهنتون، لاس انجلس

اپریل . ۱۹۷۱

www.sikaraam.com

# لومړی څپرکی

## دفلسفې مناسب توب

هر ښووونکی او زده کوونکي يو وخت بل وخت له ځان نه داسې پوښتنې کوي چې هغه په ضمني ډول فلسفي دي. ښووونکی تعجب کوي چې " زه ولې درس ورکوم؟ څه ته تاريخ تدريسوم؟ تدريس چې دېر ښه هم وي نو څه شی دی؟ " او زده کوونکي پوښتي چې ولې الجبره زده کوم؟ دڅه لپاره ښوونځي ته ځم؟ " دغه پوښتنې چې پوره وړاندې يووړلی شي فلسفي کېږي. دا ټولې د انسان او طبيعت په اړه او د پوهې ارزښت او ښه ژوند په هکله پوښتنې دي.

### دفلسفې طريقې

دفلسفې په اړه له بده مرغه يو ځانګړی او روښووونکی تعريف ورکول کېدلی نه شي نو ژاخې چې فلسفه په درې طريقو يا اسلوبونو کې د فعاليت په څېر وګڼو: نظري، توصيوي او تحليلي.

### نظري يادتيوري فلسفه (Theoretical Philosophy) :

نظري فلسفه د هر هغه څيز په اړه چې شته سوچ کول دي فليسوفان څه له غواړي دغسې وکړي؟ ولې د ساينس پوهانو په څېر په دې قانع نه دي چې د حقيقت خاص اړخونه مطالعه کړي؟ ددې پوښتنې ځواب دادی چې د انسان دماغ غواړي څيزونه په ټوليز ډول وګوري غواړي پر دې پوه شي چې ټول هغه بېل بېل څېزونه چې کشف شوي دي څنګه يو ډول مفهوم لرونکي کل جوړوي. موږ په خپل ځان کې له دغه ميلان څخه خبر لرو کله چې موږ کوم کتاب لولو، يوه انځور ته ګورو يا ديوې راسپارلې شوي دندې مطالعه کوو موږ يوازې له خاصو جزييياتو سره سر او کار نه لرو بلکې له هغسې نظم يا طرح

سره هم سره ک ر لرو چې دغو جزئیاتو ته اهمیت ورکوي نو نظري فلسفه د نظم او پوره والي لپاره پلټنه ده چې يوازې په کومو خانګړو موضوع ګانو یا تجربو باندې نه بلکې په ټولې پوهې یا ټولې تجربې باندې تطبیقېږي. لنډه دا چې نظري فلسفه د سوچ او تجربې په ټول ډګر کې د تړاو د پیدا کولو لپاره کوښښ دی.

## توصیوي یا دستوري فلسفه: (Prescriptive Philosophy)

توصیوي یا دستوري فلسفه د ارزښتونو د تخمین کولو په سلوک باندې د حکم کولو. او د هنر د ارزولو په منظور د معیارونو را ایستل پلټي. توصیوي فلسفه هغه څه پلټي چې موږ ورته ښه او بد. سم او ناسم ښکلي اوناشولته وایو. پوښتي چې که دغه خاصیتونه په څیزونو کې نغښتي دي یا زموږ د دماغونو نقشې دي؟ د تجربې ساهپوه لپاره د انساني سلوک ټول ډولونه په اخلاقي لحاظ نه ښه اونه بد دي. بلکې یوازې د سلوک هغه ډولونه دي چې باید په تجربې ډول وکتل شي. خو د روزونکي او توصیوي فیلسوف لپاره د سلوک ځینې شکلونه ارزښتناك دي او نور یې ارزښتناك نه دي. د دې لپاره چې فیصله وکړي کوم خاصیتونه او عملونه تر ټولو ډېر ارزښتناك دي او څه له باید دغسې وي غوارې اصول کشف کړي اوسپارښتنه یې وکړي.

## تحلیلي فلسفه (Analytic Philosophy)

تحلیلي فلسفه کلمو او مانا ته توجه کوي. تحلیلي فیلسوف د دې لپاره چې د هغو بېلوبېلو ماناګانو ارزونه وکړي چې بېلو بېلو قرینو ته یې وړي دغسې مفکورې مطالعه کوي لکه "علت" ، "دماغ" "درسي ازادي" اود "فرصت برابري" هغه ښیي چې څه وخت چې ماناګانې دځینو قرینو لپاره ناسمې وي نورو قرینو ته یوړول شي. تناقضات

www.sikaraam.com

څنګه ممکن پیدا شي. تحلیلي فیلسوف دفکري سیستمونو په ایستلو کې شك . احتیاط . او بې میلي ښکاره کوي.

تحلیلي طریقه اوس په امریکایي او انګلیسي فلسفې باندې مسلطه ده. د اروپا په لویه وچه کې نظري عنعنه غلبه لري خو سوچ وهل چې تحلیل ورسره ملګري نه وي په اساني سره دخپل ځان هسك ته خېژي. بې له دې چې له هغې نرۍ سره تړاو ولري چې موږ په کې اوسو. په داسې حال کې چې تحلیل چې مجرد سوچ کول (Speculaton) ورسره ملګري نه وي جزییاتو ته کوزېږي. او شنډېږي. خوهره طریقه چې په هر مهال کې په هره هسکه کې چې وي. ټول فیلسوفان په دې باندې موافقه لري چې ټولې طریقې د فلسفې د روغتیا لپاره مرسته کوي. په هر حال. یو څو فیلوسوفان یوازې نظري. یا یوازې توصیوي یا یوازې تحلیلي وي. سوچ. توصیه او تحلیل ټول ترڅه اندازې د ټولو فیلسوفانو په اثارو کې وي.

## فلسفه او ساینس

د هغو موضوعاتو په اړه چې فلسفه پرې بحث کوي. په تېره انساني ماهیت بېلوساینسونو تر زیاتې اندازې پورې واقعیتونه اومعلومات غونډ کړي دي خو څه وخت چې موږ دغو معلوماتو له ګورو مومو چې ساهپوهنه (psychology) دانسان لپاره یوه بڼه. ټولنپوهنه (sociology) بله بڼه او بیالوجي بله بڼه انځوروي. داسې هم نور علوم په نظر کې ونیسي

هغه څه چې موږ یې لرو دادي: وروسته له دې چې ټول علوم لټول شوي وي له هغو نه د انسان یوه ترکیبي بڼه نه. بلکې یو لړ بېلې بېلې بڼې راوتلي وي. دغه شکلونه قناعت بښوونکي نه دي ځکه چې هغوی د انسان بېل بېل اړخونه شرح کوي نه انسان د یوه پوره واحد په حیث.

www.sikaraam.com

ایا کولی شو چې د انسان دغه نیمګړې بنې په یوه دغسې نوي شکل کې واچوو چې هغه یو او پوره وي؟ موږ د فلسفې له لارې کولی شو چې د ساینس دغه بېل کشفونه سره یو کړو او هغه اساسي مفهومونه سره وتړو چې همدغه کشفونه یې د مخه فرض کوي.

فیلسوف هغه مسالې تر خپلې کتنې لاندې نیسي چې ورروسته یا دمخه تر هغه راولاړېږي، چې ساینس پوه خپل کار سرته رسولی وي. دمثال په توګه عنعنوي ساینس پخوا تر پخوا فرض کوي چې هره پېښه د نورو پېښو له امله پیداکېږي، او هغه بیا په خپل وار د نورو پېښو علت کېږي. په دې ډول هېڅ پېښه دساینس له نظره بې علته نه وي. خو موږ پر دغه عمل څنګه باور لرلی شو؟

ایا علت او نتیجه په نړۍ کې شته یا انسان یې په نړۍ کې په همدغه ډولویني؟ دغو پوښتنو ته دساینس په خولې خواب ورکول کېدی نه شي. ځکه چې علیت (Causality) کوم کشف نه. بلکې هغه دساینس فرضیه یا ګڼنه (assum ption) ده. تر څو چې ساینس پوه دا ونه ګڼي چې حقیقت په طبیعت کې علیتي دي. دی هغه پلټلی نه شي.

بله داچې ساینس له څیزونوسره په دې ډول سلوك کوي چې هغه زموږ حواسو او زموږ وسیلو ته څرګندېږي. خو څیزونه په خپل ذات کې په رښتینې توګه هماغه دي لکه چې موږ ته څرګندېږي؟ ساینس پوه ویلی نه شي. ځکه چې څیزونه په خپل ذات کې د خپلو ظواهرو په خلاف، د تعریف له مخې له تجربې تائید ځخه اخوادي.

نو فلسفه د انسان لپاره هم طبیعي اوهم ضروري ده موږ دغسې پوره چوکاټ دتل لپاره لټوو چې په هغه کې به ممکن زموږ بېلوبېلو کشفونو ته یو کلي اهمیت ورکړل شي. فلسفه نه یوازې له هنر. ساینس او تاریخ سره د پوهې یوه څانګه ده. بلکې هغه په واقع کې په نظري خواوو کې هغوی په خپلو غبرې کې نیسي او د هغو تر مینځ د تړاوو

www.sikaraam.com

دموندولو لپاره کوښښ کوي. يو ځل بيا. فلسفه کوښښ کوي د تجربې په سرتاسري قلمرو کې تړاو تثبيت کړي.

## دپوهنې فلسفه

فلسفه په خپلې موضوع برسېره د پوهې دنورو ځانګو اساسي ګنګې هم تر بحث لاندې نيسي. څه وخت چې فلسفه ساينس ته پام اړوي، موږ ته دساينس فلسفه په لاس راځي: څه وخت چې د حقوقو په اساسي مفکورو بحث کوي موږ ته د حقوقو فلسفه په لاس راځي؛ او څه وخت چې له پوهنې نه بحث کوي موږ بيا د پوهنې فلسفه يا پوهنيزه فلسفه لرو.

هغسې چې صوري فلسفه (Formal Philosophy) کوښښ کوي په حقيقت باندې د يوه کل په شان پوه شي، او په ډېر عمومي او منظم ډول يې شرح کړي. داسې هم پوهنيزه فلسفه کوښښ کوي چې پوهنه په کلي ډول درك کړي او په دغسې مفکورو سره يې تعبير کړي چې هغه به زموږ د پوهنې د اهدافو او سياستونو د انتخاب لپاره لارښود وګرځي. په هماغه ډول چې عمومي فلسفه د بېلو بېلو ساينسونو کشفونه تنظيموي، پوهنيزه فلسفه دغه کشفونه هغسې چې په پوهنې باندې اثر کوي، ساينسي تيوري ګانې پوهنيز استنتاجونه له ځان سره نه لري. هغه تر هغو چې په فلسفې ډول کتل شوي نه وي په پوهنيز ډګر کې نه تطبيقېږي.

پوهنيزه فلسفه په عمومي يا صوري فلسفې باندې تر هغه حده متکي ده چې د پوهنې مسالې دعمومي فلسفې خصوصيت وي. موږ تر هغو چې دغه لاندې عمومي فلسفې مسايل تر بحث لاندې نيولې نه وي په موجودو پوهنيزو سياستونو باندې اعتراض کولی نه شو.

۱ـ دښه ژوند ماهيت چې پوهنه بايد دهغه پر لور لاره شي.

www.sikaraam.com

۲_ په خپله د انسان ماهيت څکه چې دا انسان دی چې موږ پوهنه ور زده کوو

۳_ دټولنې ماهيت څکه چې پوهنه يوه اجتماعي عمليه ده.

۴_ د نهايي حقيقت. ماهيت چې ټوله پوهه غواړي په کې نفوذ وکړي په دې ډول پوهنيزه فلسفه دنورو خيزونو په طرز کې د پوهنې په ډګر کې د صوري فلسفي تطبيق کيږي.

پوهنيزه فلسفه دعمومي فلسفې په شان نظري، توصيوي او تحليلي ده. پوهنيزه فلسفه په دې نظر ده چې کوښښ کوي د انسان، ټولنې. او نړۍ په اړه تيوري ګانې وباسي چې په هغوسره د پوهنيزې پلټنې او سلو کې ساينسونو سره ټکر کوونکي واقعيتونه يا واقعې معلومات (data) تر نظم لاندې راولي او تعبير يې کړي، پوهنيزه فلسفه هغه وخت توصيوي کيږي چې هغه هدفونه مشخص کوم چې پوهنه يې بايد ترسره کړي او هغو ته د رسېدو لپاره له عمومي وسايلو نه کار اخلي هغه بيا هغه وخت تحليلي کيږي چې نظري او توصيوي تيوري ګانې روښانه کوي. لکه چې وروسته به يې ووينو تحليل ګر زموږ د پوهنيزو نظريو او طريقو معقوليت، له نورو نظريو سره د هغو توافق اوهغه طريقې تر بحث لاندې نيسي چې زموږ په سطحي فکر سره مسخ کيږي. دی زموږ دمفکورو منطق او په هغو واقعي معلوماتو باندې چې غواړي شرح يې کړي د هغو ناکافيتوب ازمييي. هغه تر هر څه ډېر. کوښښ کوي هغه بېلې معناګانې رڼې کړي چې په پېچلو پوهنيزو اصطلاحاتو پورې تړلې شوي وي لکه "ازادي" ، "توافق"، "وده"، "تجربه"، "ارتياوې"، او " پوهه" اوس موږ دې ته تيار يو چې د فلسفې بېلې بېلې څانګې په تېره ميتافزيک (metaphysics) وڅېړو په دې چې دغه څانګې په پوهنې پورې اړه لري.

www.sikpraam.com

## دحقیقت ماهیت

میتافزیك په عمومي ډول دنظري فلسفې څانگه ده. دهغه مرکزي ټکی دحقیقت نهایي ماهیت دی. میتافزیك غواړي دغسې پوښتنوته ځوابونه ووایي: ایا کاینات کومه عقلي طرحه لري، یا هغه په نهایت کې یو بې مانا ځیز دی؟ ایا هغه چې موږ یې دماغ گڼو په خپل ذات کې حقیقت دی، یا محض دحرکت په حال کې یو شکل دی؟ ایا دټولو ژوندیو موجوداتو سلوك په علیتي ډول سره ټاکل شوی دی. یا ځینې موجودات لکه انسانان د ازادي کومه درجه لري؟

ډیرخلك دساینس په هسکېدو سره په دې فکر کې شول چې میتافزیك نور نو له رواج نه ولویږ. ساینسي فکرونه ددوی په فکر دباور وړ دی. ځکه چې هغه اندازه کېدلی شي. په داسې حال کې چې میتافزیکي نظریې نه دتصدیق وړ معلومېدلې او نه هم په عمل کې تطبیق کېدلی شي. خو نن ورځ موږ پوهېږو چې میتافزیك او ساینس دواړه بېل فعالیتونه دي او هر یو په خپل ذات کې ارزښتناك دی. دواړه دعمومي ویناوو او حکمونو دکولو په لټه کې دي. خو میتافزیك له دغسې مفهومونو څخه بحث کوي چې دهغو بېلگې ټاکل کېدلی نه شي لکه: "حقیقت"، "تغیر"، "ځان" او "روح"

دا ددې مانا نه لري چې میتافزیکیان دساینس پروا نه کوي. برعکس ساینس په خپله دحقیقت دماهیت په اړه چې میتافزیك یې دحل کولو په لټه کې دی مسایل پیداکوي. ساینس هم په میتافزیکي گڼو باندې ډېره کوي. ډېر خلك دغه واقعیت نه درك کوي. الفرید نارت وایټ هید (Alfred North Whitehead) په خپل یواثر کې چې دایډیاگانو ماجرا (Adventure of Ideas) نومېږي وایي چې "هېڅ ساینس له غیر شعوري


www.sikaraam.com

میتافزیك نه چې هغه په‌ضمني ډول سره پخوا تر پخوا فرض کوي زیات مصون کېدلای نه شي" هستوي فزیك پوه مایکس پلانك(Max Planck) ورسره سر خوږوي.

" ساینسي علمي تصویر چې په تجربو سره لاسته راغلی وي، تل یوازې یو نږدې اټکل پاتې کېږي. لږو ډېرښه وپښل شوي ماډل او څنګه چې دهر مادي څیز شاته یو احساس شته دی. نو دهر څیز شاته چې انساني تجربه یې حقیقي بڼې یو میتافزیکي حقیقت پروت دی.(۱)

زموږ ډېرو سترو ساینس پوهانو دالبرت انشتاین په شمول دخپلو ساینسي کشفونو په پایله کې خانونه اړیدلي چې میتافزیکي مفکورې تر فارمول لاندې راولي.

داسمه ده چې څیني فیلسوفان میتافزیك پالتو څیز ګڼي، دوی خپل پام منطق او دپوهنې تیورۍ ته اړوي، دغه دریځ دمدافعې وړ دی، خو ډېر عام نه دي، ډېر فلسوفان پر دې عقیده دي چې دمنطق او پوهې تیورۍ خامخا له میتافزیکي ګڼنو څخه راوځي. دبرتراند رسل (Bertrand Russell) په فکر په هر فلسفي لیکوال کې یوپټ میتافزیك شته دی، چې په معمولي ډول غیر شعوري وي. حتی که دهغه موضوع میتافزیك هم

(۱) " میتافزیك کره اغېزمن کوي. نه یوازې په طبیعت باندې دکنترول په کولو سره، نه دفزیکي وسیلو په ورکولو سره چې دیبلو ببلو موخو لپاره به ترېنه کار واخیستل شي. بلکې نظریو ته دشکل په ورکولو سره په دې اړه چې طبیعت څه شی دی او هغه څنګه باید کنترول شي، دمناسبو هدفونو په ښودلو سره هغه دغه څه داخلاقیاتو دتیورۍ له لارې کوي چې د ارزښتونو په بناوي او دشته والي او پوهې په هکله دنظریو په تیولې باندې بناوي"

میکس پلانك

www.sikaraam.com

وي، دی نړدې په یقین سره دعقیدې دغسې یو غیر انتقادي سیستم لري چې دهغه څرګند استدلالونه پرې باندې دده لګوي.

میتافزیك په دې نړدې کلونو کې خپل پخواني دریخ تر ډېره حده بېرته ګټلی دی. ساینس بې له شکه ډېر مادي پرمختګ کړی، خو که حتی دانسان ټولې مادي اړتیاوې هم پوره شوي وي، دی په دغې نړۍ کې پوره ارام نه دی، انسان په طبیعت کې یو میتافزیکي موجود او ددغسې هڅې خاوند دی چې غواړي دعمومي پوهې له بېلو بېلو ډګرونو او شخصي تجربو څخه دڅیزونو دنهایي ماهیت په اړه یو څه پوهاوی تر لاسه کړي.

## میتافزیک او پوهنه

میتافزیکیان په پوهنیزې تیوري او عمل کې ددغسې پوښتنو په اړه بحثونه لټوي چې علمي ځوابونه نه لري. دمثال په توګه دغه میتافزیکي پوښتنه چې دانسان ژوند کومه موخه لري او که نه، اوکه یې لري دهر بیالوجیکي تکامل په مطالعه کې څه شی په ضمني ډول پروت دی؟ که یو محصل دتکامل په مطالعه کې دې نتیجې ته ورسېږي چې دده ژوند یوازې هغه وخت مفهوم لرلی شي چې شخص دی یې ور پورې وتړي، په دغه حال کې دی باید له ځان نه وپوښتي چې په خپل ژوند کې کومه غایه وځاري. دمیتافزیکي دریځ غوره کول به په دغسې پوښتنو کې ورسره مرسته وکړي. بیا هم ددماغ دماهیت موضوع په نظرکې ونیسي. ښوونکي زیاتره وایي" که سباوون خپل دماغ خپل درس ته متوجه کړي په ښوونځي کې به هیڅ ستونزه ونه لري" دښوونکي په نظر دماغ دلته څه مانا لري؟ ایا دماغ له جسم نه بېل دی؟ دواړه څنګه یو له بل سره تړلي دي؟ ایا دماغ دفکرونو رښتینې سرچینه ده؟ ممکن هغه څه چې موږ یې"دماغ" بولو ځانته یو


www.sikaraam.com

خانګړي واحد هېڅ نه وي. فزيولوجيکي او دساپوهنې مطالعاتو موږ ته مشخص حقايق را په لاس کړي دي او دسايبرنيك پوهانو (cyberneticians) دماغ يا مغز له کمپيوټر سره پرتله کړي دي، خو دغسې پرتلې سمې نه دي. هغه دماغ دنهايي ماهيت په اړه موږ ته قناعت نه راکوي. بيا هم دلته په ميتافزيك پاندې پوهېدل اوپه ميتافزيکي ډول سره فکر کول له ښوونکي سره کله چې هغه دموضوعاتو نهايي مانا ترکتنې لاندې نيسي مرسته کوي.

ټول ښوونکي دحقيقت دماهيت په اړه نظرونه په زړوکې ګرزوي. دوی دکايناتو دماهيت، دانسان دپرخليك، دطبيعت او له طبيعت نه تراخوا. دهميش توب، اوښتون او دځيزونو دنهايي موخې په اړه نظرونه لري، که څه هم هغه به نا څرګند وي دا هغه موضوعات دي چې ميتافزيکيان يې په ټولو مهالونو کې خان ته کش کړي دي. په واقع کې هغومره ډېر چې په ميتافزيکي ابعادو کې دپوهنيزې مسلې تر بحث لا ډېر دقيق. دوام لرونکي او صبور تفکر جلبوي بل بحث يې جلبولی نه شي.

دميتافزيکي نظريو شمېر بېخي ډېر دی، خو دلته زموږ دموخې لپاره به دفلسفي فکر دځينو "ښوونځيو" مطابق په ډولونو ووېشل شي. عمده ښوونځي يې چې هره يوه يې فرعي وېشونه لري دادي: "ايډياليزم".. "رياليزم"، او" پرګماتزم". که موږ وګورو چې دغه ښوونځي دحقيقت دماهيت او له پوهنې سره دهغه دتړاو په اړه څه وايي. موږ به پر دې وتوانېږو چې ددغې موضوع په هکله لا روښانه فکر وکړو.

پخوا تر دې چې په خپل بحث پيل وکړو د احتياط يوه کلمه. موږ فلسفه په فکري ښوونځيو کې داساني لپاره ياني دپوهاوي داساني لپاره سره وېشو. فيلسوفان هم بايد په بېلابېل ډول او هر يو يې په خپل اصالت سره وڅېړل شي. دمثال په توګه جان لاك (John Lock) او

www.sikaraam.com

ایمانویل کانت (Emanuel Kant) دغسې طرزونه رامنځته کړي، چې په هغوسره یې عنعنوي فلسفي مسایل په نوي ډول حل کړي دي. ژان ژاک روسو (Jean Jacques Rousseau) او فریدك نیچه (Friedrich Nietzsche) لا زیات په فردي اصالت باندې ټینګ ولاړ وو او که څه هم سورن کیرکیګارد (Soren kierkegaard) او ژان پال سارتر (Jean Paul Sartre) دشته والي دفلسفې (existentialism) خاوندان وو. دوی هغومره چې په افکارو کې سره موافق وو، هغومره مخالف هم وو. یو زده کوونکی وروسته له هغه چې فیلسوفان یې په ښوونځیو کې وکتل بیا دې هغوی دانفرادي سوچ والو په حیث مطالعه کړي.

## ایډیالیستي میتافزیک او پوهنه

فلسفي ایډیالست ادعا کوي چې نهایي حقیقت په طبیعت کې روحي دی نه جسمي. ذهني دی نه مادي څه وخت چې دلرغوني ایلیات فیلسوف پارمینیدز (Paramenides) وویل چې " هغه څه چې په فکر کې نه راځي حقیقي کېدلای نه شي" او هغه وخت چې ارتر شو پنهاور (Arthor Shopenhauer) وویل چې " نړۍ زما تصور دی" دوی دایډیالزم میتافزیکي عقیده څرګنده کړه. ایډیالست زموږ دچاپېرې فزیکي نړۍ له شته والي نه انکار نه کوي. لکه دکورونو، غرونو، ستورو او ښارونو نړۍ چې زموږ حواس موږ له هغوسره اشنا کوي، خو دوی عقیده څرګندوي چې دغه څیزونه که څه هم حقیقي دي په نهایت کې حقیقي نه دي. دغه څېزونه دیوه لاډېر اساسي غیر مادي حقیقت مظاهر دي. دغه حقیقت به یا شخصي وي یا غیر شخصي. دعیسوي ایډیالست لپاره نهایي حقیقت ددریو کسنو خدای دی (ددرې ګنوني عقیده) دا غیرشخصي روح نه دی لکه هسې چې دجارج هیګل (Georg Hegel) لپاره دي.

عیسوي ایډیالست له نورو ایډیالستانو سره په خپلې عقیدې کې توافق ښکاره کوي چې انسان دغسې موجود دی چې ازاده اراده لري او په خپله دخپلو کړو مسول دی، افلاتون د انسان روحیه (spirit) د روح (soul) په څېر ګڼي چې هغې دایډیاګانو (ideas) دپوره او باندنې تهایي هسک څخه را ولاړېږي. جارج برکلي (George Berkeley) دعیسوي ارتودکس نظر غوره کوي چې وایي: روح نه فاني کېدونکی دی او خدای تعالی هغه ددې لپاره شته کړی دی چې په دغه نړۍ کې تر ازمون وروسته دتل لپاره ژوند وکړي. دکانت په نظر انسان هم ازاد اوهم مجبور دی، ازاد ترهغه ځایه چې دی روحیه ده او مجبور تر دې حده چې دی یو فزیکي موجود او د طبیعي قانون تابع دی. دهېګل ایډیالست په نظر انسان دمطلق (Absolute) یوه ژوندۍ برخه ده. دابدي روحیې (Eternal spirit) هغه بځری چې پر مړینې کې بېرته ورکش کېږي. پر دې ډول ایډیالستان په دې کې سره یو دي چې انسان یو روحي موجود (spiritual being) دی، خو په دې کې سره وران دي چې هغه له نهایي روحي حقیقت سره چې له هغهٔ نه راوځي په څه ډول کټ مټ تړلی دی.

ایډیالستان پر دې عقیده دي چې ماشوم په نهایت کې دروحي کایناتو یوه برخه ده او روحي برخلیک لري چې هغه په خپلو پرتو استعدادنو سره حاصل کړی دی. له دې امله پوهنه دماشوم او دطبیعت دروحي عناصرو ترمنځ باید په حتمي ډول صمیمي تړاو پیدا کړي. پوهنه باید دانسان او طبیعت ترمنځ په دغه طبیعي همغاړیتوب باندې ټینګار وکړي کله چې ماشوم طبیعي نړۍ مطالعه کوي دي باید هغه دغسې لوی ماشن ونه ګڼي، چې له روح او له مقصد نه غیر چلېږي. دی باید کاینات هغسې وګڼي چې مفهوم او مقصدلري.

ایډیالستي ښوونکي دسقراط په شان دایډیاګانو په هسکېدو باندې سروالی کوي، دغسې پرنسیپونه یې نه ګڼي، چې د زده

www.sikaraam.com

کوونکي لپاره خارجي وي، بلکې دننه په هغه کې يې دغـې امکانات بولي چې انکشاف ته اړه لري. له ايډيالست ښووونکي نه هم دا توقع کېږي چې دبشرډېر ښه صفتونه تر پوره ممکنې اندازې پورې په خپل خان کې څرګند کړي، تر څو چې دتقليد وړ ګرځېدلی وشي. دسقراط، افلاتون او کانت په شان دی پر دې عقيده دي چې ډېر ښه طريقه داده چې پوهه له زده کوونکي نه "را وويستله شي" نه دا چې په هغه کې "تخته شي" خو دا هغه لومړنی منلې شوې موضوع ده چې ښووونکی يې شايد" راوباسي" نه معمولاً هغه قسم چې زده کوونکي يې دخان لپاره غوره کوي.

دوطن پالنې اولـه هېوادسره دمينې په اړه دجاري شکمنې په نظر کې نيولو سره موږ بايد په ياد ولرو چې ډېر ايډيالستان د وفا لرلو په فلسفې باندې اعتقاد لري. له دې امله چې ويل کېږي دولت تر فرد نه په اوږده مهال کې ډېر لوی شخصيت دی. دغـې تول چې لـه خپلو برخونه ډېر مهم دي، زده کوونکي ته بايد ښودنه وشي چې دخپل هېواد او هغې تولنې درناوی وکړي چې په کې زېږېدلی دی. دی بايد دخپل هېواد او خپلې تولنې کلتوري بنسټونه او ايډيالونه په خواخوږۍ سره مطالعه کړي. دهغه خپله ازادي به يوازې په هغه تناسب وده وکړي چې دی هم خپل ملت او هم دملت په برابر کې دشخصي خدمت احساس ته انکشاف ورکړي.

نو پوهنه يوه ايډيالست ته څه مانالري؟ ماته په دې باب دهرمن هورن (Her man Horne) نه بـل ښه تعريف معلوم نه دی، دی وايي: "پوهنه خدای تعالی سره ددغـې په فزيکي او ذهني لحاظ منکشف شوي انسان دابـدي عملـي عـالي توافق دی لکـه هسې چې د انسـان په عقيدوي جذباتي او ارادي چاپيريال کې څرګنده شوې وي."

www.sikaraam.com

## ریلستي میتافزیک او پوهنه

دفلسفي ریلیزم بنسټیز اصل دادی چې ماده نهایي حقیقت دی. ددغه فکرله مخې غرونه، ونې او ستوري دکتونکو افرادو په ذهنونوکې یانې ددایمي کتونکي (Eternal Observer) په ذهن کې محض ایډیاګانې نه دي. هغه په خپلو کې اوپه خپل ذات کې له دماغ نه په ازاد ډول بېل شته دی. ریلستان که څه هم دمادې په نهایي حقیقت کې سره یو دي، خو دوی په نورو اړخونو کې سره وران دي اوپه دې ډول دوی به په څو فرعي ښوونځیوکې سره ووېشل شي. نن ورځ دهغې لویې ډلې له یوې خوا "عقلي ریلزم" او له بلې خوا "طبیعي" یا "علمي ریلزم" دی.

عقلي ریلزم: دغه عنعنه به په "کلاسیك ریلزم" او "مذهبي ریلزم" سره ووېشله شي. دمذهبي ریلزم لوی شکل سکولاستسزم (Scholasticism) درومن کاتولیکي کلیسا رسمي فلسفه ده. دواړه ښوونځي (د اتن فیلسوف، ارسطو، نه اغېزمنې دي. خوپه داسې حال کې چې عقلانې ریلستان ارسطو ته نېغ ګوري. سکولاستیکان هغه ته په نامستقیم ډول مراجعه کوي او خپله فلسفه په سان تاماس اکویناس (San Thomas Aquinas) باندې بنا کوي. اکویناس د کلیسا له مذهبي تعلیماتو سره دارسطو دنظریو په ګډولو سره یوه نوې عیسوي فلسفه وایستله چې وروسته په تامزم (Thomism) باندې یاده شوه. تامزم داړول شوي افلاتونزم په مخالفت کې ووت چې د اکویناس د وخت زیاتره مذهبي پوهان پر معتقدوو.

کلاسیکي او مذهبي ریلستان وایي چې مادي نړۍ حقیقي ده او دهغوله دماغ نه بهر وجود لري چې مشاهده کوي یې. خو تامستان وایي چې هم ماده او هم روح خدای تعالی هست کړي او خدای تعالی په خپل لوړ عقل او لطف سره یو منظم او عقلي کاینات خلق کړي دي.

www.sikaraam.com

دغه واقعیت چې خدای تعالی کاینات خلق کړي دهغه حقیقت کافي ثبوت دی. تامستان پر دې عقیده دي چې هرڅه خدای تعالی خلق کړي باید حقیقي اوسي. روح که څه هم تر مادې ډېر حقیقي نه دی، تر هغه نه ډېر مهم دی. روح دشتنه والي "لالوړ" طرزدی، ځکه چې خدای تعالی په خپله روح دی او هغه په هر لحاظ پوره دی. تامستان څنګه په دغو تولو باندې پوهېدلي دي؟ په الهام سره، دانجیل له تاریخ نه، له مخکې له مخکې وینا نه. دحضرت عیسی له تعلیماتو نه چې ددوی په فکر هغه دټولو انسانانو لپاره دخدای تعالی کلام دی، خو دوی وایي چې ددوی علم له عقیدې نه غیر له نورو لارو سره هم حاصل شوی دی، دوی وایي چې موږ دغه علم له عقل او تجربې نه هم ترلاسه کوو، چې له هغه نه ددې لپاره کار نه اخیستل کېږي چې ددوی عقیده له منځه یوسي، بلکې ټینګه یې کړي تامستان دا هم څرګندوي چې انسان له روح او جسم سره چې دده ماهیت جوړوي دمادې او روح اتحاد دی. دوی وایي چې موږ ازاد او دخپلو کړو مسول یو خو دوی دا هم وایي چې موږ نه فنا کېدونکی یو او ددې لپاره دخمکې پر سر ایښودل شوي یو چې دخپل خالق درناوی اوله هغه سره مینه وکړو اوبیا دې ډول دتل تر تله لپاره نیکمرغي وګټو.

طبیعي او علمي ریلزم: دفلسفي ریلزم دغه څانګه په اروپا کې دپنځلسمو او شپاړلسمو پېړیو په بهیر کې له سایس ... یوځای هسکه شوه. دهغې ستر ویاندان فرانسس بیکن (Francis Bacon)، جان لاک(John Lock) جان ستیورت مل (John Stuart Mill) او ډیوډ هیوم (David Hume) دي. په شلمې پېړۍ کې رالف بارتن پیري (Ralph Bartan Perry) الفرت نارت وایټ هیډ او برتراند رسل دهمدغې ډلې له سوچوالو څخه دي.

طبیعي ریلزم چې شکمن او تجربي مزاج لري، وایي چې فلسفه باید دساینس افاقي توب او سخته نیونه خپله کړي، څنګه چې زموږ

www.sikaraam.com

شاوخوا نړۍ حقیقي ده تر فلسفي څخه ډېره دا دساینس دنده ده چې دهغې خواص وپلټي، دفلسفې وظیفه داده چې دبېلوبېلو ساینستونو مفهومونه سره منسجم کړي، دکایناتو تر ټولو مهمه خاصه داده چې هغه دایمي او زغمونکې دی. اوښتون حقیقي دی، خو هغه دطبیعت ددایمي قانون له مخې پېښېږي چې کایناتو ته دوام ورکوونکي جوړښت ورکوي، دنړۍ دایمي توب دهغو اوښتونونو په برابرکې چې واقع کېږي پس منظر دی او باید وارزول شي. طبیعي ریلستان د روحي قلمرو له شته والي یا نه انکار کوي یا پر دې عقیده دي چې دهغه شته والی ثابت کېدلی نه شي او په دې توګه هغه په فلسفي لحاظ اهمیت نه لري.

طبیعي ریلستان څرګندوي چې انسان یو بیالوجیکي عضویت دی چې ډېر منکشف شوی عصبي سیستم او په خپل ذات کې اجتماعي تمایل لري. ددې لپاره اړه نه شته چې فرض شي دهغه کلتوري کارنامې دهغه بېل واحد له امله دي چې دماغ یا روح نومېږي. هغه څه چې موږ یې "فکر" بولو په واقع کې نه بلکې په درجه کې له نورو هغو سره ورته والی لري لکه ساه کښنه، یوشانته کونه او میټابولزم. زیاتره علمي ریلستان د ازادې ارادې شته والی نه مني، استدلال کوي چې فرد دهغه په ارثي جوړښت باندې دفزیکي او ټولنیزچاپېریال په ټکرسره ټاکل کېږي. هغه څه چې د انتخاب ازادي معلومېږي په حقیقت کې په علیتي ډول ټاکل شوی دی. څنګه چې نړۍ د ریلیست په نظر له انسان نه په خپواك ډول وجود لري او په هغو قوانینو سره اداره کېږي، چې موږ په هغو باندې کنټرول نه لرو. ښوونځي باید دموضوع مرکزي زړی انتقال کړي، چې زده کوونکي به له نړۍ سره اشنا کړي. کاتولیکي ریلست اضافه کوي چې څنګه چې دکایناتو نظم او همغاړیتوب د

www.sikaraam.com

اسماني تخليق موجود دي، موږ باید طبیعت دخدای تعالی دمخلوق په حیث مطالعه کړو.

دهغه په فکر دپوهنې لومړی دنده داده چې انفرادي شخص دبل ژوند لپاره اماده وګرزوي. دکلاسیکي ریلست په فکر دپوهنې مقصددادی چې شاګرد په دې قادر کړي چې په عقلاني لحاظ بنه متعادل شوی شخص شي. دهغه چا په عکس چې هغه به بس خپل فزیکي او اجتماعي چاپیریال ته "بنه متوافق" وي. دفردي په خپله یا بې اختیاري څرګندونې او ابتکاري تخلیق درناوی کېږي، لکه چې په نورو فلسفو کې هم همدغسې کېږي. خو ددغو غولوونکو خصوصیاتو محصولات لازیاتو مطالعاتو ته اړه لري.

## پرګماتیست میتافزیک او پوهنه

فلسفې پرګماتزم که څه هم زیاتره ځایي امریکایي فلسفه ګڼله شوې په واقع کې دبرتانوي د امپیرسیزم (empiricism) له عنعنې نه راوتلې چې وايي موږ بس دومره پوهېږو چې زموږ حواس یې تجربه کوي.

پرګماتزم دخپل دایمي اوښتون په تیوری کې هر اکلیتس (Heraclitus) ته مخ اړوي چې تر سقراط نه دمخه اوسېده. امریکایي مخکښه پرګماتستان چارلزپیرس (Charles Pierce)، ویلیم جیمز (William James) او جان ډووي (John Dewey) دي چې دوی ټول په خپلوطریقو او استنتاجونو کې سره اختلاف لري. دپیرس پرګماتزم له فزیك او ریاضیاتو نه اغېزمن دی او دډووي له ټولنیزو علومو او بیالوجی نه. دجیمزفلسفه شخصي، سیکالوجیکي او حتی مذهبي ده. پرګماتزم تر ریلزم او ایډیالزم نه تر زیاتې اندازې دشلمې پېړۍ له حالاتو نه متاثر شوی دی. دمثال په توګه پرګماتزم د ۱۹۲۰م کال په لسېزې کې په فردي اصالت یا فردیت

www.sikaraam.com

پرګماتیست عقیده څرګندوي چې تغییر دحقیقت جوهر دی او موږ باید تل دې ته تیار اوسو چې دځېږونو په کولو کې تغییر ومنو. دپوهنې موخې او وسیلې باید اوږېدونکې او دبیا نظر اچولو لپاره په پرله پسې ډول خلاصې وي هغه باید په عقلي او عملي ډول تعقیب شي. وسیلې خپلو غایو ته محلي دي او غایې ممکن ددوی له ذریعو څخه راووځي. پوهنه پر دې ډول هم غایه او هم وسیله ده. غایه پر دې ډول چې غواړي انسان اصلاح کړي او ذریعه پردې ډول چې هغه دیوه عمل دکولو طریقه ده. دننه په پوهنې کې دسپلین په عمومي ډول باید دشاګرد له محسوسو علاقو سره مخالفت ونه کړي. بلکې باید دهغو له منځ څخه وده وکړي.

پرګماتیست وایي چې څنګه حقیقت دهغه له چاپیریال سره دیوه شخص له متقابل عمل نه پیدا کېږي. ماشوم باید نړۍ مطالعه کړي څکه چې هغه پرې اثر کوي. بس هغسې چې ماشوم له خپل چاپېریال نه چې په کې اوسېږي بېل کتل کېدلی نه شي داسې هم ښوونځي په خپله له ژوند نه بېل کتل کېدلی نه شي. پوهنه ژوند دی او دهغه لپاره اماده توب نه دی. ترڅو چې کېدونکې ده درسي موضوع باید په هغوموجودو مسلو پورې وتړل شي چې زده کوونکي ورسره مخامخ کېږي او ټولنه يې دخپل کولو په اندېښنه کې ده.

پرګماتیست دریلسټ او ایډیالسټ پر خلاف معتقد دی چې انسان د طبیعت پر اساس پلاستیکي او تحول منونکی دی. دپرګماتیست په نظر ماشوم یو کارنده عضویت دی او دخپلو تجربو په بیا رغولو او تفسېر کولو باندې په پرله پسې ډول بوخت دی. له دې امله چې ماشوم له نورو سره په یو ځای کېدو سره وده کوي دی باید دا زده کړي چې دافرادو په ټولنه کې واوسي. له هغوسره همکاري وکړي او له ټولنیزو هیلو او اړتیاوو سره ځان په ذکاوت سره توافق ته ورسوي.

www.sikaraam.com

دا مریکایي شاګرد لپاره دپرګماتزم ترې لید دریلزم او ایډیالزم تر فلسفو په یقیني ډول ډېر په زړه پورې معلومېږي. پرګماتستي فلسفې داسې هم دښودونکو په پوهنه کې ډېر پروګرامونه فعال کړي دي. دا مشکله نه ده چې پوه شو ولې؟ امریکایي کلتور غیر متجانس او په تعدد بنا دی. امریکا نه ملي مذهب، نه لرغوني پاچایي او نه دماضي درناوی لري. شکمنه او ډینامیکي تولنه تر دایمي فلسفې ډېر دتغییر قدر کوي. ددې درناوی کوي چې تولو څېزونو ته د ولې په نظر وګوري او ددې قدر کوي چې انسان په طبیعت کې تثبیت کوونکی او کشف کوونکی دی، هغه وخت چې ویلیم جیمز څرګنده کړه چې پرګماتزم دسروازې موخه کایناتو مانا لري دغسې کاینات چې "شریې خلاص وي" دهغه امریکایي لوستونکي په توپو شول. څکه دا هغه نړۍ وه چې ډېرو همدغسې ګڼله چې په کې اوسېدل. بس هغسې چې دامریکې سرحدونه دلوېدیځ پر لوري دنامحدود بحرالکاهل پر لور تېل وهل کېدل پر دې ډول نړۍ دپوره نا محدودو امکاناتو ډګر معلومېده. ځایي له باورنه ډك او تجربیي . دا پرګماتزم او دامریکې دخلکو مزاج و.

## پایله

له دغه لنډ بیان څخه موږ پوهېدلی شو چې فلسفه که څه هم تولو پوښتنو ته چې کوي یې په تولیز ډول ځوابونه ورکولی نه شي، خو یو لړ دغسې ممکن مختلف ځوابونه تهیه کوي، چې زموږ فکرونه پراخ کړي او دشخصي انتخابونو په کولو کې له موږ سره مرسته وکړي. زده کړه لکه هسې چې په بل فصل کې به یې وښیم د واقعیتونو له غونډولو نه چې په علمي ډول تثبیت شوي دي لا زیاته مانا لري. هغه دسوچ وهلو او ددغسې کشفونو له حدود څخه د اخرا تللو مانا هم لري.

www.sikaraam.com

باندې ټينګار کاوه په داسې حال کې چې دستر کساد (depression) په بهير کې يې د ډېرې ټولنيزې ويښتيا غوښتنه کوله.

پرګماټزم په يو لړ بېلو بېلو نومونو ياد شوی. له پرګماټزم نه (دپيرس ابتکار) انسترومينټلزم (instrumentalism) پورې. ډووي دخپل عمر په وروستيو کلونو کې وروستنی تر لومړني غوره وباله. يو څه په دې چې انسترومنټلزم ډېر مادي ښکاره کېده. دپرګماټزم ستر موضوعات دادي:

داوښتون حقيقت.

دانسان پر اساسي ډول اجتماعي او بيولوجيکي طبيعت.

د ارزښتونو نسبيت.

له انتقادي ذکاوت څخه کار اخيستنه.

پرګماټيستان پر دې عقيده دي چې نړۍ نه په هغو نظريو پورې تړلې ده او نه ترېنه خپلواکه ده چې انسان يې دهغې په اړه لري. حقيقت دانسان دهغه له خپل منځي کړه("interaction") څخه را ولاړېږي چې دی يې له خپل چاپيريال سره لري. حقيقت دټول هغه څه ټولېز دی چې موږ يې "تجربه کوو". انسان او دهغه چاپيريال سره "برابر" يا "منسجم" دي. دواړه دهغه لپاره چې حقيقي دي په برابره اندازه مسول دي. نړۍ تر هغه حده پورې مانا لري چې انسان په هغې کې مانالولي. که په خپله کاينات کوم ژور مقصد ولري هغه له انسان نه پټ دی. پرګماټزم چې هيومنستي (humanism) مزاج لري پر دغه شعار باندې عقيده لري چې وايي" انسان دټولو څيزونو معيار دی." ويليم جيمز دتعليم کړي فرد په حق باندې ټېنګار کوي او وايي چې هغه خپل حقيقت په خپله جوړوي په داسې حال کې چې پيرس او ډووي څرګندوي چې دحقيقت واقعيتونه (facts) دمتخصصانو په تېره دساينس پوهانو له خوا په ډېر ښه ډول تثبيتېږي.

www.sikaraam.com

نو دعلم هغه ډول کوم دی چې فلسفه یې غواړي تر لاسه کړي؟ دا هغه ډول دی چې لکه برټراند رسل ډېر ښه ویلي چې هغه " زموږ دټینګو معتقدانو، تعصباتو او دعقایدو دډګرونوله انتقادي کتنې څخه راولاړېږي. هغه پوښتنې چې هغو ته خوابونه په قطعي ډول ورکول کېدای شي، هغه زیاتره په ساینس پورې اړه لري. نورې پوښتنې ـ نظریې ـ توصیې او تحلیلونه په فلسفې پورې اړه لري. دپوهنې دفلسفې مطالعه دپوهنې دتیورۍ او تمرین لپاره موږ ددغسې مسلو په اهمیت باندې پوهوي، هغه موږ پردې باندې قادر کوي چې فلسفي مسلې دهغې رڼا لپاره وګورو چې دپوهنې په موضوع ګانو باندې یې اچوي.

www.sikaraam.com

# دویم فصل

## پوهه او ارزښت

په دې فصل کې مې استدلال وکړ چې دپوهنې تیوري او تمرین دانسان دماهیت او دحقیقت دماهیت په اړه چې په پای کې فلسفي خصوصیت لري ایدیاګاني پخوا تر پخوا فرض کوي. دېته مې اشاره وکړه چې که ښوونکي دخپل ژوندانه دنده په ښه او معقول ډول سره ترسره کړي له هغو میتافزیکي فرضیوسره باید حتماً مخامخ شي. بحث پرې وکړي او شاید تغییر ورته ورکړي چې دده سلوک تر څه حده پورې په هغو رهبري کېږي.

ددې لپاره چې له ښووونکي سره مرسته وشي چې دغه کاروکړي ما هغه میتافزیکي تیسسونه مطالعه کړل چې په پوهنې باندې یې په واقع کې اثر اچولی دی. خو پوهنه ترمیتافزیک ډېر پخوا تر پخوا فرضیه مني. هغه دپوهې ماهیت او دهغه څه ماهیت چې ارزښتناک دي هم پخوا ترپخوا فرض کوي. ددې لپاره چې دغه ایدیاګانې په ډېرو تولیزو اصطلاحګانو کې پوره رڼې شي. موږ فلسفې ته مخ اړوو.

پوهه دمربیوتو په کسب کې غټه پانګه ده. ښووونکي په اساسي ډول دخپلو زده کوونکو له عقلاني انکشاف سره علاقمن دی. حتی څه وخت چې دی دهغو له جسمي روغتیا او جذباتي هوساینې سره علاقمن وي هم باید دباور وړ پوهې له مخې قضاوتونه وکړي، نو دښوونکي لپاره مهمه ده چې دخان لپاره فلسفي فکر وکړي چې پوهه په پای کې په څه اوړي. دفلسفې هغه څانګه چې له پوهې نه بحث کوي پوهپوهنه (epistemology) نومېږي. فیلسوف د پوهې پوه په حیث پر دې ډول دپوهې دماهیت په اړه سوچ کوي دی پوښتي چې څه شی دی هغه

www.sikaraam.com

چې په ټولو بېلو فعالیتونو کې چې دپوهېدلو په عملیه کې راځي سره مشترك وي؟ دمثال په توګه دپوهېدلو او عقیدې کولو ترمنځ توپیر څه شی دی؟ له هغو معلوماتو نه چې حواس یې تهیه کوي اخوا موږ څه پوهېدلی شو؟ دپوهېدلو دعمل او دهغه ترمنځ چې پرې پوهېږو رابطه څه شی ده؟ موږ څنګه پوهېدلی شوچې پوهه"حقیقت" دی؟

پوهپوه له ساینسپوه ته په متفاوت ډول نسبت واقعیتونو (facts) ته له مفکورو سره علاقمن دی دمثال په ډول دساه پوه دنده داده چې معلومه کړي خلك په واقع کې څنګه فکر او احساس کوي. له بلې خوا پوهپوه دا موضوع څېړي چې دهغو روحیاتي مفکورو لکه " حس کول" "ادراك" "زده کړې"او " تقویه کولو" مانا څه ده؟ دی دا هم څېړي چې معلومه کړي که ساه پوه هغه په سمه تطبیق کوي. که ساه پوه دغسې ونه کړي، دی واقعیتونه په غلطه بیانوي.

دښوونکي له نظره په پوهپوهنې کې دهغو ډېرو مهمو څرګندتوبونو نه یوه یې دپوهې دبېلو بېلو ډولونو ترمنځ ده. موږ دلته دپوهنې لپاره پوهپوهنې ته دمقدمې په حیث دپوهې ډولونه ګورو. بیا به په لاعمومي ډول هغو پوهپوهنو ته وګورو چې دفلسفولیو ښوونځیو وړاندې کړې دی.

## دپوهې ډولونه

وحی شوې پوهه. په ساده ډول وحی شوې پوهه به داسې بیانه شي چې هغه پوهه دد چې لوی څښتن انسان ته څرګنده کړې ده. لوی څښتن په خپلې عالمي پوهې سره ځینو انساناتو ته وحی کړې چې هغه حقیقتونه بیان کړي چې هغه ورته څرګند کړي دي. ترڅو دغه حقیقتونه وروسته بیا ټول بشر ته څرګند شي. دیهودانو او عیسویانو لپاره دلوی څښتن کلام تورات اوانجیل دی. دمسلمانانو لپاره قران

www.sikaraam.com

مجید او دهندوانو لپاره بګواد ګیتا (Bhagvad- gita) او اوپانیشادونه (Upanishads) دي[۲].

خنګه چې هغه دخدای تعالی کلام دي هغه دتل لپاره حقیقي دي، خودغه حقیقتونه که څه هم له طبیعت نه اخوا نازل شوي دي. هغه ژبې چې په کې بیان شوي دي له طبیعت نه اخوا نه دي، له دې امله دیني پوهان ډېر وخت په دې استدلال تېروي چې کوم هغه کلمات او افادې چې په دغو سپیڅلو نصوصو کې راغلي، په دقیق ډول مانا کړي، دغه بحثونه هسې بحثونه نه دي، ددیني معتقد لپاره په نړۍ کې ترټولو ډېر مهم حقیقتونه هغه دي چې دیني پوهان دهغو په اړه بحث کوي. ددغو نصوصو دتعبیر او تفسیر جوهر دادی چې هغه ابدي حقیقتونه چې په دغو کلامونو کې قیدشوي دي دړنا په شان روښانه کړي.

## اشتراقي پوهه.

وحیه شوې پوهه لوی څښتن ورکړې او له انسان نه دباندې پوهه ده استشراقي یا دنبغ ادراك پوهه (intuitive knowledge) هغه پوهه ده چې یوڅوك یې دخپل داخلي ادراك په شبېه کې دننه په خپل ځان کې مومي. دننې پوهه یا استشراق په شعور کې دیوې ایډیا یا نتیجې هغه سملاسي توپ دی چې دغیر شعوري یا داوږدې مودې له لړۍ سره پیداکېږي. سمله لاسه موږ ددغسې مسلې لپاره حل مومو چې زموږ لا شعور له هغه سره ورځي، اوونۍ او حتی کلونه لاس په ګرېوان و. دلاشعور دغه پخوانی زیار دی چې استشراق یا نبغ درك شېبه په شېبه

[۲] بګواد ګیتا او اوپانیشاد اسماني نصوص نه دي لکه چې ددغې ترجمې لیکونکی وایي بګواد ـ ګیت دهندوانو هغه سپیڅلی کتاب دی چې له فلسفي مکالمې نه جوړ دی. دهندوانو دعنعنوي طبقې دندې او لوړ روح نه دیوګا نظریې شرح کوي. ویونکی او قهرمان یې کرشنا دهندوانو خدای دی او پانیشاد دویداګانو ددرېیمې څانګې پوهن لیك دی او دانسان او کایناتوله ماهیت څخه بحث کوي مترجم

www.sikaraam.com

هغه ته هسکونه او په ظاهر کې دهغه باوریتوب ورکوي. موږ په خپلو بصیرتونوباندې دباورتیا احساس کوو، بس پر دې چې دهغو لپاره مو زیار ایستلی دی بې له دې چې په هغه خبر و اوسو. موږ دروحیاتي انرژي له امله په هغه له خوښۍ نه باغ باغ کېږو چې په ډېرې مودې کې مو پرې لګولي چې دیوې مسلې لپاره حل ومومو او اوس دادی سمله لاسه مو دکشف په خوښۍ کې لاسته راغلې ده. موږ پر دې هم له خوښۍ نه باغ باغ کېږو چې ددغې انرژۍ کشف موږ ته زموږ د ذهني ملکاتو دپوره توب احساس راکوي.

خو موږ باید داستشراق دعمل او داصلي استشراقي پوهې ترمنځ توپیر وکړو. ټولو سترو عقلاني کارناموته ځینې شکل بښونکي استشراق یا خلا لازمي ښکاري. فلسفې، تیسونه، سایښسي کشفونه او هنري اثار ټول داسې ښکاري چې له ځینو لوموړنیو بصیرتونو څخه پیداکېږي چې هغه بیا وروسته رنهړي او په پوره ډول بیانېږي، خود هغې سرچینې چې هرڅه وي پوره شوي سایښسي تیورۍ داستشراقي پوهې کومه بېله نه ده. هغه په مشاهدې سره یا دتجربې په عمل سره یاپه دواړو سره تائید شوې او په منطقي لحاظ سره منسجمه او متوافقه ده. څه وخت چې دسایښسي تیورۍ لپاره دعلم دعوه کېږي نو هغه دتائید وړ عمومي فرضیې یا ګڼنې په حیث وړاندې کېږي، نه دهغه دپیداکونکي دشخصي استشراق په حیث. نو استشراقي پوهه څه ته وایي؟ دا هغه پوهه ده چې دیوه شخص دتخیلي لید یا شخصي تجربې په څواك چې وړاندې کوي یې وړاندیز یې کېږي او منله کېږي.

هغه حقیقتونه چې په هنري اثارو کې نغښتي دي داستشراقي پوهې یوه بېله دده. هومر، شکسپیر او مارسې پروست ټول دانسان دزړه په اړه حقیقتونه بیانوي. موږ باید هېڅ په زړه کې ونه ګرزوو چې دغه حقیقتونه په مشاهدو، یا محاسبو یا تجربو سره وازمیو. خکه چې دغه

www.sikaraam.com

حقیقتونه فرضیي نه دي. هغه دبصیرتونو په څېر ورانديز شوي دي او موږ يې داستشراق له مخې حقیقي ګڼو. تصوفي لیکنې. شخصي ژوندلیکونه او مقالې ټولې داستشراقي پوهې انعکاسات دي

موږ په خپله هم داستشراقي پوهې يو څه په تېره دنورو خلکو په اړه په خپل خان کې لرو. دا هغه پوهه ده چې موږ دخان په اړه له تجربې او له نورو سره له خپلې تجربې نه ترلاسه کړې ده. موږ په هغې باندې په یقین سره سوچ کړی دی. خو موږ هغه منظمې عقلي مطالعې يا مشاهدوي ازموینې ته تسلیم کړې نه ده. موږ دغې نه دي کړي په دې چې ورته اړتیا نه لرو. دا هغه پوهه یا خبرتیا ده چې دخپلې تجربې په بهیر کې مو ژوره کړې پراخه کړې او سمه کړې ده.

## عقلي پوهه

دا هغه پوهه ده چې موږ يې یوازې له عقل نه په کار اخیستنې سره تر لاسه کوو بې له دې چې دچارو دربښتیني حالاتو په مشاهدې سره ملګرې وي دصوري منطق اصول او ځکه ریاضیات یوازې ددغه مجرد استدلال بېلګې دي. دهغوی حقیقت یوازې په مجرد استدلال سره دمشاهدې وړ دی. دمنطق دغه اصل په نظر کې نیسو چې دهغې له مخې دوه سره متناقضې وېناوې په هماغه يو وخت کې حقیقي کېدلی نه شي. " فیدو سپی دی" او "فیدو سپی نه دی" په دغو دواړو وېناوو باندې په هماغه يوه مهال کې استناد کېدلی نه شي. يا درياضي په دغه اصل باندې نظر واچوی چې که "الف" تر "ب" نه لوی وي او "ب" تر "ج" نه لوی وي نو بیا "الف" تر "ج" نه لوی کېږي. بل مثال:

که دبوینګ ۷۴۷ الوتکې دفلاینګ فورترس تر الوتکې نه لويه وي او فلاینګ فورترس تر پایپر کلب نه لويه وي نو بوینګ تر پایپر کلب نه لويه کېږي. دغه دواړه پرنسیپونه په واقعي مثال کې ښودل کېږي. خو

www.sikaraam.com

دواړه له دغو مثالونو نه ښېل حقيقي دي دعقلي پوهې اصول به دحس په تجربې باندې تطبيق شي. خو له هغه څخه نه استنباط کېږي. هغه دبصيرتې پوهې پرخلاف، زموږ له احساساتو نه سوا داعتبار وړ او په عالمشمول ډول د اعتبار وړ دي.

عقلي پوهه لـه محدوديتونونـه هم خالي نـه ده. هغـه پـه اساسي ډول مجرده او صوري ده. له منطقي روابطو او غيرشخصي مفـهومونو څخه بحث کوي او جذبـاتي اړتيـاوې او دچارو واقعي حـالات پـه نظر کې نـه نيسي. له دې کبله چې موږ دچارو د شرايطو په منځ کې په جذباتي ډول سـره ژونـد کـوو عقلي پوهـه پـه ډېر مشـکل سـره بسـنه کـوي. مـوږ استشراقي او تجربې پوهې تـه هم اړتيـا لـرو او هغـو تـه موږ ډېره اړتيا لرو. دا هم دبحث وړ ده چې عقلي پوهـه څومره پـه عالمشـمول ډول د اعتبار وړ ده او څومره بس دغـې ښکاري. موږ ټول ترڅه حده پورې دکلتور تر اغېزې لاندې يو او ممکن داسې وي چې حتى دصوري منطق اصول يوازې دهغو لپاره داعتبار وړ وي چې پـه اروپايي ژبـو غږېږي او په هغو کته ګوريو کې سوچ کوي چې دغه ژبې يې په غېږ کې نيسي. پر دې باندې هم شك ځرګند شوي دي چې که عقلي پوهه په نهايت کې په عقلي ثبوت ولاړه وي. دمثال په ډول ديـوه فکـري ښوونـځي لـه نظـره دسوچه رياضياتو اصول د پرله پسې توب په اساسي بصيرت باندې بنا شوي دي.

## تجربي پوهه

په دې وختو کې کومه پوهه چې په خاص ډول مهمـه ده تجربي پوهه ده. هغـه پوهـه ده چې دحواسو پـه شـواهدو سـره تـانيدېږي. پـه ليدلـو، اورېدلو، بويولو، حس کولو او څښلو سره موږ دخپلې شاو خوا نړۍ په اړه مفکوره ټينګوو. تجربي پوهـه تـر لـه هغـو نظريـو څخـه جوړه ده چې

www.sikaraam.com

دمشاهده شویو یا حس شویو واقعیتونو(facts) پر اساس ترلاسه کیږي.
په داسې حال کې چې عقلپال (rationalist) راته وایي چې " په څیزونو ښه فکر وکړه.(think things through) تجربه پال (empiricist) مصلحت راکوي چې " کتنه وکړه او ووینه" (look and see)♥

دتجربې پوهې مثال عصري ساینس دی. ساینسي فرضیې یا ګڼنې په مشاهدو یا په تجربه کولو سره ازمیېلي کېږي چې وګورو کومه فرضیه په ډېر قانع کوونکي ډول سره دیوې ټاکلي پېښې یا پدېدې باعث کېږي سره له دې هم یوه فرضیه هېڅکله په مطلق ډول نه په اثبات رسېږي او نه زده کېږي، هغه یوازې لږ وډېر "احتمالي" (probable) ښودله کېږي. تجربي احتمال شاید ځینې وختونه یقین ته نږدې وي، خو موږ به هېڅکله په دې یقیني نه شو چې راتلونکی به تېرې ته ورته وي او پر دې ډول موږ به هېڅکله په مطلق ډول متقین نه شو چې هغه پېښې یا پدیدې به تر دې وروسته ګت مټ په هماغو طریقو سره سلوك وکړي چې تراوسه یې په ځینو طریقو سره کړی دی.

داهم باید وویل شي چې زموږ حواس شاید په ځینو وختو کې موږ وغولوي لکه څه وخت چې یو لرګی چې په اصل کې سم سیده وي په اوبو کې کوږ ښکاري. لکه هسې چې سقراط تر زهر څښلو نه شېبې دمخه وپوښتل " ایا زموږ حواس په خپل ذات کې حقیقت لري؟ ایا هغوی ناسم شاهدان نه دي؟" پر هغه برسېره زموږ حواس زموږ دمفکورو تر اثر لاندې راغلي او مقید شوي دي موږ میل لرو هغه څیز درك کړو. چې دهغه درك دننه زموږ په توان کې وي، نو موږ مکان

---

♥ پورتنۍ جملې به په ترتیب سره داسې تعبیر شي" په سم او ژور فکر کولو سره حقیقت ومومه" او" په ځیر کتلو او ځیر لیدلو سره حقیقت درك کړه" په بله ژبه لومړنی دعقل. وچ تفکر او استدلال او وروستی دحواسو له لارې دحقیقت پلټل غواړي. مترجم

www.sikaraam.com

دیوه دایمي شالید په شان ګڼو چې په هغه کې دننه په زمان کې بې ساري پېښې یو په بل پسې پېښېږي. دمکان او زمان دغه درك نږدې په یقیني ډول دهغه دانکشاف په یوې خاصې مرحلې کې زموږ دکلتور یوه پدیده ده.

## صلاحیتي پوهه

موږ دپوهې یوځه اندازه حقیقي ګڼو نه له دې امله چې هغه موږ په خپله ازمیلې. بلکې له دې امله چې هغه په ډګرکې دصلاحیت خاوندانو تثبیت کړې ده. زه بې له شك نه منم چې کانبرا داسترالیا مرکز دی. چې وړانګه په یوې ثانیې کې ۱۸۱،۲۸۱ میله لاړ وهي او چې د واټرلو جګړه پر کال ۱۸۱۵م کې شوې وه زه دې ته اړ نه یم چې دغه واقعیتونه په خپله تثبیت کړم لکه هسې چې ورته اړ نه یم دلوګارتم جدول په خپله و ازمییم.

زه دغه ټول دمسلماتو په حیث ګنم ځکه چې زه هغه په دایرت المعارفونوکې او په هغو اثاروکې مومم چې متخصصانو تالیف کړې دي زه ددغو متخصصانو کلام منم ځکه چې غواړم په خپله شخصي انرژۍ په خپلو هغو شخصي پروجو ولګوم چې یا له دغوتثبیت شویو واقعیتونو نه یا ترینه اخوا دروممې. نږۍ زما لپاره تر حد نه زیاته لویه ده چې وکولی شم ټول هغه څه زه په خپله تثبیت کړم چې په کې پېښېږي.

کومه هغه پوهه چې زه یې مسلمه ګڼم زما پر اړتیاوو او زما په علاقمنې پورې اړه لري. که زه وغواړم چې دمعلوماتو لپاره خان په دې بوه کړم چې کیوبزم (cubism) څه شی دی یا دنیوټن دحرکت قوانین کوم دي زه یې په دایرت المعارف کې لټوم. خو که مطلب مې داوي چې بس معلومات راټول کړم. معلومات ټولوم. خوکه وغواړم چې په کیوبزم یا

www.sikaraam.com

په نیوټني میخانیکیت باندې پوه شم بیانو زما لپاره حتمي کېږي چې د دغو څیزونو اصول په خپله تثبیت کړم. د دې د ویلو ضرورت نه شته. چې زه کیوبزم یا میخانیکیت له سره نه اختراع کوم خو زه د هغو اصولو له لارې فکر کوم په کومو باندې چې هغه بنا شوي دي ترڅو چې زه د هغو مقصد ووینم. زه په کیوبزم باندې هغه وخت پوهېږم چې زه هغه هنري مقصدونه ووینم کوم چې کیوبستانو د خانو لپاره ټاکلي دي او هغه وسایل چې د هغو په استفادې سره یې تر سره کړي دي.

زه د نیوټن د حرکت په قوانینو هغه وخت پوهېږم چې هغه استدلال درك كړم چې هغه پرې باندې بنا شوي دي او هغه نتایج چې ورته منتهي کېږي او هغه شواهد چې د هغو په تائید را ټول شوي دي کوم څه چې زه یې مسلم ګڼم هغه لا پخوا تر دې پوهه وه. د نیوټن د حرکت قوانین په ساینسي ډول تثبیت شوي دي. هغه اوس تجربې پوهه ده. نو د "صلاحیتي پوهې" (authoritative knowledge) اصطلاح په خپل اهمیت کې تر پوهېدنې نه زیاته روحیاتي ده

هغه د څیزونو له طبیعت نه بحث نه کوي چې زه پرې پوه یم. هغه زما د پوهېدلو له طریقې څخه بحث کوي. هغه هغو کلتوري محصولاتو ته نه راجع کېږي چې موږ یې پوهه ګټولکې هغې طریقې ته راجع کېږي چې زه په هغې سره د غه محصولات د خان لپاره تخصیصوم "صلاحیتي پوهه" هغه تثبیته شوې پوهه ده چې زه یې د بل چا په صلاحیت سره منم.

تر دې خایه پورې مو خیني هغه بېلې بېلې کتبه ګوري ګانې وکتلې چې د پوهې په نامه منلې شوي دي. راځئ چې اوس یو پراخ نظر واچوو او وېلتو چې د مخکېنو بنوونخیو فلسفو د پوهې په اړه په عمومي ډول او په پوهنې پورې د هغې په باب څه ویلي دي

www.sikaraam.com

## ایډیالیستي پوهپوهنه او پوهنه

دایډیالستي عنعنې دننه بېلو بېلو فیلسوفانو دپوهې ډول ډول تیورۍ ګانې ایستلې دي. افلاتون دسقراط په شان په دې فکر و چې پوهه چې دحواسو له لارې ترلاسه کېږي. تل غیر یقیني او نیمګړې وي، ځکه چې مادي نړۍ دلاپوره وجود د کړې یوازې اړول شوی نقل دی. حقیقي پوهه یوازې دعقل محصول دی په دې چې عقل هغه ملکه ده چې دهغوی له مادي ځیزونو څخه اخوا دځیزونو سوچه روحي شکلونه مجسموي.

جارج هېګل دغه افلاتوني مفکوره لامنظمه کړه چې ویل یې پوهه یوازې ترهغه حده پورې داعتبار وړ ده چې یو سیستم جوړوي. ځنګه چې نهایي حقیقت عقلي او منظم دی دحقیقت په اړه زموږ پوهه تر هغه حده پورې حقیقي ده چې هغه هم دیوه سیستم په شان منظمه وي. څومره چې زموږ دپوهې سیستم لاجامع وي او څومره چې هغه ایډیاګانې چې په غېږ کې یې نیسي لامتوافقې وي ویل کېږي، چې هغه لاډېر حقیقت لري. دغه اصل په معمولي ډول دحقیقت د" ربط تیورۍ" (coherence theory) په نامه یادېږي. دغه اصل پر دې نظر بنا دی چې وایي دپوهې یوه خاصه موضوع تر هغه حده پورې مهمه کېږي چې هغه په خپله تولیزه قرینه کې ولېدله شي. نو ټولې ایډیاګانې او تیورۍ ګانې باید دپوهې دپرله پسې انکشاف کېدونکي سیستم په ـ: حل کې دهغوی د" ربط" په قرار تائیدې شي.

ډېر عصري ایډیالستان دکانت په پیروي پر دې فکر دي چې دپوهېدلو جوهر په هغو معلوماتو باندې دمانا او نظم تحمیل دی چې دحواسو په ذریعه تولېږي. دتدریس مقصد نه هغومره دی چې زده کوونکي ته دمعلوماتو خرې وړاندې شي بلکې دادی چې ورسره مرسته

www.sikaraam.com

وشي. چې لـه دغـو معلومـاتو نـه مفـهوم او نظـم وباسـي. ځینـې ایډیالسـتان چـې " شـخص پالان"(personalists) ورتـه ویـل کـېږي هـم پـر دې فکر دي چې زده کوونکي باید خپل معلومات خپلو پخوانیو تجاربو تـه مربوط کړي تر څو هغه څه چې دی یې زده کوي په شخصي ډول دهغـه لپاره مهم اوسي.

## ریلستي پوهېوهنه او پوهنه

ریلست دکانت دغه نظر ردوي چې وایي دماغ دحواسو پـه معلومـاتو باندې خپلې ګټه ګوري ګانې تحمیلوي لکـه" علیـت" او "جوهریـت" ددې په عکـس ریلست پر دې فکر دی چـې هغـه نړۍ چې مونږ یې درك کووداسې نړۍ نه ده چې مونږ یه خپـل دمـاغ کـې جوړه کـړې وي. بلکـې هغسې نړۍ ده لکـه هسـې چـې ده. علیت. جوهریت او دطبیعـت نظـم ددماغ طرحې نه بلکې په خپله دځیزونـو خاصیتونه دي. داسـمه ده چـې طبیعي سـاینس دنړۍ ښېل تصویـر ورکـوي پرخـلاف دهغـه چـې ورځنۍ تجربه یې ورکوي. دغه تینـګ میـز چـې پرهغـه بانـدې دغـه توری کـاږم دفزیك پـوه لپـاره دنـه لیدونکـو وړو توټوټولـګی دي. خولـه دې څخـه یـوازې دا څرګنـدېږي چـې پـه ښلو ښلو وسیلو سـره دنړۍ ښل اړخونـه لـېدل کـېږي نـه داسـې چـې دغـه اړخونـه هغسـې مظـاهرات دي چـې دکتونکي له خوا ترکیب شوي وي.

نو د ریلسـت لپاره یوه ایډیا یا یـوه قضیـه هغـه وخت حقیقي ده چې دنړۍ له هغو خاصیتونو سره "توافـق کـوي" چـې غـواړي بیـان یې کـړي. دنړۍ په اړه فرضیـه بـس پر دې چـې یوازې لـه پوهـې سره "توافق کـوي" حقیقي نه ده. که نوې پوهه له پخوانۍ سـره اړخ لـګوي دا پـر دې ده چـې پخوانۍ پوهه حقیقـي ده. یانې لـه دې املـه چې پخوانـۍ پوهـه لـه هغـه سره چې اصلي موضوع ده توافق کوي. نو ربط یـانې دمطالبو توافق او

www.sikaraam.com

نښلېدل (coherence) حقيقيت نه خلقوي، بلکې وايي چې کله دوه يا زياتې تيورۍ ګانې د نړۍ د مربوطو خاصيتونو په اړه له هغو خواصو سره توافق کوي چې دوی يې بيانوي طبيعي ده چې هغوی به يو بل تائيدوي.

نو حقيقي پوهه هغه پوهه ده چې له نړۍ سره هغسې چې ده توافق کوي. انسان د وخت په تېرېدو سره د پوهې د غسې زېرمه غونډه کړي چې د هغې حقيقت په وار وار تائيد شوی دی. وده کوونکی شخص ته د دغې پوهې د غوره شويو برخو ورکول د ښوونځي تر ټولو مهمه دنده ده. نو په پوهنې کې نوښت له ښوونکي سره وي چې د کلتوري ميراث انتقال کوونکی دی دا ښوونکی نه زده کوونکی دی چې بايد فيصله وکړي په ټولګي کې کوم مضمون ولوستل شي. که دا موضوع پر دې ډول وي چې د زده کوونکي شخصي ارتياوې او علاقمني پوره کړي. دا تر ټولو ښه نو د زده کوونکي راضي ساتل د سمې موضوع د انتقال کولو په تناسب ډېر لږ مهم دی. زده کوونکي ته د دغسې پوهې درس ورکول چې ډېر اهميت ولري د پوهنې حقيقي غايه ده. د زده کوونکي راضي ساتل د دغه هدف لپاره يوازې وسيله او د تدريس ګټوره ستراتيژي ده.

## پرګماټيستي پوهېوهنه او پوهنه

پرګماټيستان پر دې عقيده دي چې دماغ نظر دې ته چې زغمونکی او منونکی وي بايد فعال او کشف کوونکی وي. دماغ له دغسې نړۍ سره نه مخامخ کېږي چې له هغې نه بېل او سوا وي. دغه معلومه نړۍ تر يوه حده پورې د دماغ له خوا چې پېژني يې جوړه شوې ده. حقيقت يوازې خارجي واقعيت ته د انسان د نظريو په مطابقت کې پروت نه دی، ځکه چې واقعيت د انسان او چاپېريال تر منځ له "کړو" نه راوځي او حقيقت د پوهې خاصه ده. نو حقيقت څه ته وايي؟

www.sikaraam.com

پرگماتیستان ددغې ادعا مسول گڼل شوي چې وايي يوه ايډيا هغه وخت حقيقي وي چې "کارکوي" دغه تورکه پر خای وي يوازې په ويليم جيمز باندې وارد دی چې وايي يوه ايډيا هغه وخت حقيقي وي چې کله هغه په افاقي ډول او که ممکنه وي په ساينسي ډول و ازمويل شي، قانع کوونکي نتايج راوړي. نو دنمونه وي پرگماتيست لپاره ديوې ايډياحقيقت هغو عواقبو ته منحصره وي چې څه وخت چې دعمل په ډگر کې واچوله شي. په افاقي ډول سره مشاهده شي.

پرگماتيستان دا هم وايي چې دپوهې دترلاسه کولو لپاره " ذکاوت طريقه" ډېره ښه طريقه ده. دوی وايي چې موږ هغه وخت په څيزونو په اعلی درجه پوهېږو چې مسايل مشخص او حل کړو ذکاوت همدا چې له کومې مسلې سره مخامخ شي دحل لپاره يې فرضيې وړاندې کوي. هغهفرضيه چې په هغې سره مسله په ډېر برې سره حل کېږي، هغه ده چې دمسلې واقعيتونه شرح کوي دا هغه څه دي چې ډووي ورته "تائيد شوی بيان" وايي. دپوهنې هغه بيان چې په افاقي ډول او په عمل کې يې تصديق شوی وي او شايد دنورو مسلو لپاره دنورو فرضيو دپيداکولو په موخه اساس وگرځي.

د پرگماتيست په فکر ښوونکي بايد دخاصو مسلو په اړه د زده کړې شرايط برابر کړي دکومو حل چې دهغه زده کوونکي به دهغو د اجتماعي او فزيکي چاپېريال دښه پوهېدلو پر لور وهڅوي. ښوونکي او ټولگی دواړه ددې پر خای چې دموضوع دعنعنوي جوړښت پيروي وکړي بايد په هرې هغې پوهې باندې استناد وکړي چې دهغې خاصې مسلې دحل کولو لپاره گټور وي له کومې سره چې دوی بوخت وي لکه" دعصرونو په بهير کې حمل او نقل" " اوسني جنسي اخلاقيات" يا " ژوند په يوه هندي کلي کې" له همدغه عملي طرز نه بايد دلوستلو، ليکلو. او رياضي زده کولو په مهارتونو کې هم کار واخيستل شي.

www.sikaraam.com

دپرگماتیست په قول شاګرد ته ټول مضمونونه هغه وخت لاډېره مانا پیدا کوي او هغه ېې دماغ ته په اسانۍ سره سپاري چې هغه له هغونه دخپلو علاقمندیو او اړتیاوو دپوره کولو لپاره دوسیلو په حیث استفاده کولی شي.

دپرکماتیست په فکر یوماشوم یو طبیعي زده کوونکی دی څکه چې هغه په طبیعت کې پلټونکی یا کنجکاو دی، هغه به له هر هغه څه نه ډېره زده کړه وکړي چې هغه دی دکشفولو اوفکر کولو لپاره وتخنوي. ښوونکی دپلټنې دغې روحیې ته باید وده ورکړي. ددې پر ځای چې هغه څه زده کوونکي ته تدریس شي چې نور یې ورته تجویز کوي ښوونځی باید زده کوونکی وهڅوي چې:

الف_ هغه څه زده کړي چې دهغه په اړه په خپله دپلټلو احساس کوي.

ب_ ددغـــې مضمونونو په اړه لکه ساینس. ادبیات او تاریخ دپلټنې احساس وکړي. وروستی دستور مهم دی په دې چې ښوونکی به غیر مسول وي چې که دی شاګرد وهڅوي چې هغه دده هر دستور او خیال تعقیب کړي. دپرګماتیست لپاره اصلي ټکی دا دی چې زده کوونکي باید له پلټنې نه زده کړه وکړي په داسې حال کې چې ښوونکی باید دپلټنې حس وهڅوي دهغو مضمونونو په اړه چې دهغه دغه حس په پوره ډول جایزه وویني.

www.sikaraam.com

## ارزښتونه اوپوهنه

په پوهنه کې ارزښتونه هرچېرې بېخې ډېر دي. ارزښتونه دښوونځي دعمل په هر اړخ کې دخيل دي. هغه دغوره کولو او پرېکړې کولو دټولو موضوعاتو لپاره اساس جوړوي.

ښوونکي د ارزښتونو په استفادې سره شاګردان ارزوي اوشاګردان ښوونکي تولنه د زده کړې کورسونه دښوونځي پروګرامونه اودتدريس ځرنګوالی ارزيابي کوي او ټولنه دمربيونو له خوا ارزيابي کېږي. څه وخت چې موږ په پوهنيزو عملونو باندې قضاوت کوو او هغه وخت چې موږ د پوهنيزسياست د ارزښت تحمين کوو، موږ له څه راز ارزښتونو نه کار اخلو؟ د ارزښتونو عمومي مطالعه د ارزښت پوهنې (axiology) په نامه يادېږي. ارزښت پوهنه له درې عمده پوښتنو څخه بحث کوي (۱)دا چې ارزښتونه افاقي دي يا عندي. يانې شخصي ياغير شخصي.(۲) دا چې ارزښتونه ثابت دي يا تغير منونکي.(۳) دا چې ارزښتونه درجه بېزه لري، (hierarchy) لري يانه. راځئ چې اوس دغه موضوع ګانې په لنډ ډول تربحث لاندې ونيسو.

دا چې وويل شي ارزښتونه په افاقي ډول وجود لري، مانا يې داده چې هغه په خپل ذات کې له انساني مرجحاتو نه غير وجود لري. داسې ارزښتونه لکه ښه والی، حقيقت او ښکلا عالمي حقيقتونه دي. هغه دشيزونو دماهيت برخې دي، ځينې څېزونه په افاقي ډول حقيقي دي. ځينې څېزونه په خپل ذات کې ښکلي دي. پوهنه افاقي ارزښت لري او په خپل ذات کې ارزښتناکه ده. دا چې فکر وشي ارزښتونه ځاني يا ذهني دي دا ادعا کول دي چې هغه دشخصي مرجحاتو انعکاس دي. دا چې ارزښتناك دی. يو څوك ارزښت ورکوي هر هغه څيز چې ارزښتناك دی همداسې ده نه په خپل ذات کې بلکې له دې امله چې داسې

www.sikaraam.com

پېښېږي چې يو څوك ارزښت ورکوي. دمثال په ډول کله چې وويل شي چې پوهنه ارزښتناکه ده مانا يې داده چې يو څوك په خپله پوهنې ته ارزښت ورکوي، يا دا چې ځينې کسان پوهنه ارزښتناکه ګڼي.

ځيني کسان داسې استدلال کوي چې داسې ارزښتونه شته چې هغه مطلق او دايمي دي. دغه ارزښتونه نن ورځ هم هماغسې د اعتبار وړ دي لکه پخوا چې وو او هغه د هر چا لپاره د نژاد او طبقې له توپير نه پرته دتائيد وړ و. کله کله استدلال کېږي چې سخاوت دټولو انسانانو لپاره هر چېرې او په هر مهال کې ښه کار دی، نور کسان بيا وايي چې ټول ارزښتونه د انسانانو غوښتنوته نسبت لري ځنګه چې زموږ غوښتنې تغير کوي پر دې ډول هغه ارزښتونه چې افاده کوي يې هم تغير کوي. نو پر دې ډول غوښتنې او ارزښتونه دنويو تاريخي حالاتو، نويو مذهبونو په ساينس کې، دنويو انکشافاتو په تکنالوژۍ کې، دنويو کشفونو په پوهنې کې دپرمختګونو او داسې نورو پر وړاندې تغير کوي، دغه ارزښتونه به په تجربي ډول راشي او دعمومو په محضر کې به و ازميبل شي، هغه ممکن دعقلي دماغ يا ټينګې عقيدې نتيجه وي. دمثال په توګه موږ به وښيو چې که درجه تاکل ارزښتناك وي موږ په مطلق ډول هو يا نه ويلای نه شو. ممکن وي يا ممکن نه وي او هغه په هغو اشخاصو پورې اړه لري چې په کې دخيل دي. په هغومقصدونو پورې چې ډوی ورته کارکوي په هغې لارې پورې چې پرې درومي او په هغو نتيجو پورې چې توليدوي يې موږ به څنګه پوه شو؟ په عمده ډول دهغو معيارونو پر اساس چې تعليم کړي کسان يې مني، دغه معيارونه په مطلقو ارزښتونو پورې ډېر نږدې تړلي دي، يا لږو ډېر په هغو ارزښتونو پورې چې لږو ډېر دايمي دي. دغه ټکي په ظاهر کې مهمل ښکاري خو ودې شي چې سم وي موږ به څنګه په هغو معيارونو پوه شو چې په هغو سره زموږ ارزښتونه تغير کوي که چېرې موږ داسي يو

www.sikaraam.com

دایمي څیز په لاس کې ونه لرو چې دهغه په برابر کې دخپل تغیر اټکل وکړو؟ دقاعدې له مخې خوانان غوره ګڼي چې خپل ارزښتونه شخصي اونسبي وساتي. دوی په هماغه طریقه چې خپلو څیزونو ته ارزښت ورکوي. غواړي تحول منونکي اوسي او خلاص ذهن ولري. په حقیقت کې دهر مطلق څیز فکر دوی په ژور ډول ربړوي. ممکن له هغو مطلقاتو نه پرته چې دوی یې غواړي لکه ازادي، عدالت او انساني پوهاوې.

دا چې یو سوچ وال د ارزښتونو پر وړاندې څه ډول سلوك غوره کوي دهغه په عمومي فلسفې پورې اړه لري. څنګه چې به یې وروسته څرګنده کړم فلسفي ایډیالست پر دې فکر دی چې د ارزښتونو دغسې لړۍ شته چې په هغې کې معنوی ارزښتونه تر مادي ارزښتونو څخه لوړ دي. ایډیالست مذهبي ارزښتونه لوړ ګڼي پر دې چې دده په فکر هغه له موږ سره مرسته کوي چې خپل نهایي مقصد ته ورسېږي چې هغه له روحي نظم سره یوځای کېدل دي. فلسفي ریلست هم د ارزښتونویه لړۍ عقیده لري. خو دې عقلي او تجربي ارزښتونه لوړ ګڼي څکه چې دده په فکر هغه له موږ سره مرسته کوي. چې له افاقي حقیقت سره توافق وکړو چې هغه دطبیعت قانون او دمنطق اصول دي. فلسفي پرګماتیست وایي چې ثابته درجه بیزه لړۍ هېڅ نه شته. دهغه په فکر احتمال لري. یو فعالیت هغسې بنه وی لکه یو بل چې وي پر دې شرط چې هغه ضروري اړتیاوې پوره کړي او وسیله یېز ارزښت ولري، دی دهغو ارزښتونو پر وړاندې حساس دی چې ټولنه ورته قیمت ورکوي. خو دی پر دې عقیده دی چې دا ډېره مهمه ده چې ارزښتونه په تجربي ډول و ازمېیل شي نه دا چې په عقلي ډول پر ې سوچ وشي. دی څکه دغسې فکر کوي چې دده په فکر ټول خاص ارزښتونه دلاښو ارزښتونو دخپلولو لپاره یوازې وسایل دي. مطلوبه داده چې ارزښتونه په

www.sikaraam.com

ساينسي او همدا راز په فلسفي ډول وڅېړل شي. دمثال په ډول که موږ ونبودلی شو چې امریکایان هماغو ارزښتونو ته ارزښت ورکوي چې نور خلك یې په نورو ځایونو کې ورکوي نو موږ به ددغسې بنیاد داینبودلو په لور ډېر وړاندې تللي یو چې په هغه باندې به بین المللي پوهاوی ممکن شي

## اخلاقپوهنه او پوهنه

پوهنه په پراخ ډول د اخلاقي تشبث په حیث ګڼل کېږي. ښووونکي دې ته تل پام کوي چې څه باید وویل شي، څه باید وکړه شي او زده کوونکي باید څنګه سلوك وکړي. دوی له دې سره مینه لري چې اخلاقي ارزښتونه تلقین او فردي، اجتماعي سلوك اصلاح کړي

یو ښووونکي په خپل ټولګي کې باید څه ډول اخلاقي سلوك تبلیغ کړي؟ کوښښ وکړي چې هغه سلوك پرمخ بوځي چې په خپله ورته ارزښت ورکوي؟ ایا دی باید دخینو هغو خاصوخواصو وده وهڅوي چې دده په فکر مطلوب دي یا پرېږدي چې د زده کوونکي کړه وړه دهغه دټولګیوالو دتوقعاتو په برابر کې په خپله تشکل وکړي؟ دغو پوښتنو ته ځواب به په خپله دیوه کس په اخلاقي سلوکونو پورې اړه ولري دهر هغه ښووونکي لپاره چې خپل کسب جدي نیسي حتمي ده چې دغو پوښتنو ته ځواب ولري او خپل سلوك په حقه وښیي د اخلاقپوهنې مطالعه به په دغه کار کې له هغه سره مرسته وکړي.

اخلاقپوهنه دانساني سلوك په ډګر کې د ارزښتونو څېړنه ده. هغه له دغسې پوښتنو څخه بحث کوي لکه دټولو انسانانو لپاره ښه ژوند کوم دی؟ موږ باید څنګه سلوك وکړو؟ اخلاقپوهنه له دې سره علاقه لري چې دغسې "ښه" ارزښتونه تهیه کړي چې هغه د "ښو" کړو لپاره اساس وګرزي. یو وخت اخلاقي سیستمونه په دینونو پورې تړلي وو،

www.sikaraam.com

خو اوس دلوېديځې نړۍ اخلاقي سیستمونه که څه هم تر زیاتې اندازې پورې له دیني تعلیماتو څخه وتلي دي. په معمولي ډول له نورو دلیلونو سره په حقه ښودل کېږي. لکه څنګه چې مو دمذهب په فصل کې ولیدل دامریکې متحدو دولتونو کلیسا له دولت څخه بېله کړې ده او په نتیجه کې دمذهبي تعلیماتو زده کړه دامریکې په عامه ښوونځیو کې منع شوې ده. خو دغه بندیز په خپل وار دغسي غوښتنه هڅولې ده چې کوم راز اخلاقي روزنه باید دهغه ځای ونیسي

دلته دوه راز اخلاقي تیوری ګانې مهمې دي: داستشراق فلسفه"(intuitionalism) او د"طبیعت فلسفه" (naturalism).

داستشراق دفلسفې پلویان وایي چې اخلاقي ارزښتونه په خپله دفرد له خوا په نېغ ډول درک کېږي، ددغه فکرله مخې موږ دیوه څیز سم توب او ناسم توب په ذاتي اخلاقي حسن سره درك کوو. هغه اخلاقي ارزښتونه چې موږ یې په دې ډول درك کوو په خپل ذات کې سم دي. دهغوی سموالی نه په منطقي ډول ثابت کېدلی او نه په تجربي ډول ازمېيل کېدلی شي، هغه په استشراق سره په نېغ ډول درك کېږي.

طبیعیون وایي چې اخلاقي ارزښتونه باید دهغو معلومېدونکو نتایجو په دقیقې مطالعې سره وټاکل شي چې دهغو دتولېد مسبب کېږي، دمثال په توګه که څوك په دې فکر وي چې تر نکاح نه دمخه ملاسته په اخلاقي لحاظ سره غلطه ده هغه باید همدغسې فکر وکړي نه له دې امله چې ددغه تکي په اړه اخلاقي حکمونه دمخه ایستل شوي دي. بلکې دشخصي مشاهدې یا په دغسې اړیکو باندې دساینسي مطالعې داغیزو او عواقبو له نظره، هغه څوك چې داخلاقو دطبیعت تغیرمني اخلاقي ارزښتونه یا غوره کوي، یا یې په حقه ښیي، دهغو ساینسي څېړنو له مخې چې دښه او بدپه اړه څرګند شوي دي. داسې هم دي دغه انتخاب دازمېيل شوي ژوند دتجربو له مخې کوي چې دده په

www.sikaraam.com

فکر هغه دکړو تر ټولوډېره ښه لاره ده. په لنډ ډول د طبیعتپال په فکر اخلاقي ارزښتونه باید هر انساني سلوك دعملي نتایجو په افاقي کتنې باندې بنا وي.

ایا اخلاقي ارزښتونه په هغه ډول تدریس کېدلی شي لکه هسې چې واقعي پوهه تدرېسېږي؟ سقراط په دې لته کې و، چې دغې پوښتنې ته خواب ووایي. ددغې فرضیې له مخې چې اخلاقي ارزښتونه په هر فرد کې نغښتي دي، سقراط فکر کاوه چې ښوونکی کولی شي دغه ارزښتونه دشاګرد شعوري سطح ته هسك کړي. نو موږ به وویلی شو چې نیکې تدریس کېدلی شي که له نیکي نه مو مطلب داوي چې له شاګرد سره مرسته وکړو، چې په هغې پوه شي. ایا شاګرد به په هغه څه عمل وکړي چې زده کړی یې وي؟ موږ ټول په دې پوهېږو چې شاګرد به کوم شی زده کړی نه وي خو تر هغو چې په هغه باندې عمل وکولی شي؟(۳) دلته نو بیا یو خنډ شته که له تدریس او تحصیل نو مو مقصد داخلاقو په اړه دپوهې ورکول او حاصلول وي په دې حال کې ارزښتونه تدریس کېدونکي دي. ښوونکی زده کوونکی ازمیلی شي چې دوی داخلاقي ارزښتونو په باب څومره پوهېږي. دوی له هغوسره دا مرسته هم کولی شي چې دعمل دبدیلو بهیرونو ترمنځ انتخاب وکړي.

خو هېڅ ښوونکی که څه هم خپله دنده به یې په دقیق ډول ترسره کړي وي تضمین نه شي کولی چې شاګرد به یې په ازمونه کې نقل ونه کړي، ښوونکی چې ډېر څه کولی شي هغه دادي چې شاګرد (الف) پوه

---

[۳] سقراط دا هم فکر کاوه چې وګنو چې په خپله ښوونکی دفضیلت خاوند دی، په دې حال کې څومره چې شاګرد ته فضیلت ډېر درس ورکړل شي. هغومره به هغه فضیلت ډېر عملي کړي زما خواب به دا وي: څومره ډېر چې دفضیلت خاوند ښوونکی دفضیلت په عمل باندې سروالي وکړي هغومره ډېربه شاګردان فضیلت عملي کړي.

www.sikaraam.com

شي چې څه شي سم او څه شي ناسم دی. (ب) پوه شي چې دا څله دغسې دی او (ج) پوه شي دهغه څه په اړه چې دې پوهېږي يو څه فکر وکړي چې باید څه وکړي. که په دې برسېره شاګرد سم سلوك کوي نوښووونکي به دخپلو زحمتونو ثمره لیدلی وي.

## ښکلا پېژندنه او پوهنه

ښکلا پېژندنه دښکلا په ډګر کې ارزښتونه څېړي. دښکلا دارزښتونو ارزونه په معمولي ډول ستونزناکه ده ځکه احتمال شته چې هغه شخصي او عندي وي. دهنر يو خاص اثر په بېلو بېلو کسانو کې ډول ډول اغېزې توليدوي(de gustibu non disputandumest) هغه کس هغه څوك دی چې حکم وکړي کوم عکس العمل به تر نورو مناسب عکس العمل وي؟

په ښتيا څوك خو داچې ومنو چې دښکلا پېژندنې افاقي ارزښتونه موجود دي چې پر دې حال کې به موږ دا چې ښه هنر څه شی دی دمتخصصانو په حکم باندې دتکيه کولو انتخاب ولرو نو موږ به په ښکلا باندې دصلاحيتی معيارونه له مخې حکم وکړو او شايد ادعا وکړو چې دهنر هر هغه اثر چې دېرې نومرې وګټي په تاريخ کې به لوړ مقام ونه لري. دمبتدي لپاره افاقي معيارونه ګټور دي او هغه دنقد ددوام لرونکو معيارونو حيثيت لري په ادبياتو، هنر او موسيقی کې داسې کتابونه چې شاګردان دارزونې او قدرکولو په موضوعاتو پوه کړي باید ددغو معيارونو له مخې کښل شوي وي، خو دا واقعيت چې دصلاحيت خاوندنقادان کله يو اثر ارزوي ممکن په خپلو کې په پراخه پيمانه سره اختلاف ولري. موږ بېرته هغې پوښتنې ته ورګرزوي چې وايي: څوك دې ووايي چې کوم عکس العمل په ښتيا مناسب عکس العمل دی؟ له بده مرغه په دغې پوښتنې کې موږ ساينس ته مخ اړولی

www.sikaraam.com

نه شو. نو ساینسي پوهه دهنري اثارو په ارزونې کې تر زیاتې اندازې بېخایه ده. په ښکلا پېژندنه کې دېېريو په بهیر کې یوه مهمه پوښتنه داده چې هنر باید تمثیلي وي یا درامنځته کوونکي دتخیل محصول وي؟ دلومړي نظر له مخې هنر باید ژوند او انساني تجربې هغسې چې دي تمثیل کړي. موږ باید دمنې یا لمر پریوتو منظره چې په طبیعي ډول انځور شوې وي په اسانۍ سره وپېژنو. موږ باید دیوه ګل لوښې دګلانو په چوپ ژوند سره چې هلته هر ګل دبرښنه توږل شوې او ګلپاڼې یې دغسې ژوندۍ او طبیعي ښکاري چې موږ دځان پر لوري کش کړي او موږ مجبوره شو لمس یې کړو، دزړه په تل کې ورته ځای ورکړو. ددویم فکر له مخې هنرمن دژوندانه دهر اړخ په اړه چې علاقمن کوي یې ځان په بې اختیاره ډول افاده کوي. ایډیاګاردیګاس (Edgar Degas) وایي: "انځور باید هېڅکله نقل نه اوسي ... هغه هوا چې موږ یې دپخوانیو استادانو په انځورونوکې وینو هغه هوانه ده چې موږ یې تنفس کوو." هنرمن ازاد دی هغه له خپلوشخصي میلونو او تجربو څخه تخلیق کوي، هغه دنړۍ دښکلا او کرغېړنتیا په اړه خپل احساسات څرګندوي. شاید وښیي چې نړۍ دده په فکر باید څنګه وي. دهغه په فکر رامنځته کوونکی بېحده ازادي لري چې له خپلې وسیلې نه په هغه ډول استفاده وکړي چې دهغه په ګوګل کې دننه رامنځته کوونکی قوه یې ورهڅوي.

ددواړو فکرونو له مخې دهنر دخاصې سوژې او دګر په اړه پوښتنې رامنځته کېږي. ځینې خلك فکر کوي چې که هنر دژوند افاده وي هغه باید له ټول ژوند سره سر او کار ولري. ناشولت. بې لارې شوی. ریشخند کېدونکی او بېساري. ځینې بیا وایي چې هنر باید ټولنیزه دنده تر سره کړي. هنرمن باید دخپل عصر له ټولو انسانانو سره وګرېږي. نه یوازې له یوې ځانګړې ډلې سره اوس یا وروسته، نوربیا

www.sikaraam.com

دهنرمن په تش نامه ټولنيز مسوليت باندې شك ښكاره كوي، ټولنه تغير كوي. يو هنرمن چې په يوه نسل كې به زيږېدلى وي خو دبل نسل لپاره به تخليق كوي. پر دې دې محكوم شي چې ويې نه شو كولى خپل مهال وال خوښ كړي؟ هغه هنرمن چې خپل نقادان خوښ كړي دي په غالب گمان چې دخپلو رامنځته كوونكو قوتونو پاى ته به رسېدلى وي، ځكه چې دهغه نقادان دمنل شويو معيارونو له مخې قضاوت كوي. په واقع كې هغه هنرمن چې دنقادانو له خوا رد شوى وي ممكن حقيقي رامنځته كوونكى اوسي.

تدريس هم هنر دى. هغه ځانله دښكلا خاص ابعاد لري. موږ وايو چې ښه ښوونكي په خپل كار كې هنرمن دى، داچې ددې مانا څه ده وروسته به پرې وغږېږم. دلته به خپله وعده ترسره كړم چې هغه د ارزښت او اخلاقياتو دتيورۍ ګانو په اړه ددريو فلسفي ښوونځيو له نظره په لنډ ډول بحث كول دي.

## ايډيالستي ارزښتونه اوپوهنه

دايډيالست لپاره اخلاقيات او ارزښتونه مطلق دي. دده په فكر ښه حقيقي او ښكلى له يوه نسل نه بل ته او له يوې ټولنې نه و بلې ته په بيخكي ډول تغير نه كوي، هغه په خپل جوهر كې ثابت پاتې كېږي هغه د انسان له خوا رامنځته شوي نه دي، بلكې په اصل كې دكايناتو دماهيت يوه برخه ده.

دايډيالست په فكرشاگرد ته بايد پائيدونكي ارزښتونه او داچې دي، دهغو له مخې څنګه ژوند وكړي، تدريس شي، ځكه چې هغه دې له هغه لالوى روح سره همغاړې كوي چې دى وربورې تعلق لري، دى بايد درك كړي چې نه يوازې په خپله په ده باندې يا ټولنې باندې يا حتى په عمومي ډول په انسان بلكې دكايناتو په اصلي روح باندې تېرى

www.sikaraam.com

کوي. دهغه ارزښتونه یوازې هغه وخت تر هغې اندازې مهم کېږي چې هغه په نهایت کې د کایناتو له روحي نظم سره تړاو پیدا کړي. هغه نظم چې ښووونکی یې زده کوونکو ته روښولی شي.

دایډیالست په فکر بدي نیمګړې نیکي ده نظر دې ته چې په خپل ذات کې مثبت څیز وي. هغه له بد تنظیم او دسیستم له نه شته والي څخه پیدا کېږي چې په کایناتو کې تر اوسه هم شته. څنګه چې موجود روح خپل ځان وار په وار په کایناتو کې څرګندوي. نړۍ به نوره هم عقلي اوله. پوره وګرزي او بدي ورو ورو له منځه لاړه شي. په حقیقت کې دیوه ایډیالست ښووونکي لپاره دهېڅ فکري ښوونځي له نظره بدماشومان نه شته. بلکې یوازې هغسې ماشومان شته چې دکایناتو له اساسي اخلاقي نظم نه یالرې غورځېدلی دي یا یې پوره درك کولی نه شي.

افلاتون پر دې نظر و چې ښه ژوند یوازې دنیکې ټولنې په داخل کې ممکن دی. په خپل جمهوریت نومي اثر کې ښه ټولنه هغه بولي چې دفیلسوفانو پاچایانو دیوې ډېرې خاصې متقي ډلې له خوا چلوله کېږي، هېګل څرګنده کړه چې فرد خپل پوهاوی او ښه کار ونه له ښه دولت نه زده کوي چې دی دهغه یوه برخه ده. دکانت په نظر مطلوبه ټولنه هغه ده چې هلته انسانان یو بل دغایې په حیث ګڼي نه دوسیلې په حیث . دهغه مشهور "مطلق شرط" (Categorical imperativre) وایي چې موږ باید پر دې عمل وکړو چې زموږ فردي اعمال لکه دطبیعت عالمي قانون په شان اوسي چې هغه ټول انسانان په ورته شرایطو کې سره ونښلوي. (۴)

---

(۴) کانت خپل "مطلق شرط" یا "قطعي ضرورت" په دغو الفاظو کې بیان کړی " په دې ډول عمل وکړه چې ستا دارادې څرګندونه دیوه عالمشمول قانون لپاره داساس په حیث په مهم ډول دتطبیق وړ کېدلی شي." ژباړونکی

www.sikaraam.com

که داسې وګڼو چې هېڅ څوك نه غواړي دهغه ناوړه کړه وړه عمومي شي موږ به لـه هرچانـه ددې هيلـه وکړو چې دکـانت د وينا لـه مخې لـه بدې کولو نه ډډه وکړي. هغـه وخت چې يو زده کوونکی ناوړی سلوك کوي. ښووونکـی بـه يـې وپوښتـي چې کـه هرڅوك دغـسې وکړي څه بـه پېښ شي؟

ايـادي دخپلـو همزولـو لپـاره ښه سـر مشـق پرېږدي چــې هغـوی هماغــسې وکړي؟ (ښووونکي دې هم له ځان نه وپوښتي چې دی به خپلـه هم دخپلو زده کوونکو لپاره ښه مثال دی چې هغوی يې پيروي وکړي!.)
دانضباط ماتول دخان خاني دنښې په شان ګڼل کېږي چې بايد دهغو اخلاقي اصولو له مخې مجازات شي، چې دمهال په بهير کې دکلتور يوه برخه شوې ده. دايډيالست په فکر ددغو اصولو ريښې په مذهب کې لږ تر لږه په دغه نظر کې دي چې وايي ژوند تل ترتلـه دی. په دې اړه هرمن هورن (Herman Horne) يوه ښکلې فقره لري چې د ايډيالزم دغـه روان حال پر دې ډول څرګندوي.

" هېڅ انسـان هېڅکله تول هغـه نه دی چـې کېدلـی شـي . دهغـه هدف دهغه په ژوند سره پای ته نـه رسېږي. نـه هم دی پـه مصرفـه شوې نړۍ کې ژوند کوي. نه عمر له منځه ځي، نـه رواج مړاوی کېږي، نـه د فيلـسوف دحقيقت مينه. نه دهنرمن دښکلا مينـه يادولي دتقوا مينـه. تل هلته نورڅه شته چې زده شي او وکړل شي انســان خپله اراده چې يوه شي خوند واخلي ترسره کړي. دخپـل ژونـد دنـامعلومو کلونـو پـه دوروننو پوړې نه محدوده کوي. دهغه پلاتونـه دمرګ درز نښلوي، هغـه پای ته نه رسېدونکی وخت غواړي"

www.sikaraam.com

## ریلتي ارزښتونه او پوهنه

ریلستان له ایډیالستانو سره پر دې کې یو دي چې اساسي ارزښتونه په بیخکي ډول دایمي دي خو دوی په خپل منځ کې په خپلو دلایلو کې چې ولې دغسې سوچ کوي سره وران دي. لرغوني ریلستان د ارسطو په شان فکر کوي چې دغسې عالمشمول اخلاقي قانون چې دعقل لپاره میسردی شته چې هغه پر موږ تولو باندې دعقلي موجوداتو په شان واجب التعمیل دي. عیسوي مذهبي ریلستان وایي چې موږ له عقل نه په استفادې سره ددغه اخلاقي قانون په ډېر څه پوهېږو خو دوی پر دې ټینګار کوي چې دغه قانون دلوی څښتن له خوا تثبیت شوی او هغه موږ ته عقلي قوه راکړې چې په هغې درك وکړو. موږ به وکولی شو چې دغه اخلاقي قانون له اسماني مرستې نه پرته درك کړو. خو څنګه چې زموږ طبیعت په اصلي ګناه(original sin) **(۵)** سره لړل شوی دی. موږ هغه دلوی څښتن له مرستې نه پرته عملي کولی نه شو.

ساینسي ریلستان د ارزښتونو په اړه تر طبیعت نه اخوا تائید نه مني. دوی وایي چې ښه هغه څه دی چې موږ له خپل چاپیریال سره

---

(۵) - اصلي ګناه: دغه حقیقت یوه نیبه ده چې وایي ټول انسانان دګناه کولو توان لري او زموږ په طبیعت کې غته نیمګړتیا شته. دعیسوي تعلیماتو له مخې "اصلي ګناه" هغې استعارې ته اشاره ده چې د انجیل دیوې کیسې په قرار ادم (ع) له منې خوړلو سره دجنت له لطف نه محروم شو دبدیو دغه غوښتنې چې داصلي ګ... ... خلاصه شوی دی، خلك دې ته هڅوي چې هغه څه وغواړي چې دغوښتلو ضرورت یې نه لري او دلزوم په وخت کې دهغو د تر سره کولو لپاره له زور او شدت نه کار واخلي. دعیسوي نظر له مخې دله ییز تشدد چې ددولتونو له خوا دیوه بل پر ضد تري نه استفاده کېږي دهمدغه اساسي فردي طبیعت ښکارندوی دی، ځکه چې دولتونه له افرادو څخه جوړ دی. یوازې هغه وخت چې افراد تغییر وکړي، دولتونه به تغییر وکړي، دیوډ زیګلر. ځګ. سوله او نړیوال سیاست. لوید یخ واشنګټن پوهنتون خپرونه. ۱۹۸۷، ۱۱۲، مترجم.

www.sikaraam.com

متوافق کوي او بد هغه چې موږ ترينه بيگانه کوي، څنګه چې هم انساني طبيعت او هم فزيکي طبيعت ثابت دي هغه ارزښتونه چې يو له بل سره متوافق کوي هم ثابت دي. دا سمه ده چې اجتماعي موسسې او کړه په بېلو بېلو برخو کې په ډېره اندازه تغير کوي. خو انساني ارزښتونه په هماغه ډول په خپل حال پاتې کېږي. په داسې حال کې چې انسان د ايډيالستانو په فکر پوره کېدونکی دی ريلستان هغه د نيمګړي په شان ګڼي

ريلستان وايي چې ښوونکی بايد ډيرې پوره تاکل شوي ارزښتونه ابلاغ کړي. کوم هغه اساسي اخلاقي او د ښکلا معيارونه چې موږ يې ماشومانو ته تدريسوو بايد په موقتي موضوعاتو سره متاثر نه شي ماشومان بايد د هغه څه په اړه چې په افاقي ډول ښه او ښکلي وي د سم او ناسم ماهيت په څرګند ډول زده کړي او په دې کار کې د اخلاق او ښکلا په طرز کې تغيرات په نظر کې ونه نيسي

لرغوني ريلستان تينګار کوي چې ښوونځي ګانې په موضوع باندې په تمرکز سره د غسې افراد وړاندې کړي چې د هر څه په اړه معلومات او له هر شي سره علاقه ولري او په ارسطويي حس سره اعتدال خو ښوونکی اوسي. ماشوم ته بايد وښودله شي چې د عالمي مطلقو معيارونو له مخې ژوند وکړي ځکه چې هغه څه چې حق او سم دی د انسان لپاره په عمومي ډول سم دي، نه يوازې د يوه خاص نژاد او ټولنې دغړو لپاره د ماشومانو لپاره مهمه ده چې ښه عادتونه غوره کړي. ځکه چې نيکي انسان ته په اتوماتيکي ډول نه ورځي، بلکې هغه بايد زده کړه شي. ډيرې عيسوي مذهبي ريلستان وايي چې طبيعتي اخلاقيات غير کافي دي، ځکه چې انسان د دې لپاره خلق شوی دی چې له طبيعت نه واوړي او ترېنه اخوا لاړ شي. د اخلاقي پوهنې حقيقي مقصد د روح ژغورنه ده.

www.sikaraam.com

ماشوم ته باید ور زده کړل شي چې خپل روح دفیض او زړه سواندي په حال کې وساتي. یانې داچې له اسماني فیض څخه ډك او له فاني ګناه څخه پاك وي. هغه باید نیکي وپالي او بدي ته شا کړي، نه یوازې له دې امله چې عقل دغسې حکم کوي، بلکې له دې امله هم چې دا دلوی څښتن اراده ده چې دی باید همدغسې وکړي.

عیسوي مذهبي ریلست هم دانسان اراده او هم دهغه عقل روزي، لوی څښتن که څه هم ژغورل کوي فرد باید فیصله وکړي چې منې یا ردوي یې. نو باید په اراده دې "معتاده کړي" چې ښه انتخابونه وکړي. څنګه چې دانسان طبیعت په اصلي ګناه سره لړل شوی دی، پوهنه په اساس کې سموونکی رول لري چې باید ویې لوبوي. ټینګ انضباط په کار دی چې ناوړي عادتونه له منځه یوسي او ښه عادتونه وروزي، خو عقل واکمن نه دی. په حقیقت کې دځېږونو په ماهیت پوره پوهاوی ترعقل نه اخوا میسر دی او موږ باید په عقیدې باندې ډډه وکړو چې هلته مو ورسوي. عقل باید دعقیدې ملا وتړي څکه لوی څښتن هغه موږ ته ددې لپاره راکړی چې موږ هغه په ښه ډول پېژندلی شو.

ساینسي ریلست وايي چې سم او ناسم له طبیعت نه زموږ په پوهاوي سره پیداکېږي، نه له مذهبي پرنسیپونو څخه، اخلاقیات باید په هغه څه ډډه وکړي چې علمي پلټنو هغه دانسان لپاره دژوېږو د ډېر عالي نوع په ډول ګټور بللی دی. ناروغي بدي او روغتیا نیکي ده، موږ باید نیکي ته وده ورکړو، په دې لاره سره چې دخپل ارثي جوړښت دښه کولو لپاره ګامونه واخلو او دخپلې هستوګنې دچاپېریال دسمولو په موخه په بدی باندې غلبه وکړو.

زه دریلستي ارزښتونو دغه لنډ بیان دهري براوډي (Harry Broudy) له دغې پوښتنې سره پای ته رسوم چې وايي: ژوند به څنګه په افاقي او نفسي ډول ښه شي؟" دهغه په فکر ددغې پوښتنې ځواب په "ځان ــ

www.sikaraam.com

روزنه" کې دی. یانې دفرد دظرفیت په هغسې روزنه کې چې هم دتجربې په عقلانې او هم اخلاقي ډګرونو کې تل پاتیدونکي ارزښتونه لاسته راوړي. " دا دپوهنې لپاره دفرد له خوا دهغه دخپل مهال تر ټولو ښو او اصیلو کلتوري منابعو دمختص کولو مانا لري.

ددې مانا دانساني ژوند په هر اړخ کې دپوره ماهر کېدل دي. (خو) دغسې مفهوم شته چې په هغه کې مسلې او خوابونه نه زاړه او نه نوي دي. دا هغه مفهوم دی چې په هغه کې له مهال څخه ازاد دغسې جوړښتونه پراته دي چې دعالمي رښتین تویونو په بڼه له مهال څخه په ازاد بصیرت کې ځرګند شوي دي".

www.sikaraam.com

## پرګماتیستي ارزښتونه او پوهنه

دپرګماتیست لپاره ارزښتونه نسبي دي. اخلاقیاتي او اخلاقي قوانین دایمي نه دي. بلکې هغه باید څنګه چې کلتورونه او ټولنې اوړي را اوړي هم حتمي ده چې تغیر وکړي. په دې برسېره ددې ادعا نه کېږي چې اخلاقي ارزښتونه له یوې میاشتې نه بلې ته تغیر کوي. له دې نه مقصد دادی چې هېڅ مفهوم باید له هغوشرایطو نه غیر چې په کې پرې عمل کېږي په عالمي ډول په حتمي ډول دتطبیق وړ ونه ګڼل شي. "ته باید ونه وژنې" یو مطلق پرنسیپ نه دی، ځنې وخت به دابه وي چې وژل وکړې ددې لپاره چې دبېلګې په توګه یاله خپل ځان نه دفاع وکړې یا دبل چا ژوند وژغورې. ماشوم باید زده کړې چې سختې اخلاقي پرېکړې څنګه وکړي، نه ډېرو ټینګو ایستل شویو پرنسیپونو ته په رجوع سره بلکې په دغسې پرېکړې سره چې هغه به دانسان لپاره په کوم عملي ګام سره تر ټولو ښې پایلې راوړي.

پرګماتیستان موږ ته په ټینګه وایي چې دخپلو ارزښتونو وړتیا په هغه ډول سره وازمیبو لکه چې دخپلونظریو وړتیا ازمیبو. موږ باید په انساني مسایلو باندې په علمي ډول او دبېطرفۍ په روحیې سره نظر واچوو او هغه ارزښتونه غوره کړو چې هغه به ممکن په غالب احتمال سره حل کړي. دغه ارزښتونه باید له پورته نه پر موږ باندې ونه تپل شي. په هغوباندې دې وروسته له دې چې افاقي شواهدو په اساس ازاد او خبیر بحث شوی وي موافقه شوی وي.

څومره چې یوه ټولنه لاپېچلې کېږي هغه په هماغه اندازه له فرد نه غتې غوښتنې کوي. خو پرګماتیست دفردیت هره هغه مفکوره ردوي


www.sikaraam.com

چې په ټولنيز ښکلېلاك باندې اوړي دى هر هغه ټولنيز نظم هم ردوي چې ديوه شخص فرديت زيږبنې. دووي دفردي فكر او ډلې تائيد د "بحراني مشغولتيا" (critical engagement) په نامه يادوي. هغه مطلوبه ټولنه چې دى يې په نظر كې لري له دغسې خلكو نه جوړه ده چې هغوى به سره له دې چې په خپلواك ډول دفكر كولو زړه ورتيا لري، خانونه له خپلې ډلې سره تړلي گڼي.

ويليم جيمز وايي چې "په مطلق باندې زما عقيده بايد زما دنورو عقايدو لپاره دمبارزه كولو چيلنج اوسي." هغه "زما له نورو هغو حقيقتونو سره ټكر كوي چې هېڅكله نه غواړم هغه په دغه سبب سره ترك كړم." دپرگماتيست ... ـرك داسې دى چې دجيمز په قول دهغه دكتورين "زمونږ تيوري ... ستوي." او كه نور څه نه وي" دلوى ښتن لپاره زمونږ پلټنه پراخوي ... نو دپرگماتيست اخلاقي دليل په څه كې پروت دى؟ جيمز دهغه دكتورين په خپلې ابتكاري طريقې سره دغسې بيانوي: پرگماتيزم "په واقعيت كې په هېڅ ډول نه تعصبونه لري. نه بنديزي جذمي اصول. نه دغسې وچ اصول چې هغه به ثبوت وگڼل شي. هغه پوره ورين تندى لري. هغه به هرډول فرضيه وبولي، هر راز شواهد به وگوري. دهغه دحقيقت يوازينۍ ازموينه داده چې كوم څه تر ټولو ښه تر سره كول كوي ... كوم څه د ژوند له هر اړخ سره ښه اړخ لگوي او كوم څه دعموميت دتجربې له غوښتنو سره تركيب جوړوي. ته وينې چې هغه څومره دموكرات دى، دهغه سلوكونه متحول او ډول ډول دهغه سرچينې شتمنې او نه تماميدونكي او دهغه پايلې ددغسې دوستي دي لكه دمور طبيعت چې وي."

ددغو دوو فصلونو په پوهنه كې دفلسفې دځينو ايډياگانو وندډه وښودله. په دغو وندو باندې به په راتلونكي فصل كې دپوهنې دتيورۍ گانو په اړه لږ څه اوږد بحث وشي. په هغو كې به په خپله دمربيانو

www.sikaraam.com

نظریې هم وکتلی شي. دغه تیوري ګانې که څه هم په هغو فلسفي موضوعګانو پورې تړلې دي چې ومو کتلې له هغو موضوعګانو څخه بحث کوي چې د پوهنې واقعي تمرین ته مختصې دي.

www.sikaraam.com

# دریم څپرکی

## دپوهنې اوسنۍ تیورۍ ګانې

د "تیوري" کلمه دوه اساسي ماناوې لري. هغه هسې فرضیې یا دفرضیو هغه ټولي ته ویل کیږي چې په مشاهدې یا تجربې سره تائیده شوې وي. لکه دجاذبې تیوري. هغه داسې هم دمنظم سوچ وهلو یا دمنسجمو فکرونو دیوه ټولي لپاره بل عام نوم دی. په لومړني مفهوم سره ددغې تیورۍ په اړه پوهنه دنورو انکشافاتو انتظار کوي او موږ به په څلورم فصل کې دهغې په اوسنۍ برخې باندې رڼا واچوو. دتیورۍ ددوهم مفهوم په اړه پوهنې دتائید وړ یو څرګ معلومات غونډ کړي دي.

په دغې برخې کې به په هغو څلورو پوهنیزو تیوریو وغږیږم چې دریفورم پروګرامونو ته منتج شوي دي. دغه تیورۍ ګانې که څه هم له منظمو فلسفو څخه راوځي خاصې ځانګړتیاوې لري څکه چې هغه دپوهنې په بیسارو تجاربو سره تر ډیره حده پورې اغېزمنې شوي دي. دپوهنې په اړه دتفکر په دوو طرزونو د ښته والي فلسفه او تحلیل باندې به وروسته په بېلو بېلو فصلونو کې وغږیږم. په امریکې کې دپوهنې هغه لومړۍ تیورۍ چې تر ډیره حده پورې یې ځان ته پام اړولی و. دترقی یا وړاندې تګ فلسفې (progressivism) په نامه یاده شوه. د وړاندې تګ یا مترقي فلسفه چې اوس به یې بیان وشي دپوهنې په ډګر کې په انقلابي قوت سره هسکه شوه. ویې غوښتل چې دکلونو کلونو تمرینونه په دغسې نوې ډوله پوهنې سره بدله کړي چې په اجتماعي تغیر او دسلوکي ساینسونو په موندنو باندې بنا وي. دمترقي خوځښت

www.sikaraam.com

قوت او هغه خپروني چې دهغه په اړه وشوې دهغه پر ضد. انقلاب لپاره ډګر هوار کړ له سره ژوندی شوي محافظه کارۍ دمترقینو له حد نه ډېر وړاندې تګونه محکوم کړل په همدې مهال کې چې دهغوی خینې اعتدالي پروګرامونه يې غوره کړل. دغه خوځښت دتل ترتله توب فلسفي(perenniahsm) په نامه باندې يادشو. زه به اوس دلته په هغه بحث وکړم څکه چې دهغه اساسي موضوعات دمترقي تیوری نه دمخه بیاز شوي وو.

## دتل ترتله توب فلسفه

تل ترتله توب پالان (parennialists) دنوي توب او اوښتون په اړه دتینګار پرځای په مطلقو پرنسيپونو باندې زور اچوي ددوی په فکر دسترو تولنیزو بدلونونو سره سره تل ترتله توب تر اوښتون نه ډېر حقیقي دی هغه ديوه ايډيال په حيث لا مطلوب هم دی. دمخ په زياتېدونکې بې يقيني توب او لږ پايښت توب په نړۍ کې بل هيڅ څيز به دومره ګټور نه وي لکه چې په پوهنيز سلوك باندې دپوهنيزې غايې او ثبات په اړه ټينګښت به وي. دتل ترتله توب فلسفي اساسي اصول به زه دلته تر شپږو نومونو لاندې وګورم

دانسان ماهيت د اوړېدونکو چاپېريالونو سره سره په ټولوځايونو کې يوشان پاتې کېږي. نو پوهنه بايد دهرځای لپاره هماغه يوه اوسي. پردې اړه رابرت هچنس (Robert Hutchins) ليکي - ديوه تابع مدني فرد دنده ممکن له يوې ټولنې نه وبلې ته توپير ولري. خو دانسان په حيث د انسان دنده به په هر مهال کې يو شان وي، څکه چې هغه د انسان په حيث دهغه له طبيعت نه راولاړېږي. دپوهنيز سيستم مقصد په هر مهال او هرې ټولنې کې چې هلته يو سيستم وجود لرلی شي. يو شان وي. دغه مقصد دانسان په حيث دانسان سمول دي "

www.sikaraam.com

یا دمارتمر ادلر (Mortimer Adler) په الفاظو: "که انسان عقلي حیوان او دتاریخ په ټول بهیر کې په طبیعت کې ثابت وي له کلتور یا مهال نه پرته په هر پوهنیز پروګرام کې ځینې نه اوړېدونکي خاصیتونه باید موجود وي."

پوهه هم په هرځای کې یوشان ده، که نه وای پوهانویه په هېڅ ځیز باندې هېڅکله سره توافق کړی نه وای. نظر البته بېل دی، په نظر باندې انسانان ممکن سره جوړه ونه کړي. خوکله چې پرې جوړه وکړي هغه بیا پوهه کېږي. داسمه ده چې دپوهې حاصلول اسان کار نه دی او ځینې ماشومان میل لري چې ورسره مقاومت وکړي. دا هم سمه ده چې ځینې ماشومان تر نورو په اوږده موده کې زده کوي، خو دا بس ددې مانا لري چې موږ باید له هغوی سره ډېر وخت تېرکړو. تل ترتله توب پالان پوښتي چې ایا کله چې موږ ماشومانوته نظر دې ته چې دعقلاني انکشاف په اساس ترقي ورکړو دعمر له مخې یې ورکړو موږ دبرابرۍ ناسم نظر نه تشویقوو؟ ایا دا محتمله نه ده چې هغوی به دخان درناوی لوړه درجه په دې وګټي چې پوه شي دوی دغه پرمختګ دهغو ازموینو په تېرولو ترلاسه کړې لکه چې همزولو یې تر لاسه کړی دی؟

ځنګه چې عقلیت د انسان ډېر لوړ خاصیت دی دی بایدله هغه نه په دغسې ډول کار واخلي چې خپل انسیاقي طبیعت په عمدي ډول دغوره شویو مقاصدو له مخې پر تنظیم کړي. انسانان ازاد دي خو دوی باید دا زده کړي چې خپل عقل وروزي او خپل هوسونه کنترول کړي. کله چې یو ماشوم په زده کړه کې نه بریالی کېږي ښوونکی باید په ناوړې چاپېریال یا دېښنو په بدمرغه روحیاتي بهیر باندې ملامتي وانه چوي. ددې پر خلاف دا دښوونکي دنده چې د زده کړې په برابر کې اساساً په عقلاني لارې سره چې هغه به دټولو زده کوونکو لپاره یو شان وي په دغو کمزوریو باندې غالب شي داسې هم ښوونکي باید بې دسپلینه نه

www.sikaraam.com

وي په دې دليل چې يوازې په دې ډول به شاګردله خپلو تشنجاتو نه ځان خلاص کړي او خپل ربنتياني ځان به څرګند کړي. هېڅ زده کوونکي ته بايد اجازه ورنکړل شي چې خپله پوهنيزه تجربه په خپله وټاکي ځکه چې کوم هغه څه چې هغه يې غواړي ممکن هغه نه وي چې هغه يې بايدولري.

دا دپوهنې دنده ده چې دټل ترتله حقيقت پوهه تلقين کړي. دهيچنس دمشهور نطق له مخې "دپوهنې ضمني مفهوم تدريس دی، دتدريس مفهوم پوهه ده، پوهه حقيقت دی. حقيقت په هر ځای کې يوشان دی. نو پوهنه بايد په ټولوځايو کې يوشان وي." پوهنه بايد هڅه وکړي چې فرد له نړۍ سره لکه چې ده متوافق نه کړي بلکې له هغه سره يې متوافق کړي چې حقيقي دی. له ربنتين توب سره تطابق دزده کړې اصلي غايه ده.

پوهنه دژوند تقليد نه بلکې دهغه لپاره تياری دی، ښوونځی به هېڅکله "ربنتيني ژوند حال" نه وي. نه بايد وي ښوونځی دماشوم لپاره دغسې يو مصنوعي ترتيب دی چې دی هلته دخپل کلتوري ميراث له ډېرو ښو کارنامو سره روږدی کېږي. دهغې دنده داده چې ددغه ميراث درک وکړي او څه وخت چې ممکنه وي په دغو کارنامو باندې په خپلو کوښښونو سره څه ورزيات کړي.

زده کوونکي ته بايد ځينې هغه بنسټيز مضمونونه تدريس شي چې هغه به دنړۍ له ترتله توبونو سره روږدی کړي. هغه بايد هغو زده کړو ته کش نه کړل شي چې په هماغه مهال کې مهم ښکاربدل. هغه ته بايد ددې اجازه هم ورنکړل شي چې هغه څه زده کړي چې په يوه خاص مهال کې هغه ته زړه راکښونکی وي. دی بايد دخپلې ژبې، نورو ژبو تاريخ، رياضياتو، طبيعي علومو، فلسفي او ښکلو هنرونو زده کړه وکړي او دا په دې چې" ديوه عقلي حيوان بنسټيزه پوهنه دهغه دعقلي قوتونو

www.sikaraam.com

سپلین او دهغه دعقلاني استعداد یا ددماغ تشکیلوي' دغه دسپلین دلبرالي فنونو. دلوستلو. اوریدلو. لیکلو او وینا کولو دفنونو له لارې او خامخا دفکر کولو له لارې حاصلیږي. څکه چې انسان یو ټولنیز او همداراز یو عقلي حیوان دی او دهغه عقلاني ژوند په هغې ټولنې کې کیږي چې هغه یوازې د انساني مفاهمې له لارې میسرېدلی شي. دغه فنون چې تل دنظم او دسپلین تمثیل کوي، دلبرالي یا عمومي پوهنې جوهر تشکیلوي' حرفوي، صناعتي او پوهنې ته ورته نور ډولونه به هم په کې شامل وي. په دې شرط چې دهغوی تدریس په عقلاني لحاظ سم وي. خو ښوونځی ددې لپاره نه ده چې دحرفوي زده کړې لپاره روزنه وکړي ښه به دا وي چې هغه په ساحه کې تمرین او عمل کوونکو ته پرېښودل شي. داسې هم ښوونځی باید دټولنیزو سمونونو په موخه سیاسي تبلیغونه ونه کړي، دموکراسي به هغه وخت پرمخ ولاړه شي چې خلکویه په سم ډول تعلیم کړی وي نه له دې امله چې هغوی ته به تعلیم ورکړل شوی وي چې دټولنیزو سمونونو لپاره پارونې وکړي.

زده کوونکي دې دادبیاتو. تاریخ. فلسفې او ساینس ستر اثار ولولي چې په کومو کې چې انسانانو دتاریخ په بهیر کې خپلې ډېرې لوړې هیلې او کارنامې څرګندې کړي دي، یو زده کوونکي دهغو په لوستلو سره هغه حقیقتونه زده کوي چې ډېر مهم دي تر هغو نه چې دی یې دخپلو علاقمنیو له مخې یا دخپل مهال په ډګر کې په نتوتلو سره ترلاسه کوي. مارتمر ادلر دغه فکر څومره ښه په لنډ ډول ادا کړی دی.'

'که چېرې فلسفي عقل او همداراز علمي پوهه موجوده وي، که لومړنی له دغې بصیرتونو او نظریو څخه جوړه وي چې له یو وخت نه بل ته لږ تغییر کوي اوکه وروستی حتی ډېر پائیدونکي مفهومونه او نسبتاً ثابت میتود هم ولري. که چېرې دادبیاتو ستر اثار او همداراز فلسفه دانسان له دایمي اخلاقي مسلو نه غږېږي او داتانانو هغه

www.sikaraam.com

عالمي فکرونه افاده کوي چې په اخلاقي مسلوکې نغښتې دي. که دغه څيزونه همدغسې وي نو دلرغونو او منځنيو او همدا راز داوسنيو عصرونو ستر کتابونه دپوهې او عقل غټه زېرمه ده. دکلتو دغسې يوه عنعنه چې بايد هر نوی نسل ورسره اشنا کړي. ددغو کتابونو لوستل دلرغونپېژندنې دمقصدونو لپاره نه دي. علاقمنې دلرغونپېژندنې يا فيلالوجيکي نه ده بلکې دغه کتابونه بايد ولوستل شي څکه چې هغه اوس هغسې له عصر سره برابر دي لکه هغه وخت چې ليکل شوي وو او دا چې کوم هغه مسايل چې دوی پرې بحث کوي او هغه ايډياګانې چې دوی يې وړاندې کوي ددايمي او پای ته نه رسېدونکي پرمختګ دقانون تابع نه دي"

دتل ترتله توب پالونکو په فکر د ډېرو امريکايي خوانانو دماغونو په عقلاني موضوعاتو کې تمرين هېڅکله کړی نه دی، څکه چې په خپله ښوونکي تر ډېره حده پورې بې تفاوته دي او ميدان ژر پرېږدي. دا ډېره اسانه ده چې شاګردانو ته ددوی په ګام او دا چې دوی په خپله څه شي غواړي درس ورکړل شي. که موږ دماشوم سطحي تمايلاتو ته اجازه ورکړو چې وټاکي څه شی غواړي زده کړي نو موږ به په واقع کې ددې خنډشولو چې هغه خپلو حقيقي استعدادونو ته انکشاف ورکړي، خان درك. ځان دسپلين غواړي او ځان دسپلين يوازې په باندنې دسپلين سره ترلاسه کېږي، هغه لوړې علاقمنې ادبي، هنري او مذهبي چې يو يادوه يې په هر يوه کې په پراته ډول شته بې له سخت زيار او بې پر کار اچونې څخه ته غوړېږي. دا ډېره اسانه ده چې په دغو سمتونو کې دماشوم استعدادونه لېږ وګڼو. ولې هريو په څينو عقلاني ډګرونو کې پڅا نه کړو" په يقين سره چې دا لا ډېرلوړ وړ مقصد دی نظر دې ته چې په عقلاني معمول توب باندې بسيا وکړو او دغسې معمولي توب په غلطه له فردي ازادۍ سره برابر وګڼو

www.sikaraam.com

## دتل ترتله توب په فلسفې انتقادي بحث

تــل ترتلــه تــوب پــالان ممكــن پــر دې وتوانــېږي چــې "عقلانــي ارستوكراسي" ته وده وركړي او خپل تعليمات دسترو كتابونو پخوانۍ عنعنې پورې محدوده كړي، دوى ددې په قدر كولو كـې ناكامېږي چې كه څه هم ډېرشاګردان هغه خاص عقلاني استعدادونه نه لري چې دتـل ترتله توب فلسفه پرې ټېنګار كوي، دوى سره له دې هم ښه مدني افراد او مولدكاركوونكي كېږي. دا چې دوى په هغه ډول سختې اكاډميكي روزنې لاندې ونيول شي لكه هسې چې دپوهنتون وړ شاګرد نيول كېږي ددې مانا لري چې په دغه توپير باندې سترګې پټې شي او ممكن دهغوى شخصي انكشاف زخمي كړي. پـه واقع كـې دغـسې تمرين ممكن دهغو اوصافو لپاره خنډ وګرځي چې دهغو اكاډميكو او صافو په اندازه ارزښتناك وي چې دوى يې ممكن په ښوونځي كـې ترلاسه كړي. عقلانـي استعداد دانــسان دشخصيت بس يـو اړخ دى. عقلـي سلوك كه څه هم

دانسان دپرمختګ لپاره حتمي دى مـوږ زغملى نـه شو چې دفرد هيجاني او بېجوړي خوا تابع وګرزول شي.(۶)

(۶) پـه تـل ترتلـه تـوب فلـسفي باندې بـه ډېر نور انتقادونه هم وشـي. خو هغـه درقيبو نظريو په اصولو كې راغلي چې په همدغـه فصـل كې خلاصـه شـوي دي. هـرچېرتـه دانــسان دطبيعت ديوشان والي په اړه به دلته دانسـان پېژندونكي كلايد كلوك هان (clyde kluckhohn) خوابيه وينا راوړو: "هـر انسـان پـه ځينـو خواووكـې (۱) دټولـو نورو انسـانانو غونـدې دى، (۲) دځينـو نـورو انسـانانو غونـدې دى. او (۳) دبـل هـيڅ انسان غوندې نه دى"

www.sikaraam.com

## دپرمختګ فلسفه

دنولسمې پېړۍ په اوښتوسره يو شمېر مربيون دعنعنې پوهنې د افراطي اصول پالنې پرضد چې په سخت دسپلين. غير فعاله زده کړې اوبې هدفو جزئياتو باندې يې ټينګار کاوه پاڅېدل. فرانسس پارکر (Francis Parker) لاد ۱۸۷۰م په لسيزې کې دښوونځي دښمونونو غوښتنه کوله چې وروسته جان ډووي پرهغو بيا نظر واچوه او تر فارمول لاندې يې راوستل. خو د ډووي مهم اثر دسبا ښوونځي تر ۱۹۱۵م پورې خپور نه شو او څلور کاله نورهم تېر شول چې دمترقي پوهنې ټولنه (Progressivre Education Association) جوړه شوه. په دې ډول دپرمختګ فلسفه پخوا تردې چې اتريي محسوس شي ددېرشو کلونو لپاره په حرکت کې وه. دغه فلسفه په خپل لومړني پړاو کې تر ډېره حده پورې فردپاله وه. چې دخپل عصر ضد دود يې ښودله. په همدغه وخت کې يې دکولمبيا دپوهنتون ويليم کلپاترك (William Kilpatrick) څانته کش کړ. دپرمختګ فلسفه دستر اقتصادي کساد (depression) له پيل سره داجتماعي بدلون په حرکت باندې زور واچوه او پردې ډول په فردي انکشاف باندې له خپل لومړني ټينګار نه تېره شوه او پر ځاى يې دغو ايډيالونو پلوي پيل کړه لکه" همکاري". " شريکول" او "تطابق"

په همدغه مهال کې جان چايلډز (John Childs)، جارج کونتس (George Counts ) او بايډبوډ (Boyd Bode) دهغې په خوا کې ودرېدل ډېر وخت کېږي چې دمترقي پوهنې ټولنه له منځه تللې ده او دغه حرکت هغه وخت غبرګ ټکان وخوړ چې شوروي اتحاد دسپوتينك (sputnik) په نامه

www.sikaraam.com

خپله مصنوعي سپوږمۍ څرګنده کړه. (۷) خود پرمختګ فلسفه تر اوسه هم بنایسته اغېزه لري او دغه اغېزه د دغو هم مهالو څومربیونو په واسطه محسوسه ده.

د پرمختګ فلسفې له پرګماتیزم څخه دغه نظر اخیستی دی چې وایي تغیر د حقیقت جوهر دی. نه تل ترتله توب د پرمختګ فلسفه په خپل صاف شکل سره څرګندوي چې پوهنه تل د انکشاف یوه عملیه ده او هغه باید دې ته تیاره وي چې د نوي پوهې او په چاپېریال کې د بدلونونو په رڼا کې خپل میتودونه او خپل سیستونه متعادل کړي د پوهنې خاص صفت باید د نیکي. حقیقت او بنکلا د دایمي معیارونو په تطبیق سره ونه تاکل شي ،بلکې پوهنه باید د تجربې د دایمي بیا رغونې په مطالعې سره معینه شي د دوي وایي" موږ باید د پوهنې تخنیکي تعریف ته ورسېږو او هغه د تجربې بیا تنظیمونه یا بیا رغونه ده چې د تجربې په مانا کې زیاتوالی راولي او هغه قابلیت ډېروي چې په هغه سره د وروسته تجربې بهیر اداره کېږي" خو د پرمختګ فلسفې د خپل انکشاف په بهیر کې پر دې پیل وکړ چې خپل خاص نظرونه را څرګند کړي چې شېږ به یې زه دلته راوړم .

---

۷. د انتقادونو ډېره غټه برخه په پرمختګ فلسفې باندې حواله شوې ده. خو هېڅ وخت هغومره غټه نه لکه د مخلوط تعجب او تحقیر په هغو شپو ورځو کې چې شوروي سپوتنیک هوا ته وتوغول شود. امریکایانو ټینګ باور درلود چې شوروي پوهنه غیر دموکراتیکه. زوړ واکه او نوېږ اتره ده، خو دغه بری به په ساینس او تکنالوجي کې څنګه شرح شي" د نیل په دا وي چې امریکایي ښوونځیو ماشومانو ته چې درس ورکاوه له حده ډېره توجه کړې او مضامینو ته چې یې ورته ښوول له حد نه ډېر لږ پام اړولی دی" د ماشوم محوریت" پر ضد یو ټینګ عکس "عمل وښودل شو د "ماشوم محوریت" له پرمختګ فلسفې سره بیو خانې پېژندل شوی و. ویل کېده چې ښځې ډېروخت کېږي چې امریکایان د خپلو ماشومانو په برابر کې سست شوي ملت د نرمۍ پر لوري روان دی، خو ساتوب باید متوقف شي

www.sikaraam.com

پوهنه باید په خپله ژوند وي، نه دژوند لپاره تیاري. دذکاوت خاوند له تجربې تغیر او بیا رغونې سره سر او کار لري. ماشوم باید د زده کولو په هغسې شرایطو کې داخل شي چې دهغه له عصر سره مناسب او دهغه له تجاربو پر لور متمایل وي، چې په غالب احتمال وروسته په لوی والي کې به ورسره مخامخ شي.

زده کړه باید دماشوم په علاقمنې پورې په نېغ ډول تړلې شوې وي، مترقي مربیون د "تول ماشوم" مفهوم دهغه مفهوم په ځواب کې وړاندې کوي چې دوی یې دماشوم دطبیعت یوارخیز تعبیرونه ګڼي. کلپاترک په "ماشوم . متمرکز" ښوونځي پلوي کوي چې په هغې کې د زده کړې عملیه په عمده ډول دانفرادي ماشوم له خوا تاکل کېږي. دده په فکر یو ماشوم په طبیعي ډول غواړي هغه څه زده کړي چې دده په علاقمنتیا پورې اړه ولري یا داسې ښکاري چې هغه به دهغه مسایل حل کړي. په عین حال کې دی په طبیعي ډول متمایل دی له هر هغه څیز سره مقاومت وکړي چې له پاس نه پرې باندې تپل کېږي. یوماشوم باید زده کړه وکړي ځکه چې دی په خپله غواړي او اړ دی چې زده کړه وکړي، نه لزوماً داسې چې یو بل څوك فکر کوي چې دی باید زده کړه وکړي. دی باید پر دې قادر وي چې دهغه څیز تړاو چې دی یې زده کوي له خپل ژوند سره وګوري نه دکوم لوی شخص د ژوندانه په هغه مفهوم سره چې دهغه وخت ماشوم یې کوي. ددې مانا دا نه ده چې ماشوم دې پرېښودل شي چې هر څه دخپلو غوښتنو له مخې وکړي. دا یو ر... ت دی چې هغه هغومره پوخ نه دی چې دخپلو مهمو هدفونو تشخیص وکولی شي. دی که څه هم باید دخپلې زده کړې دعملیې په ټاکلو کې ډېره برخه ولري سره له دې هم هغه اخري حکم نه دی. دی دښوونکو لارښوونې او هدایت ته اړه لري. یوازې ښوونکی کولی شي دده په خاصو کړو کې مانا درك کړي، سره له دې هم مترقي ښوونکي

www.sikaraam.com

دشاګردانو په وده باندې اثر کوي، دچاپېريال په کنترولو سره چې وده په کې کېږي نه دهغو په مغزو کې دمعلوماتو په تخته کولو سره وده " دژوند په تنظيم کې د ذکاوت دېږوالی او له "چاپېريال سره ذکي نطابق" پېژندله شوې ده. ډووي ښوونکي ته داسې توصيه وکړه: "اوس وګوره چې حالات ورڅ پرورڅ دغسې دي دهغوی خپل فعاليتونه حتماً په دغه لوري حرکت کوي دهغوی ددغسې معراج پرلور."

زده کړه دمسلې په حل کولو سره بايد دموضوع تر اوروليو څخه لومړيتوب ولري. زده کړه دپرمختګ پالانو په فکر په اصل کې دپوهې له حاصلولو نه مرکبه ده او په خپله پوهه مجرد جوهر دی چې ښووونکی يې د زده کوونکو په دماغ کې تخته کوي. دوی څرګندوي چې پوهه "دتجربې دتنظيمولو لپاره وسيله ده" په پرله پسې ډول دنويو شرايطو د اداره کولو لپاره وسيله ده چې تغير کوونکي ژوند موږ ورسره مخامخ کوي، که پوهه اهميت پيداکوي موږ بايد په هغې سره يو څه وکړو. نو هغه بايد له تجربې سره يو ځای کړل شي، ډووي وايي چې دغه ټول موږ له تجربي ساينس څخه زده کړي.

"دکولو او پوهېدلو په عنعنوي بېلتون او دسوچه عقلاني مطالعاتو په عنعنوي حيثيت باندې ترټولو نېغ سوك دتجربي ساينس دپرمختګ له خوا حواله شوی دی. که دغه پرمختګ کوم يو شيز ښودلی وي هغه دادی چې داسې څيز نه شته لکه رښتينې پوهه او ګټور پوهاوي خو دا چې هغه دعمل مولود وي.. انسان مجبور دی چې څه وخت غواړي يوڅه ومومي. په څيزونو باندې يوڅه وکړي. دا دلابراتواري طريقې درس دی. هغه درس چې ټوله پوهنه يې بايد زده کړي." دمجردې پوهې لپاره پلټنه بايد په فعالې پوهنيزې تجربې باندې بدل شي. که مقصد دا وي چې زده کوونکی دټولنيزو او سياسي ايډياګانو دقدر څکه وکړي دی بايد په اجتماعي دموکراسي کې ژوندی علمي تجربه

www.sikaraam.com

وګرزي. په حقیقت کې تجربه یا شخصي تودې سړې او علمي تجربه یا تجریب دپرمختنګ پال د زده کړې دطریقې اساسي کلمې دي، دووي دعنعنوي مضمون محتویات نه ردوي. ددې پر عکس دی ټینګار کوي چې هغه باید وسائل شي. خو دی وایي چې مضمون یا موضوعات پر دې اړه چې انسانان له خپل چاپیریال سره څه کوي په پرله پسې ډول تغیر کوي

په نتیجه کې نه شي کېدلی چې پوهنه په هغو معلوماتو پورې منحصره شي چې یا یوازې یاله داسې کتابونو څخه زده کېږي. دا دپخوانۍ پوهې طلسم نه دی چې مهم دی بلکې دنویو موندنو په رڼاکې پرله پسې بیا رغونه مهمه ده. نو دمسلې حل کول باید بس دوظیفوي پوهې پلټنه ونه ګڼل شي. بلکې هغه باید له مضمون سره" پرله پسې خپرې لګول" وي. خپرې لګول باید یوازې دفزیکي حرکت په شان ونه ګڼل شي. لکه دآزموینو دتیوبونو استعمال یا دپیسو شمېرنه یا د رایې ورکولو لپاره دلاس جګول. بلکې هغه باید دانتقادي تفکر دپخوانیو ایډیاګانو بیارغونې اوکشف په شان هم وګڼل شي.

موږ باید درسمي موضوع دتدریس پرخای مشخصې مسله پېژې ساحې راوړو لکه دوړلو راوړلو وسایل. دمخابرو وسایل او سوداګري، حتی دغه هم پخوا تر پخوا تاکل کېدلی نه شي. دلارنس تاماس (Lawrence Thomas) په عقیده " نو تعلیمي نصاب . له دینه زیات کېدلی نه شي چې ښوونکی به پخوا تر پخوا دهغه عمومي چوکاټ برابر کړي وي او هغه به تر ډېره حده پورې دمنابعو له یوه قطار نه جوړوي چې ښوونکي به پخوا ترپخوا فکر کړي وي چې هغه به دټولګې ددغسې نویو فعلیتونو په شان وګڼل شي چې نویو علاقمنیو او نویو مسایلو ته به منتهي شي. دتعلیمي نصاب واقعي جزئیات باید په ټولګي کې په ګډه له یوې اونۍ نه بلې ته ترتیب شي"

www.sikaraam.com

کلپاترك (Kilpatrick) تینګار کوي چې ددې پرخای چې دتیوري په سطح کې دمجرد اصولو دزده کولو لپاره کوښښ وشي. ماشوم باید خاص موضوعات یا حالات مطالعه کړي لکه دګالیلیو(Galileo) دتجربه کولو طرز یا هغه طریقه چې په هغې سره دهوپي (Hopi) امریکایي هندیان خواړه تولوي او برابروي. مقصد دادی چې زده کوونکي په دې قادر شي له خپلو مسایلو سره په خپله پنجه نرمه کړي په دغسې مشاهدې سره چې نورو په نورو ځایونو کې اوپه نورو مهالونو کې څنګه دغسې کړي دي. زده کوونکي له دغسې پروژو سره ځان مشغولوي چې (الف) دهغه د زده کولو دطبیعي پلټنې له حس نه را پیداکېږي او (ب) څه وخت چې هغه دښوونکي ترهدایت لاندې دټولګي دنورو غړو په همکارۍ سره پرې کار کوي اهمیت پیدا کوي. نو ټولې پروژې باید په شخصي او اجتماعي لحاظ مهمې وي.

دښوونکي رول باید دانه وي چې حکم وکړي، بلکې مشوره ورکړي. شاګردان څنګه چې دوی خپلې اړتیاوې او غوښتنې تاکي چې څه شی زده کړي باید اجازه ولري چې خپل انکشاف په خپله منظم کړي او ښوونکی په زده کړه کې ورته لارښوونه وکړي. ده ته ښایي چې کله چې هغوی له سخت او مشکل کار سره مخامخ کېږي له خپلې لاډېرې پوهې او تجربې نه استفاده وکړي. ښوونکی بې له دې چې دپېښو بهیر اداره کړي له ماشومانو سره هغو هدفونو ته درسېدو لپاره کار کوي چې دواړوخواوو پرې موافقه کړې وي. لارنس تاماس څرګندوي چې "دپرمختګ پالو په نظر ښوونکی بس دلوړې اولیا ښتمنې تجربې خاوند دی. چې دموجودحال په تحلیل کې ورته کار اخلي ښوونکی دصحنې دجوړوونکي لارښود او منسجم کوونکي په حیث بیخي مهم دی، خودی دصلاحیت یوازینی سرچینه نه ده"

www.sikaraam.com

ښوونځی باید نظر رقابت ته همکاري تشویق کړي. انسانان په طبیعت کې اجتماعي دي او له یوه بل سره له خپلو اړیکو نه بیخي ډېر قناعت حاصلوي. پرمختګ پالان پر دې عقیده دي چې په پوهنه کې مینه او ملګرتوب تر رقابت او شخصي ګټې ته لا ډېر مناسب دي، نو پوهنه باید په اجتماعي چاپېریال کې د "تجربې دبیا رغونې" په حیث دانسان په طبیعت کي په "بیارغونې" باندې اوړي. پرمختګ پالان له دې نه انکار نه کوي چې رقابت یوڅه ارزښت لري. دوی داهم وایي چې زده کوونکي باید له یوه بل سره رقابت وکړي. په دې شرط چې دغسې رقابت شخصي وده وروزي. سره له دې هم دوی په دې ټینګار کوي چې دانساني ماهیت دبیالوجیکي او اجتماعي واقعیتونو لپاره تر رقابت نه همکاري زیاته مناسبه ده. کرښتبه فردیت یوازې هغه وخت مجاز وي چې عمومي هوساینې ته خدمت وکړي

یوازې دموکراسي دایدیاکانو او شخصیتونو ازاد خپل منځي حرکت چې دربنتیني ودې لپاره ضروري شرط دی مجاز ګڼي او په واقع کې تشویقوي یې. ښځم او شپږم پرنسیپونه له یوه بل سره تړلي دي. ځکه چې دموکراسي او همکاري دپرمختګ پال په نظر یو بل په غېږ کې نیسي. دلوړې هیلې ډموکراسي "ګډه تجربه" ده. دډووي په وینا " دموکراسي دحکومت ترشکل نه زیات دی هغه په اصل کې دګډ ژوند کولو دګډې مفاهماتي تجربې طرز دی " په دې ډول دموکراسي، وده او پوهنه له یوه بل سره تړلي دي، ښوونځي ددې لپاره چې دموکراسي تدریس کړي باید په خپله دموکراته وي باید د زده کوونکو حکومت دنظریو ازاد بحث د زده کوونکو. ښووونکو ګډه پلان جوړول او دپوهنې په ډګر کې دټولو ګډون تشویق کړي. خو ښوونځي باید زده کوونکو ته دنوي اجتماعي نظم عقاید تلقین نه کړي شاګردانو ته د اجتماعي او سیاسي عمل په خاص پروګرام کې تدریس به د زورواکي توب

www.sikaraam.com

اختیارول وي چې دیرمختګ فلسفه یې په خاص ډول (authoritarianism) ردوي.

## پرمختګ فلسفې باندې انتقادي بحث

ما دمخه وویل چې د ډیوي خینو پیروانو دهغه تعلیمات تر دې حده پورې وړاندې یووړل چې هغه په خپله دغسې نیت هیڅ نه درلود. دغه حکم په خاص ډول دهغه په "علاقمنې دکتورین" باندې صدق کوي. ددغه کاریوه نتیجه د "ماشوم ـ فعالیتي خوځښت" و چې د ۱۹۳۰ او ۱۹۴۰ په لسیزو کې ښه وغوړېد. ځان ـ فعالیتي به په فردي اصلاح ـ اجتماعي ښه والي او ښه ژوند باندې په ښه ډول تمام شي، خو "اصلاح" او "ښه ژوند" به څنګه تعریف شي؟ که ماشوم ته دځان فعالیتي ازادي ورکړل شي. دهغه لپاره به دغسې تاکل شوی هدف نه وي چې هغه یې تر سره کړي. دماشوم دفعالیت مفکوره دپرمختګ پال هغه تیوري په ډېر ښه ډول څرګندوي چې وایي ودې نوره وده زېږوي. خو دغسې ښکاري چې دغه ټوله عملیه په ماهیت کې دایروي وي. وده په دې ډول په خپله موجهه کېدلی نه شي. ځکه چې موږ باید پر دې پوه شو چې هغه دکوم هدف پر لورې پر مخ بیول کېږي. موږ دغسې ډادینې ته اړه لرو چې څه وخت غواړو یوه ټاکلې هدف ته ورسېږو او دا به په خپل ذات کې مطلوبه وي چې څه وخت به واقع ته ورسېږو. نه داچې هغه دې په بل سره بدل شي. پرمختګ پال دخپلې دغې ادعا لپاره چې ماشوم ووړ نه دی او هغه باید دعالم په حیث هم ونه ګڼل شي، ښه روحیاتي دلیلونه لري. ژان ژاك روسو لومړنی متفکر و چې دغه حقیقت ته یې زموږ پام اړولی دی. هغه دا هم ویلي و چې په دې کې ګټه نه شته چې له ماشوم نه ترڅو چې دعقل پړاو ته نه وی رسېدلی هیله وشي چې له عقلاني غټو موضوعګانو سره ځان بوخت وساتي.

www.sikaraam.com

ماشوم باید دهغه پرځای هغه څه زده کړي چې دشخصي کشف له لارې یې دپوهېدو استعداد لري. خود هغه ژوند ډېر خاصیتونه څرګندوي چې دعقلاني ودې او تغیر عملیه یې تر نورو ډېره وړه نه ده. نو ایا پر دې کې خطر نه شته چې دماشوم علاقمنې ته اجازه ورکړل شي چې هغه هغه څه چې زده کوي په هغو سره دومره ډېر نفوذ ولري؟ علاقمنې ګانې به دراتلونکي له نظره هغومره وچې او بې روحه وي لکه دپرون ورځې اخبارونه چې وي. تر کومه حده پورې موږ ماشوم ته اجازه ورکړو چې غواړي کاوباي شي. ترکومه حده پورې یې وهځوو چې دامریکې بومي اوسیدونکي یا هندیان وولي؟ پرمختګ پالان په خپله په پوهنیزتمرین کې په اوس بـاندې لـه حد نـه ډېر ټینګار لـه خطرونـو څخه بـاخبره دي.

بایډ بوډ (Boyd Bode) وایي چې ښوونځی باید ماشوم تـه لارښوونـه وکړي چې نه یوازې ژوند وکړي. بلکې لـه خپـل سملاسـي شـتـه والـي څخـه "اخوا لاړشي" اوله هر هغه عادت نه خان ازاد کړي چې نارسېدلي بـه یـې وساتي. دا د هوښیار ژوند او په دې ډول په خپله دپوهنې یوه برخه ده چې دراتلونکي زمانې او همداراز داوسنۍ زمانې غوښتنو تـه پـه ټینګه پاملرنه وکړي. دا هم ګرانه ده چې ښوونځی به څنګه دژوند نقل کېدلی وشي. حتی که کوښښ یې هم وکړي نویله چاره نـه شـتـه خـو دا چـې ښوونځی د زده کړې یو مصنوعي حالت وي او دغـسـې محدودیتونـه او خنډونه ولري چې هغه به له هغو نه توپیر ولري. له کومو سره چې ژونـد به تولنیز ډول مخامخ کېږي. هغـه نـه یوازې د ژونـد حـالت دی. هغـه د پوهنې موسسه هم ده. دغسې دندې پرغـاړه اخلي چې نورې پوهنیزې موسسې یې پر غـاړه اخیستلی نـه شي. پـه واقـع کـې دپرمختـګ پـال منطق هغه لـه یـوه عجیب حال سـره مخامخ کوي. لـه یـوې خـوا هغـه دواقعي ژوند حال غواړي. له بلې خوا دزغـم ازادي او کنترول ددغسې ډولونو تقاضا کوي چې دژونـد سـختـې تنګسـې یـې کلـه کلـه روابولي.

www.sikaraam.com

پرمختګ پالان ادعا کوي چې زده کړه دمسلي دحل کولو له لارې دزده کړې تر نورو طریقو ډېر په رښتیني عقلاني رسېدنې تمامېږي. خو دغه ادعا تائید کېدلی نه شي. پلویان یې د۱۹۳۳ م کال داتوکلونو مطالعې ته ګوته نیسي او وایي چې هغه زده کوونکي چې دلوړو زده کړو لپاره په مترقي طریقو سره اماده شوي دي. ترهغولا ښه اماده شوي وي چې په عنعنې طریقې سره اماده شوي و. خو دغه مطالعه قطعي نه وه. منقدان وایي چې په دغې تجربې کې نه کنترول کېدونکي اوښتنې دهغه اعتبار له منځه وړي، حتی سره له دې هم ډووي په دې فکر نه و چې زده کړه دې دمسلې دحل کولو په سطح کې تل ترتله پاتې وي. برخلاف دمسلې حل کول یوه وسیله ده چې ماشوم له عملي موضوعاتو نه نظري اصولو له مشخصو او محسوسو څخه مجرد او عقلاني پرنسیپونو ته رهنمایي کوي.

پرمختګ پال په خپله دفاع کې دغه حقیقت ته ګوته نیسي چې زده کړه د لالوړې زده کړې سطح ته هسکېږي، یانې هلته چې استاد دتحصیلانو له دکتاتور نه ډېر ترسره کولو دقوت دشخص په حیث عمل کوي. لوړه زده کړه که څه هم محصل ته په ډېرې شخصي ازادۍ قایل دی په دې باندې لاهم بحث روان دی، چې لومړنی او منځنی پوهنه دغه طرز عمل غوره کړي. موږ دلوړو محصلانو لپاره دغه ازادي منو خکه چې دوی په عقلاني لحاظ رسېدلي دي او احتمالاً په دې پوهېدلې شي چې ددوی علاقمني ګانې چېرته دي. پرمختګ پال داسې خواب ورکولی شي چې دده د زده کړې لارې دښوونځي له پیل نه دی له ازادۍ څخېږي او په ځان باورمنۍ سره عادي کوي. په دې یې قادرکوي چې دغه عقلاني پوخوالي ته دمخه تر هغه ورسېږي چې اوس ورته رسېږي.
دجنجال اصلي ټکی دادی چې دعقلاني پوخوالي لپاره ځاني دسپلین ترکومه حده ضروري دی او هغه ته دې دخارجي دسپلین له لارې ترکومه

www.sikaraam.com

حده پورې انکشاف ورکړل شي خو څنګه چې داساسي او غیراساسي پوهې ترمنځ دتوپیرکولو قابلیت تر کومه حده پورې درسیدلي سړي کار دی. نو داسې ښکاري چې په خپله ښوونکی باید دهغه څه چې شاګرد یې زده کوي غټه برخه ور وښیي.

دسیالي په برابر کې دهمکارۍ پر موضوع به زه دلته یوازې یوټکی ذکر کړم. هغه څوك چې غواړي عمومو ته خیر ورسوي. ممکن کله کله ونه شي کولی همکاري وکړي بس په دې چې دده ایډیالونه او ژوند طرز د ډلې لپاره دمنلو وړ نه دی. دډلې استبداد په خپل ذات کې خطرونه لري. حتمي نه ده چې ډله به تر فرد نه ډېره روڼ انده وي. ډله بیز دماغ کله کله ښایي دغسې اخلاقي او عقلاني وړوندونکې پردې له ځان نه چاپیرې کړي چې فردي دماغ یې نه چاپېره کوي. نو موږ باید په دې باندې ښه ځانونه متیقین کړو چې زموږ همکاري باید ازاده او غیر تحمیلي وي. لنډه داچې هغه باید یو شکل کول نه وي.

په پای کې د ډووي د ډموکراسي تعریف تر نورو ښایي ډېر جامع وي، خو سره له دې هم څنګه چې د زده کړې دډموکراسی تیوري په ښوونځیو کې دسلوك په اړه هغه دنتایجو پر لوري رهي کوي نو دکتورینونه هم په برابر اندازه دموکراتیك دي. دېرمختګ پال دمعیارونو له مخې دفرانسي پوهنه تردې وختو پورې حاکمانه وه. خو فرانسه په یقین سره یو دموکرات هېواد دی او پوهنیز سیستم یې ددغه هېواد د زیاترو وګړو له غوښتنو سره برابر دی. دتل ترتله توب فلسفه چې غیرموکراتیك او ارتجاعي بلله شوې دههم هغسې په دموکراسي باندې ولاړه ده لکه چې دپرمختګ پال فلسفه ده مطلب دادی چې بېل بېل سوچ والان دژوند د دموکراتیك طرز په اړه بېل بېل تعبیرونه وړاندې کوي. دټولو لپاره اجازه شته خو هېڅ یو قطعي نه دی امریکایي دموکراسي دهر ډول مسولو پوهنیزو فلسفو لپاره ځای لري،

www.sikaraam.com

سره له دې هم دپرمختګ پال فلسفې په امریکايي پوهنې کې دقدر وړ ډېر سمونونه راوستي دي. هغسې سمونونه چې نور نړۍ ليدونه يې بايد په نظر کې ولري. که دپرمختګ فلسفه غواړي خپل نفوذ وساتي، تحول او نويو کولو ته په پام اړولو سره او موجود نظام ته په پرله پسې ډول چيلنج ورکولو سره بايد دغسې پوهنيزه لاره غوره کړي چې دټل لپاره مهمه شمېرله کېږي.

## داساسي توب فلسفه (essentialism)

داساسي توب فلسفه په هېڅ فلسفې پوړې په منظم ډول تړلې نه ده، خو له ډول ډول فلسفي ليدنو سره اړخ لګوي. دټل ترټله توب دفلسفې پر خلاف چې ځينې نظريې ور ردوي، دپرمختګ له فلسفې سره په توليز ډول مخالفت نه کوي، خو دهغې ځينې اړخونه نه مني. په دې عقيده چې ځينې داسې اساسي ځيزونه شته چې ټول انسانان بايد پرې پوه شي چې که غواړي تحصيل کړي وګټل شي. هغه دډووي پوهپوهنه هغومره نه ردوي لکه هغومره چې دهغه دلړو محتاطو پيروانو څرګندونې ردوي.

اساسي توب پالان (essentialists) په دغو ټکو باندې زور لګوي:

الف ـ په تعليمي نصابونو باندې له سره کتنه کول

ب ـ دښوونځي په پروګرامو کې داساسي او غيراساسي توپيرکول.

ج ـ په ټولګي کې دښووونکي دصلاحيت بيا ټينګول.

داساسي توب په حرکت کې چې د ۱۹۳۰ په لسيزو کې رامنځته شو دغسې مربيون غړي وو، لکه ويليم بيګلي (William Bagely) تامـاس برګر(Thomas Briggs)، فريدريك بريډ (Frederick Breed) او اى ساك کانډل (Isaac Kandal) هرمن هورن يې هم په خوا ودرېد. دغو مربيونو په ۱۹۳۸ م کې دامريکايي پوهنې دپرمختيا لپاره اساس پاله کميټه جوړه کړه.

www.sikaraam.com

دغې عنعنې دویلیم برکمین (William Brickman) دښوونځي او ټولنې دمجلې چلوونکي په لیکنو کې هم دوام وکړ.

داساسي پوهنې شورا چې دهغې ډېر فعال غړي ارتربستر (Arthur Bestor) او مارتمرسمت (Mortimer Smith) دي هم به په اصل کې اساس پاله وګڼل شي. که څه هم غړي یې په منظمې پوهنې کې دمتخصصانو دمطالعو په ارزښت باندې شکمن دي. په واقع کې دوی وایې چې "پوهنیزسیاست" چې په عمده ډول له استادانو او ښوونځیو نه جوړ دی تر ډېره حده پورې دهغه څه مسوول دي چې دوی یې دامریکې دپوهنې اوسنی بدحال ګڼي.

داساسي توب فلسفه دتل ترتله توب دفلسفې په څېر دمضمون بیا تاکنه دپوهنیزې عملیې مرکزي ټکی ګڼي، خو هغه دتل ترتله توب پلویانو دغه نظر نه مني چې وایي دپوهنې حقیقي موضوع هغه "ابدي حقیقتونه" دي چې دلویدیځ مدنیت په سترو کتابونو کې خوندي شوي دي، ددوی په فکر دغه کتابونه باید ولوستل شي، خونه محض په خپله دهغو لپاره هغه بایدله مربوطو حقیقتونو سره مربوط وګڼل شي.

داساسي توب دفلسفې ځینې پلویان د زده کولو او د زده کوونکي دماهیت دپروسې دپوهې په اړه پوهنیزې ساهپوهنې ته رجوع کوي، نور یې دومره متیقین نه دي. دوی که څه هم په پوهنه کې دسلوکي ساینسونو دکشفیاتو له مناسب توب نه انکار نه کوي، خو دوی سره له دې هم هغه ته لا ډېر په انتقادي نظر ګوري. په دغې ډګر کې لکه ساه پوهنه چې هلته یولړ شی چې هم وړاندې شي سمله لاسه پرې مناقشه جوړه شي یو مربي به ددوی په فکر ډېر هوښیار وي چې خپله لار په ډېر احتیاط سره ووهي. څنګه چې دساحې تیوري له سلوکپالو سره او وظیفوي فلسفه له ساه پوهنې سره ټکر کوي، نو ممکنه نه ده چې وویل

www.sikaraam.com

شي کوم یو بې دلا ډېر اعتبار وړ پوهه تهیه کوي تر هغو چې د پوهنیزې ساه پوهنې موندنې لا علمي کېږي د اساسي توب د فلسفې څینې پلویان په هغو ته د شک په سترګو ګوري.

اساسي توب پالان کومه متحده جبهه نه لري. څنګه چې دوی په بېلو بېلو فلسفو معتقد دي نو دا عجیبه نه ده چې دوی د پوهې د ارزښت د نهایي ماهیت په اړه سره اختلاف لري. خو دوی په دغو څلورو اساسي اصولو باندې سره یو دي.

زده کړه په خپل ماهیت کې ټینګ زیار او زیاتره نا امادہ تطبیق غواړي. اساس پال د ډسپلین په اهمیت باندې ټینګار کوي. دی د دې په ځای چې د ماشوم په سمله لاسي علاقمنی باندې لنګر واچوي. ډېرو لېرو هدفونو ته پام اړوي. دی په شخصي علاقمنی باندې د پرمختګپال د توجه پرخلاف د کوښښ په مفهوم باندې ټینګار کوي. دی له دې سره توافق کوي چې علاقمني په یوه مضمون کې د دې سبب کېږي چې دغسې زیار خلق کړي چې دهغه د پوهېدلو لپاره ضروري وي. خو دی څرګندوی چې په پیل کې دوام لرونکي علاقمنی ګانې په عادي ډول نه حس کېږي. دغسې علاقمنی ګانې له پیل نه د سخت زیار له لارې پیدا کېږي چې هغه په خپل ذات کې زده کوونکي نه جلبوي. په دې ډول همدا چې په باندنی ژبې کې مهارت حاصل شو. د دماغ لپاره نوي جهانونه پرانیستل کېږي. سره له دې هم یو مبتدي په خپلې لومړنی بې علاقګی او احتمالي بې خوندی باندې باید حتماً غالب شي. لکه هسې چې فرانسویان وایي: "اشتها په خوړلو کې پیدا کېږي".

دژوند یو ساه کښانو په ډله کې یوازې انسان له خپلو سملاسي طبیعي میلانونو سره مقاومت کولی شي. که موږ په ماشوم کې دغه استعداد ونه روزو موږ دهغه لپاره مشکله کوو چې هغه ځاني دسپلین خپل کړي چې په نړۍ کې د عالي هدف د ترسره کولو لپاره ضروري دي. د زده کوونکو ګټ

www.sikaraam.com

شمېر بوازې هغه دسپلين ته په تسليمېدو سره چې دښوونکي له خوا په معقول ډول تحميل شي شخصي کنترول حاصلولی شي.

په پوهنه کې نوښت نظر دې ته چې له زده کوونکي سره وي بايد له ښوونکي سره وي. دښوونکي رول دادی چې دلويانو دنړۍ او دماشومانو دنړۍ ترمنځ منځګړتوب وکړي. ښوونکی ددغې دندې لپاره په خاص ډول اماده شوی او په دې ډول هغه تر زده کوونکو ډېر مناسب شخص دی چې دهغوی دودې لپاره لارښوونه وکړي. ای ساک کانډل وايي چې "اساس پال تر پرمختګ پال لږ علاقمن نه دي چې زده کړه ترهغو چې دشاګرد په استعدادونو. علاقمنيو او هدفونو باندې بنا وي بريالی کېدلی نه شي. خو دی عقيده لري چې دغه علاقمني ګانې او هدفونه بايد دښوونکي په مهارت سره پيداشي، چې هغه دهغې" منطقي موسسې" استاد دی چې مضمونونه نومېږي او هغه دپوهنيزو انکشافاتو په لړۍ باندې پوهېږي" په دې ډول اساس پال ښوونکي ترخپل پرمختګ پال همکار نه د زيات صلاحيت خاوندان کېږي.

دپوهنيزې پروسې زړی دتوصيه شوي موضوع يا دمضمون جذبول دي. دغه نظر دفلسفي ريلست له دريځ سره اړخ لګوي چې وايي دا دانسان مادي او ټولنيز چاپېريال دی چې حکم کوي هغه څنګه ژوند وکړي. اساس پال توافق کوي چې پوهنه بايد شاګرد په دې قادر کړي چې خپل پراته استعدادونه واقعي کړي. خو دغه واقعي کېدنه بايد په دغسې نړۍ کې وشي چې له فرد نه خپلواك وي. دغسې نړۍ چې بايد دهغه دقوانينو اطاعت وکړي. ښوونځي ته دشاګرد دتګ موخه داده چې شاګرد بايد دغه نړۍ هغسې چې ده وپېژني. نه چې هغه يې دخپلو خاصو غوښتنو په رڼا کې تعبير کړي. دی دغه پوهه په هغه نظم سره چې دده په خوښه وي هم په اتفاقي ډول جذبولی نه شي. هغه بايد ده ته دموضوع دمنطقي تنظيم له مخې وړاندې شي.اساس پالان دفرد له

www.sikaraam.com

تجربې نه د "نژادتجربې" یا "داجتماعي میراث تجربې" ته ډېر اهمیت ورکوي. دغه میراث دمیلونونو انسانانو تجربې خلاصه کوي په دې مقصد چې له خپل چاپیریال سره توافق وکړي. دتاریخ په شهادت د ډېروعقل دشاګرد تر نه ازمیل شوي تجربې ته ډېر داعتبار وړ دی.

ښوونځي باید د ذهني دسپلین عنعني طریقې وساتي. داسمه ده چې دمسلې دحل کولو په مترقي میتود کې ځینې ګټې شته. خو دا طرز عمل نه دی چې د زده کړې په ټولې پروسې باندې دې حتماً تطبیق شي پوهه دخپل اصلي ماهیت له مخې مجرده ده او په څرګندو مسلو باندې وېشل کېدلی نه شي. "دکړو له لارې زده کړه" به که څه هم په ځینو شرایطو کې او دځینو زده کوونکو لپاره مناسبه وي، خو باید عمومي نه شي. ایا شاګرد ددې لپاره چې زده کړې دامریکې ځایي خلك یا هندیان څنګه اهلي شوي دي باید حتماً دهغوی جونګړې جوړې کړي؟ په دې کې شك نه شته چې دجونګړې جوړول به له هغه سره مرسته وکړي چې ددغو خلکو دژوند په طرز باندې پوه شي. خودغسې تجربه باید د زده کړې دعملیې ملاتړ وکړي. نه دا چې هغه دهغې جوهر وګرځي. شاګرد ته باید اساسي مفهومونه ور زده کړل شي. حتی که دغه مفهومونه دهغه عقلاني او ساهپوهیزې سطح ته هم متوافق کړل شي. داساسي توب فلسفه دتل ترتله توب له فلسفې نه څنګه توپیر کوي؟ لومړی دا چې هغه د "عقلاني" پوهنې څخه په پوره ډول نه. بلکې په لږ ډول پلوي کوي. ځکه چې هغه دهغو فرض شویوابدي حقیقتونو سره سر او کار نه لري لکه چې له فزیکي او اجتماعي چاپېریال سره سر اوکار لري. دویمه دا چې هغه لاډېره امادده ده چې هغه مثبتې مرستې جذبې کړي کومې چې دپرمختګ فلسفې له پوهنیزو طریقو سره کړې دي. په پای کې په داسې حال کې چې دتل ترتله توب فلسفه دتېرې زمانې سترې تخلیقي کارنامې دانسان دعالي بصیرتونو لپاره دغسې اثار ګڼي

www.sikaraam.com

چې دهر مهال لپاره دي، داساسي توب فلسفه له هغو نه دموجودو مسلو دحل کولو په موخه دپوهې دسرچینو په حیث استفاده کوي

## د بیارغونې فلسفه

جان دووي دمخه پر ۱۹۲۰م کال دبیارغونې فلسفې (reconstructionalism) اصطلاح په خپل یوه کتاب کې په نامه د(په فلسفه کې د بیا رغونې نامه را وایستله). د ۱۹۳۰ م کال په لسیزې کې د" سرحدمتفکرینو" په نامه یادې شوې یوې ډلې په ښوونځي باندې غږ وکړ چې دیوې "نوې" او "لاعادلې" ټولنې دجوړولو پر لوري دمخه شي. ددغې ډلې مخکښنه ویاندان جارج کونټس(George Counts) او هرولډرګ (Garold Rugg) نومېدل. لومړني یې کلتورته امریکایي لاړ او وروستي یې په امریکې کې کلتور او پوهنه په نومونو باندي کتابونه ولیکل. په همدغه وخت کې د چې ځینو پرمختګ پالانو لکه ډبلیو. اچ. کل پاترك(W.H. Kilpatrick) او جان چایلډز (John Childs) پر دې ټینګار کاوه چې ښوونځي دې باید په خپلو اجتماعي مسولیتونو باندې نوره هم ځان پوه کړي. خو دوی دکونټس او رګ له دغې ادعا سره مخالفت کاوه چې ښوونځي دې ځان دخانګړو ټولنیزو سمونونو ته وقف کړي. دوی دهغه پرخای دپوهنې له لارې داجتماعي ودې په عمومي هدف باندې لنګر واچوه.

دوه لسیزې وروسته څنګه چې دپرمختګ پالې خوځښت خپله متره له لاسه ورکړه. دغسې نور کوښښونه هم وشول چې دجان ډووي دفلسفې هغه تیورۍ ګانې پراخې کړلی شي چې ټولنې ته متعهدي وي، ای ساك برك سن په خپل یوه عمده اثر. ایډیال او کمیونیټي (۱۹۵۸) کې په دې لټه کې شو چې دپرمختګ فلسفې او اساسي توب دفلسفې ترمنځ توافق راولي په دې اړه یې داسې نظر وړاندې کړ. چې ښوونځي

www.sikaraam.com

په خپله باید په ټولنیز سمون کې مخکښه نه شي. بلکې هغه کولی شي له هغه حرکت سره مرسته وکړي چې دمخه پیل شوی او دلیبرالي کلتوري ارزښتونو پوره پلوي يې کوله. خو دا تیو دوربراميلد (Theodore Brameld) و چې اول یې دپوهنې دفلسفي موخې (۱۹۵۰) او بیا یې دپوهنې دفلسفي بیا رغونې پر لوري (۱۹۵۶) اوپوهنه او قدرت (۱۹۶۵) داثارو په خپرولو سره "دټولنیزې بیارغونې فلسفې" تاداوونه کېښودل. دلته به زه دهغه پنځه تیسستونه په لنډ ډول راوړم.

پوهنه باید دلته او همدغه اوس دیوه نوي ټولنیزنظم درامنځته کولو ژمنه وکړي. دغسې نظم چې زموږ دکلتور بیخکي ارزښتونه سرته ورسوي او په همدغه مهال کې داوسنۍ نړۍ له اساسي اجتماعي او اقتصادي قوتونو سره همغاړي وکړي. دبیا رغونې فلسفه چې خان د "بحراني عصر" فلسفه بولي دغسې جدي اواز پورته کوي چې دپوهنې نورو تیوریو نه پورته ګاوه. هغه څرګندوي چې مدنیت دځپل خان له نابودۍ سره مخامخ کوي. پوهنه باید دانسانانو په دماغ کې ژور تحول راولي ددې لپاره چې هغه ډېرې غټې تخنیکي قواوې چې زموږ په لاس راغلي دي له هغو نه په دې ډول کار واخیستل شي چې تخلیق وکړي، نه داچې بربادي وکړي. حتمي ده چې ټولنه دې تحول وکړي. نه یوازې په سیاسي عمل سره بلکې په لااساسي ډول په ګډ ژوندانه کې یوه نوي بصیرت ته ددوی دغړو دپوهنې له لارو دنوي نظم لپاره دغه ژمنه سسته نه ده. بلکې ډېره ضروري او سیده ده. براميلد لیکي چې دبیا رغونې نظر" ترهرڅه دمخه یوه نوي کلتور رامنځته کولو لپاره ژمنه کوي. هغه له دغې ټینګې عقیدې سره ملګرې شوې ده چې وایي: موږ ددغسې انقلابي دورې په منځ کې پراته یو چې له هغې نه به بل شی ونه وځي خو دعامه خلکو له خوا دصناعتي سیستم. دعمومي خدمتونو او دطبیعي او کلتوري منابعو کنترول چې هغوی په ټولو دورو کې دځپلو

www.sikaraam.com

خانونو او اولادونو لپاره دمصون. شریف او سولې دژوندانه لپاره مبارزې کړې دي."

نوې ټولنه باید په رښتینې ډول دموکراسي وي چې دهغې ټولې موسسې او سرچینې باید په خپله دخلکو له خوا کنترول شي. هر هغه څه چې ټولنیزې ګټې په اغېزناك ډول متاثره کوي، تقاعدونه، روغتیا یا صناعت ـ باید دهغو استازو مسولیت وي چې خلکو غوره کړي وي برامیلد په دې ډول اعلانوي" دموکراسي ستره ازموینه دلوی ممکن اکثریت له خوا دهر کلتور دعمده موسسو او سرچینو کنترول دی. که چېرې نړۍ په رښتیني ډول دموکراسي کېږي کارکوونکي خلك باید دټولو سترو موسسو او سرچینو کنترول په خپل لاس کې ولري." څنګه چې ایډیالي ټولنه دموکراسي ده هغه باید ددموکراسی په اصولو اداره شي. دنوي نظم جوړښت، هدفونه او سیاستونه باید دعامه ذهنیت په تله کې ومنل شي او دعامه خلکو په پوره ممکن اقدام سره عملي شي. کوم هغه انقلاب چې دخلکو په دماغ کې پېښېږي تر هغه چې یوازې دسیاسیونو له خوا راځي ژوراو لاډېر دوام کوي..... دملي دموکراسی منطقي پای بین المللي دموکراسي ده. ددغسې جهاني حکومت شکل چې ټول دولتونه به په هغه کې ګډون وکړي.(۸)

---

(۸) "دولسونو اکثریت باید دخپلو په ازاد ډول انتخاب شویو استازو له لارې ټول اساسي اقتصادي، سیاسي او اجتماعي سیاستونه کنټرول کړي او دوی دغه څه باید په بنه پراخه پیمانه عملي کړي. درواتو لس ګونو کلونو لپاره دا د ... لو هدف دی تر هغو چې زموږ ښوونځي ددغه مقصد له پېژندلو نه مخ اړوي، تر هغو چې ښوونکي او پروفیسران دغې موضوع ته سر سري ګوري. څکه چې هغه لانجمنه ده. تر هغو چې پوهنیز تیوري پوهان وایي چې دا وخت نه باید دذهني استعدادونو له روزنې سره سرو کار ولرو یا موږ ته حتمي ده چې دخپلې خوا لپاره د پرتمین بری په مقصد قدرت مبارزه حمایه کړو، دوی زما په فکر دپوهنې مرکزي مقصد نفي کوي. ددغسې یوې طریقې پیدا کول چې دټولو ولسونو دنژادونو، دینونو او ملیتونو

www.sikaram.com

ماشوم. ښوونځي او په خپله پوهنه دټولنیزو او کلتوري قوتونو له خوا په ډېر ټینګ ډول سره مقید شوي دي. دبرامیلډ په وینا دپرمختګ فلسفه دفرد په ازادي باندې له حدنه ډېر ټینګارکوي. برخلاف په دې باندې تر اندازې لږ زیات ټینګار کوي چې موږ ټول په اجتماعي لحاظ سره تړل شوي یو. هغه کله کله تر دې درجې پورې په دې اندېښنه کې وي چې فرد په کومو لارو سره خپل ځان ته په ټولنه کې تحقق ورکړي او دا له نظره غورځوي چې ټولنه تر کومه حده پورې فرد جوړوي لکه هغسې چې دی. ځکه چې مدني ژوند تر ډېره حده پورې د ډلې ژوند دی ډلې باید په ښوونځي کې مهم رول ولوبوي. برامیلډ په دې اره وایي: " موږ باید هغه نه په بد کتنې سره محکوم کړو او نه دهغوی سلوك په لټي سره په حتمي دول راتلونکي وګڼو. خو په سم تشخیص سره دغسې هدف وټاکو چې ټولنیزاو پوهنیز پروګرام ټینګ کړو چې هغه به دهغوی غوښتنې ترسره کړي. دهغوی بد اخلاقي ګانې سمې کړي او دهغوی دانسان دوستۍ پراته استعدادونه وغوړوي. "پوهنه په دې ډول " اجتماعي ځان ـ واقعي " کېږي. فرد دهغې له لارې خپل ټولنیز ارخ ته انکشاف ورکوي دا هم زده کوي، چې په اجتماعي پلان جوړولو کې په څه ډول برخه واخلي.

ښوونکی باید خپل زده کوونکي دبیا رغونې دحل په اعتبار او ضرورت باندې قانع کړي، خو هغه باید دغه کار ددموکراتیکو طرزعملونو په دقیق او اصولي رعایت سره ترسره کړي. په هغه اصل سره چې برامیلډیې " ددفاع وړ پلووالی" نوموي ښوونکي دهغو شواهدو کتنه رواګني چې دهغه دنظریو په پلوي یا مخالفت وي.

---

اکثریت سره متحد شي په دغسې یوه لوی جهاني دموکراتیك هیئات یا موسسه کې له داسې قدرت او اختیار سره چې دهغه سیاستونه عملي کړي. موږ ته به دپوهنې په کسب کې تردې بل کوم لوی قیمومیت متصور کېدلای شي " تیودور برامیلډ

www.sikaraam.com

ښوونکي دحل مخالفې لارې چارې په منصفانه ډول وړاندې کوي او زده کوونکو ته اجازه ورکوي چې له خپلو نظريونه په ازاد ډول دفاع وکړي په دې برسېره څنګه چې موږ ټول تينګې عقيدې او دغرض او پلوي ميلانونه لرو موږ نه يوازې بايد په څرګند ډول له هغو څخه دفاع وکړو، بلکې"دډېر ممکن اکثريت له خوا دهغو دمنلو لپاره کار وکړو."

دپوهنې وسيلې او هدفونه چې دموجود کلتوري بحران تقاضاګانې رفع کړي او دسلوکي ساينسونو له موندلو سره مطابقت وکړي بايد په پوره ډول له سره واړول شي. دسلوکي ساينسونو اهميت په دې کې دی چې هغه موږ په دې قادر کوي چې هغه ارزښتونه کشف کړو چې انسانان پرې باندې ټينګ اعتقاد کوي، فرق نه کوي چې دغه ارزښتونه عالمي وي يا نه وي نو براميلډ څرګندوي: " سلوکي ساينسونه په دې پيل کوي چې ثابته کړي چې په تاريخ کې دلومړي ځل لپاره په رښتياني ډول ممکنه شوې چې انساني هدفونه ترفارمول لاندې راوړو. نه داحساساتي، رومانتيکي، تصوفي يا دغسې نورو ورته حاکمانه دليلونو له مخې. بلکې په دې اساس چې موږ ديو ترېله ګډېدونکو کلتوري او حتی عالمي ارزښتونو په اړه زده کړه کوو. په دغه سخت ډګر کې مطالعات که څه هم لږ وړاندې تللي هغه بيا هم په کافي اندازه دمخه تللي چې لا دمخه ممکنه شوې چې دغه ارزښتونه هم په افاقي ډول بيان کړو او هم وښيو چې دانسانانو ډېره ګڼه برخه هغه تر نورو بديلو ارزښتونو څخه غوره ګڼي" موږ بايد په هغې لارې باندې بيا نظر وکړو چې دهغې له مخې تعليمي نصاب ايستل کېږي، مضامين په کې شاملېږي. طريقې په کې په کار اچولې کېږي، اداري تشکيلات په کې راځي او هغه طريقې په کې شاملې وي چې په هغو سره ښوونکي روزل کېږي. نو دغه ټول څه بايد دانساني ماهيت ديوې متحدې شوې تيورۍ له مخې په عقلاني او ساينسي لارو سره جوړ شي.

www.sikaraam.com

له دې نه داسې ښکاري چې موږ بايد دغسې يو تعليمي نصاب وباسو چې دهغه مضمونونه او فرعيات دننه يوترېله سره وتښلوي. نه داچې هغه دعلم داجزاوو رديف يا قطار وګڼل شي

## د بيا رغونې په فلسفې باندې انتقادي بحث

دبيا رغونې فلسفه په خوخوونکي ډول بيان شوې ده. دهغې انجذاب لاهم ډېرېږي. په دې چې ادعا کوي چې هغه دسلوک په ساينسونو کې په باور وړ موندنو بنا شوې ده. اسانه به نه وي چې دغه ادعاګانې که سمې وي ردې شي. له بده مرغه دغه ادعا په دغه واقعيت سره باطله کېږي چې دغه موندنې ډول ډول تعبيرونو ته اجازه ورکوي چې دبراميلو تعبيرېږي يوازې يو دي. لکه هسې چې دمخه ورته ګوته ونيول شوه او لکه چې په خپله براميلډ يې هم مني. دسلوکي ساينسونو تثبيت شوي تجربي نتايج په رښتيا چې لږ دي او هغه دپوهنې لپاره هيڅ نتايج نه لري

په هغه برسېره دسلوکي ساينس پوهانو په منځ کې هغومره اختلافات دي. لکه هغومره چې دمربيونو په منځ کې دي او هغه په يقين سره کافي دي. کوم هغه څه چې يوتولنپوه يا اقتصادپوه يې سم ګڼي نور يې په اسانۍ سره ردوي او ساهپوهان دهغه ډول سلوک په اړه يوه خوله نه دي چې ديوې پلان شوې ټولنې لپاره اساسي دي. ساينس دغو پوښتنو ته بايد لا ځوابونه ووايي: کوم اجتماعي موسسات دهغو له تحقق سره تر ټولو په ډېرې ښې طريقې سره مرسته کوي؟ دبيا رغونې فلسفې دغه لاپه چې وايي هغه دانساني سلوک په ساينسي پوهې باندې بنا شوې ده ثابتېدلی نه شي.

دا چې دبيا رغونې فلسفه دامريکې په کلتوري عنعنه کې په رښتيا يو مهم جريان دی. لکه هسې چې پلويان يې ادعا کوي هم هماغسې په شک کې دی. په راقع کې لبرالي فرد پالنه دامريکې دعنعنې هغسې يوه برخه ده

www.sikaraem.com

لکه هسې چې په دموکراتیکې ډول سره داجتماعي ایډیالونو دټاکلو ژمنه ده. په واقع کې دا ډېره مشکله ده چې دغسې دموکراسي لکه دامریکې چې په تعدد باندې بنا ده په هغو ژورو تحولونو باندې سره توافق وکړي لکه چې دبیا رغونې فلسفي پلویان یې غواړي. دایوه خبره ده چې دیوه ساینس کاندید لپاره دهو یا نه رایه ورکړل شي، خو دا بله خبره ده چې دپوهنې په موضوعاتو باندې دغسې وشي. ځکه چې هغه دلته په یوشمېر اخلاقي، مذهبي، اجتماعي او حتی شخصي ملاحظوسره اغېزمنه کېږي. نو دامریکې په ټولنه کې څنګه سره ډېر رقابت کوونکي منافع دپوهنې دغسې ملي طرز ومومي چې هغه ټول خوښ وګرزوي؟ ممکن دهغه اجازه ورکوونکې تلقین کوم چې برامیلوډیې ورانډې کوي په واقع کې داصطلاحاتو تناقص وي.

دبیا رغونې فلسفه دغسې یو دکتورین دی چې ژمنه غواړي. دبیا رغونې فلسفي خاوند ښووونکي دغه دکتورین تدریس کولی نه شي، خو دا چې په خپله ورته متعهد وي او وغواړي چې خپل زده کوونکي هم پرې متعهد کړي که څه هم دی به ډېر کوښښ وکړي چې په ټولګې کې افاقي اوسي. خو هغسې چې دڅیزونو ماهیت یې غواړي، دی نه شي کولی په علمي ډول افاقي او په ایډیالوجیکي ډول بې تفاوته وي. څنګه چې دامریکې جامعه د اجتماعي ارزښتونو له نظره برخې برخې ده احتمال نه لري، چې هغه به ټولواکي حرکت ته له تسلیمېدو نه پرته په بله لاره سره متحده کړي. زموږ ټول سیاسي جوړښت باید واوړي او فردي تشبث په جدي ډول ضعیف شي. زما فکر داسې ښکاري چې دبیا رغونې فلسفه په کولیکتیوي ټولنې باندې تمامېږي، چې هلته به انسانان معتقدوي چې هر څیز به رښتیا وي په دې شرط هغه په ساینسي طریقو سره حاصل شي او کله چې په تشویقي ډول وړاندې شي. په اجتماعي اتفاق سره اجراشي.

www.sikaraam.com

# څلورم څپرکی

## دشته والي فلسفي ګواښ

زیاتره عنعني فلسفي له دوو ډلو څخه دي: میتافزیکي او شکاکي. میتافزیکي فلسفي غواړي دتجربي ځینې اساسي خاصیتونه شرح کړي په دې استدلال سره چې هغه له دغسې لرې حقیقتونه څخه راوځي. چې تجربه پرې باندې اغېزه نه کوي. شکاکي فلسفي په دې فکرېنا دي چې څنګه چې ټولې انساني تجربې غولونکي دي، هېڅ څېز په یقین سره معلومېدلی نه شي او ټول میتا فزیکي مفهومونه موقتي دي.

دشته والي فلسفه (existentialism) دغه دواړه فلسفې بهیرونه ردوي. دشکاکیت پرضد استدلال کوي او ادعا کوي چې انسانان له خپل شته والي څخه اساسي حقیقتونه ایستلی شي. دعنعنوي میتافزیک پرضد استدلال کوي چې حقیقت هغه دی چې موږ یې تجربه کوو. دوی ادعا کوي چې حقیقت ژوندی کړل شوی حقیقت دی. ددې لپاره چې حقیقت بیان کړو موږ باید هغه څه بیان کړو چې دانسان په حال کې وي. نه هغه څه چې دانسان له حال څخه اخوا وي

دشته والي فلسفه داسې هم دطرز او اسلوب له مخې له عنعنې فلسفې څخه توپیر لري. له دې امله چې هغه له ژوند کړل شوي حقیقت او داحساس له هغو حالونو سره سر او کار لري چې دغه حقیقت په هغو کې په پوره ډول درک کېدلی شي. نو دشته والي فلسفه په عمومي ډول داسلوب له مخې نسبت عنعني فلسفې ته ډېره شخصي او په واقع کې ادبیاتو ته لا نږدې ده. له دې نه مې مطلب دا نه دی چې دشته والي فلسفه نظر عنعني فلسفې ته یا لږه تخنیکي ده. یا تر هغې ډېره دقیقه ده.

www.sikaraam.com

مارتن هايډيګر (Mortin Heidegger) او ژان پال سارتر (Jean Paul Sartre) لوړ تخنيکي فيلسوفان دي او هايډيګر په يقين سره دروڼ توب سرمشق نه دی، سره له دې هم هريوې په شخصي او ادبي سلوك سره ليکنې کوي، ځکه چې هريو د احساس کولو حالونه او همداراز استدلالونه افاده کوي او هر يوه دغـــې له جذبې نـه ډك نثر کنبلی چې بې له شکه خاص او خاص دهغه دی

زه بايد دا هم ووايم چې دشته والي فلسوفانو د پوهنې په اړه مې ډېرې ليکنې کړې نه دي. مارتن ببر (Martin Baber) په دوی کې مستثنی دی، دی هم دپوهنې په اړه پوره بحث نه کوي، سارتر د ادبياتو پوهنيز اهميت تعريف کړی. کارل ياسپرز (Karl Jaspers) دپوهنتون دايډيا په نامه يو کتاب ايستلی دی او فريدرك نيچه (Friedrich Nietzsche) په پوهنيزو موسسو باندې يوه لانجمنه ليکنه کړې ده او هغه دومره افراطي او له طنز نه ډکه ده چې تر اوسه هم مورد لري. کله چې يو څوك په نظر کې ونيسي چې عنعنوي فيلسوفان لکه اپلاتون، جان لاك، ايمانويل کانت او جان ډووي په پوهنيزو موضوع ګانو باندې څومره غږېدلي دي، دشته والي فيلسوفانو له خوا دپوهنې هېرول عجب معلومېږي. دا لا نوره هم عجيبه ښکاري چې کله يو څوك فکر وکړي چې دشخصي ژوند دفلسفې په حيث دشته والي فلسفه به په پوهنې کې ارو مرو بصيرتونه ولري. دغــې پروسه چې په هغې کې اشخاص يا جوړېدای شي، يا خپل خانونه جوړوي. ښايي دليل داوي چې دسوچ يوه نوې ښوونځی به ارو مرو په هغو موضوعګانو باندې لنګرواچوي چې راپورته کړي يې دي، يا به دخپلو اصولو تطبيق په هغو ډګرونو کې چېرته چې فکر او عمل سره ګډېږي لکه په سياست، قانون او پوهنه کې يا وروسته وخت ته يا نورو ته پرېږدي. حقيقت چې هر څه وي په خپله دمربيونو لپاره

www.sikaraam.com

موقـع ډېره غـټه ده چې هغـه پوهنيز بصيرتونـه وموميي او ترکيب ترېنـه جوړکړي چې دشته والي فلسفې پرېمانه برابر کـړي دي. ددې لپـاره چې دغه کار وکړو موږ بايد ارو مـرو دغـه دکتوريـن هغـــې چې دی معرفي کړو او هغه موضوعګانې وڅېړو چې ډېر ورسره سر او کار لري

## نوی ليد

دشته والي فلـسفه دډنمارکي فيلـسوف. سورن کې يرکېګارد (Søren Kier Kegaard) (۱۸۱۳_ ۱۸۵۵) او دجرمـن متفکـر. فريدريـک نيچـه (۱۸۴۴_ ۱۹۰۰) لـه بت ماتوونکو اثارو څخـه هـــکه شـوې ده. دغـه دواړه متفکريـــن دکليســـايي عيســـويت او دهيـــګل دنظريـــې پرضـــد ودرېدل. کې ير کيګارډ کوښښ وکړ چې عيسـويت له دننه څخه بېرته په حرکت راولي. په داسې حال کـې چې نيچـه دعيسـويت لـه نـړۍ نـه اخوا توب محکوم کړ او دسوپرمين تانيدولو اخلاقياتو پلوي يې وکړه

زموږدخپل مهال دشته والي دفلسفې مخکښه فيلسوفان مـارتن هايډيګر (Martin Heid egger) ژان پال سارتر. کارل ياســپرز او مـاريس ميرلو. پونتي (Maurice Merleau- Ponty) دي. ددغې ډلې نور فيلسـوفان ګبرييـل مارسـل (Gabriel Marcel) او پـال تيليـچ (Paul Tillich) او مـارتن بوبر(Martin Buber) دي چې لومړنـي. دوه عيـــسوي او وروستي يې بـهبود دي.

دشته والي فيلـــسوفان هغـه عنعنوي نظر ردوي چـې فلـسفه بـايد ارامـه او تـر هرڅه ډېره افاقي او جلا وي. دوی وايـي چې فلسـفه بـايد دغســې عقل (reason) وي چې پـه قـوي احسـاس (passion) ســره مطالعـه شي. څکه چې نهٔ يې حقيقت په قوي احساس يا دقوي احسـاس کولو پـه حالونو کې برسېره کېږي. دقاريا هيجان عقل غير عقلي نـه بلکې دتول

www.sikaraam.com

انسان عقل دی. دا هغه عقل دی چې له هغو اساسي حقیقتونو سره لاس اوګرېوان وي لکه ازادي. مرګ او نور له کومو سره چې انسانان مجادله کوي دا د سړي سبنې دمحاسبې ضد دی چې مجردات کنترولوي او انساني مشکل هیروي

دشته والي فلسفې په نظر فزیکي کاینات. له انسان نه پرته نړۍ نه مفهوم او نه هدف لري. دا یوه احتمالي پېښه ده، یو څیزچې داسې واقع کېږي چې هلته وي مطلب دا نه دی چې هغه کومه بې علته پېښه ده هغه سمون تیاګانې چې په ساینس سره کشفېږي په کافي اندازه حقیقي دي. خو هغه له نیغ انساني اهمیت څخه خالي دي، چې په سمه توګه وپېژندلی شي. هغه له هیڅ انساني ایډیالوتو یا غوښتنو سره مطابقت نه کوي. خو دمصونیت لپاره له غوښتنې سره چې هغه له ربښتیاني ازادي او دانساني حل له ربښتیني تروړ څخه پرار دی. انسان په کایناتو کې په چانس سره واقع کېږي نه دنړۍ نظم نه دڅیزونو طبیعي طرح شته په کوم کې چې انسان زېږي. نو انسان له خپلې هستې نه پرته دطبیعت هیڅ پوروړی نه دی. په دې ډول دهغه شته والی دهغه له جوهر نه لومړیتوب پیداکوي. په دې مفهوم چې که دی کوم څیز اوسي دی باید داوسي. خوشته والی دی نه جوړوي. دی په ژوند کولو سره خپل ځان جوړوي. لکه چې سارتر وایي:

" دلته ددې وینا مانا څه ده چې شته والی تر جوهریت دمخه دی؟ مانایې داده چې ترهرڅه اول انسان وجودلري، ګرځي، په صحنه کې څرګندېږي او تر هغه وروسته ځان تعریفوي که انسان هغسې چې دشته والي فیلسوف یې ویني نه تعریف کېدونکی وي. دا له دې امله ده چې په پیل کې دی هیڅ څیز نه دی یوازې له هغه وروسته به دی یوڅیز شي او هغه څه چې به دی وشي ده په خپله به جوړ کړی وي نه یوازې داچې انسان هغه دی چې ځان په خپله درک کوي. بلکې دی هم هغه دی چې

www.sikaraam.com

دشته والي پر لوري له دغه تيل وهلو څخه وروسته دخان جوړولو اراده کوي، انسان له هغه نه پرته چې په خپله خان جوړوي بل څيز نه دی"

داچې انسان څه کېږي دا دهغه خپل مسوليت دی. يا دا چې دی به په خپله ځان جوړوي يا به په يوه مفهوم سره خان ته اجازه ورکوي چې دنورو له خوا جوړشي. دی ددې انتخاب کوي چې دی به څه څيزشي، دده "جوهر" يا بيا هم په يوه مفهوم سره پرېږدي چې نور دهغه لپاره انتخاب وکړي خو په هرحال کې انتخاب دی کوي. ځکه چې تسليمي دانتخاب نفي نه بلکې يو ضعيف انتخاب دی، تسليمي له ازادۍ څخه بې ګټې تېښته ده. هغه انسان چې دنورو له خوا جوړشوی وي بيا هم د خپل خان مصنف دی. ځکه چې دی ددې انتخاب کوي چې نوريې جوړکړي. سړی دا هم ويلی شي چې دی په انتخاب سره جوړشوی دی.

که موږ دغه نړۍ لېد ومنو څه ترېنه راوځي؟ د ازادو انسانانو او ازادو ښووونکو په حيث موږ بايد په ټولنه او کلتور کې له ټولو هغو قوتونو سره مجادله وکړو چې هڅه کوي له انسانانو څخه انساني صفتونه سلب کړي اوله ازادي نه يې محروم کړي.

موږ بايد اقتصادي" قوانينو"ته دفرد تابعيت په مخالفت کوونکي اقليت باندې داکثريت استبداد او دټولنې په ډول کېدو(Social conformism) سره دفرديت زندۍ کول رد کړو. موږ بايد له خپلو زده کوونکو څخه په ټينګه وغواړو چې هغه ازادي چې دافرادو په حيث ددوی حق دې وپېژني او واقعي يې کړي. په هغه څه چې ټينګار کوو بايد ارو مرو يې عملي هم کړو، دنورو دازادي په محترم شمېرلو سره لکه هسې چې خپلې ازادي ته ارزښت ورکوو.

www.sikaraam.com

# انتخابول

ازادي په خپل ذات کې نه هدف او نه ایډیال دی، هغه دکړو لپاره پټ قوت یا پوه تنشیل دی.(۹) څه چې زه کوم زه هغه یم. زما سجیه زما دټولو کړنو ټولیز دی. نو له دې امله هغه خان جوړ کړی دی، زما سجیه تغییر کولی شي. څکه چې زه هر وخت په بېل دول عمل کوم. زما برخلیك زما خپل نوم دی. نو ازادي "هیبتناکه" ده. څکه چې زه ددې مسول یم چې څه کېږم الکولي. عصبي. چرسي او بنګي، هغه څوك چې دزغم دسرحد په پای کې وي. زه او ته دا موږ ټولو خپل ځانونه جوړ کړی او له سره یې جوړولی شو.

زه ازاد یم نو زه کېږم. څه وخت چې زه انتخاب کوم، زه خان راتلونکي ته ارتوم. زه له هغه نه پرته چې یم خان جوړوم. "ex-ist" ". زه هغه ځیزچي محض کېدونکی و. شته والي ته احضاروم،زه یم (homo viator) یم. هغه خان چې تل په انتقال کې وي.

دانتخاب لپاره شببه مهمه ده. لکه هسې چې کې دکیګایرو وایي" خطرتیار ولاړ دی." (یا-یا) زه بنایي اعصاب بایلم او په غلطه انتخاب وکړم. یا ممکن زه په دې کې ناکام شم چې موقع ووینم او په دې ډول شرایطوته اجازه ورکړم چې خپله لاړ ووهي. انتخاب باید زه وکړم او انتخاب په خپل وخت کې وکړم. کی یرکیګارد دیوې ببرې دکپتان

---

[9] مارتن بوبردغه نظر ترنورونه ډېر په قوت او جذبې سره څرګند کړی دی "ازادي ـ زمايې روښونکې مخ ډېر خوښ دی...زه ورته وقف شوی یم. زه تل تیاریم چې دهغې لپاره په مبارزه کې ګډون وکړم...زه کېن لاس یاغي ته غزوم او ښي لاس دعقیدې سرسخت مخالف ته مخ پر وړاندې! دوی باید له ازادۍ نه قضیه یا پروګرام جوړ نه کړي. له بند نه ازادي قسمت دی. یو څوك هغه دصلیب په شان نه دتوپی له پاسه دګل په شان له خان سره ګرزوي ... په ازادي کې ژوند تېرول شخصي مسولیت دی."



www.sikaraam.com

کیسه کوي چې ددې پرېکړه وکړي چې بېړه یې څه وخت باید راووځي بېړه په ټول وخت کې وړاندې ځي. دی بس یو څو شېبې لري چې پرېکړه وکړي" که دی دغه وړاندې تګ هېر کړي په پای که به یوه شېبه راشي چې هلته به نور نو دیا. یا سوال نه وي. نه له دې امله چې ده انتخاب نه دی کړی، بلکې له دې امله چې انتخاب کول یې هېر کړی دی، چې دا حال ددې معادل دی چې نورده لپاره انتخاب وکړي او له دې امله چې هغه خپل ځان بایللی دی.

البته ډېر نور انتخابونه چې موږ یې کوو جزیي او غیر مهم دي. دنکتایي انتخاب. درستورانت انتخاب او دسینما انتخاب. جدي انتخاب دهغو کړو ترمنځ انتخاب دی چې اساسي ارزښتونه پکې دخیل دي. دغسې انتخاب ژور تمرکز غواړي. په ځان کې دننه کتنه کول. نو زه باید په دې قانع نه اوسم چې بس یوازې مجرد اخلاقي اصول تطبیق کړم. دا یو ضعیف انتخاب دی. نظر خپل ځان ته په قاعدې یا قانون باندې اتکا. زه باید دکړو دغسې لاره انتخاب کړم چې په دغه خاص حال کې په بې ساري ډول سمه وي. زه باید دقاعدې لاره

غوره نه کړم. بلکې خپله طریقه غوره کړم.(۱۰)

---

(۱۰) باید ووایم چې شته توب پال اخلاقي پرنسیپونه لکه دغه نه ردوي. یوازې مجرد اصول یې ردوي یوبر څه وخت چې دکرکتر په روزنه غږېږي. دغه ټکي په ښه ډول بیانوي " هېڅ معمول کس دنورمونو په برابر کې بېګانه نه پاتې کېږي خو هغه امري حکم چې په زېښتیني نارم کې مضمر وي هېڅکله په پوره وبنا نه بدلېږي. نه هم دهغه ترسره کېدل هېڅکله عادت نه کېږي. هر هغه حکم چې ستر کرکتر یې دځان دانکشاف په بهیر کې اخلي په هغه کې دهغه شعور دیوې برخې په شان عمل نه کوي. یا دهغه دتمرینونو لپاره موادته کېږي. خو دهغه دجوهر په بېځکي سطح کې مضمر پاتې کېږي ترڅو چې هغه، هغه ته په یوه مشخصه طریقه ځان څرګند کړي.

www.sikaraam.com

ترټولو ګران انتخابونه هغه دي چې زیاتره دښو بدیلو انتخابولو ترمنځ وي کله چې دعمل دوه لارې په برابرې اندازې ښې ښکاري، کومه یوه یې وټاکل شي؟ سارتر دیوه ځوان کیسه کوي چې په کورکې پاتې شي او دخپلې بې وسې مور غمخوري یا دازادۍ فرانسې حرکت کې ګډون وکړي؟ دکانت مطلق شرط به ورسره مرسته ونه کړي، نه به هم طلایي قانون (the Golden Rule) (۱۱) ځوان په فکر کې ځي: زه باید انتخاب وکړم چې کوم څیز مې یوې خواته کشوي. که زه حس کړم چې مورمې دومره زاړندې ګرانه ده چې دهغې لپاره به هر بل شی قربان کړم. دانتقام لپاره دتحمل لپاره دماجرا غوښتنې لپاره تقاضا. نو بیا به زه له هغې سره پاتې شم" او هغه همدغسې وکړل. که زه دښته والی فلسفې پلوې ښوونکې اوسم زه به له خپل زده کوونکي نه په ټینګه وغواړم چې دخپلو کړو دپایلو مسوولیت په غاړه واخلي او ورسره سر او کار ولري. کړه دپایلو رامنځته کول دي. شاګرد باید دا ومنې چې دغه پایلې دده انتخاب زېږنده دي، خو په عین مهال کې دې باید هغو ته دنه تغیر کېدونکو په شان سر ټیټ نه کړي. ځکه چې که تسلیم شي دا به بې منلې وي چې ازادي په یوه خاص عمل سره پای ته ورسېږي. ازادي هېڅکله پای ته نه رسېږي او هره پایله دبلې لپاره اړتیا پیداکوي، زه به شاګرد ته درس ورکړم چې دده ژوند په خپله دده دی چې ویې کړي او بل هېڅوك یې ورته کولی نه شي. په دې کې ګټه نه شته چې دخپلې ناکامی ملامتې په چاپیریال، کورني، مزاج یا دنورو په نفوذ باندې واچوي دغه حالونه ددې لپاره دي چې دانتخاب لپاره

[11] طلایي قانون یا له نورو سره هغسې سلوك كول چې یو څوك غواړي له هغه سره هم هماغسې سلوك وشي ژباړن

www.sikaraam.com

چیلنج ورکړل شي. په شاګردباندې چې په ماضي کې هرڅه پېښ شوي دي. نو راتلونکی یې هم دده ده چې باید جوړه یې کړي.

ایا دغه سلوک په دې تمامېږي چې نوردې په بې رحمه ډول له نظره وغورځول شي. ستاسې په قیمت زما سر ته رسونې ته؟ هېڅکله نه حقیقي ازادي دخان ځانی مانا نه. بلکې دګډون مانا ورکوي خان پالونکي دخاني ګټې په محدودې دایرې کې حرکت کوي انتخاب هغه ته دخان سرته رسونې لپاره نه. بلکې دخان محدودولو لپاره دی. ازادي سرخلاصه او خوځونکې ازادي دازادي دنورو مرکزونو لپاره دنورو کسانو لپاره غواړي. هغه حساب نه کوي، بلکې ورکوي. دازادی سرته رسونه له نورو سره ګډون کول او یوځای کېدل دي. خو موږ باید دغه ګډون له محض اشناتوب سره مغشوش نه کړو. ګډون له بل کس سره ګرانښت دی چې بوبر یې "شمول" او مارسل یې "حضور" بولي. زه او ته هغه وخت سره ګډ یو چې دخپلواکو کسانو په څېر سره یو ځای کېږو ددې لپاره چې یوه خاصه تجربه سره شریکه کړو. له موږ نه هر یو خپل بې ساری توب خوندي ساتي.(۱۲) زه نه تا جذبوم. نه ته ماجذبوي زموږ ګډتوب په قوي احساس کې دځان توب امحا نه ده. بلکې هغه دغسې دوه اړخیزتوب دی چې په هغه کې زه هغه څه اورم چې ستا په زړه او دماغ کې تېرېږي او ته هغه څه اورې چې زما په زړه او دماغ کې ګرځي. بوبرته څوږ کښېږدئ: " دځان دننی وده لکه چې خلک یې اوس

(۱۲) په خان پورې دخان خاني تمرکز او خان محدودونه او هغه ناتواني چې له خان څخه بیرون ووتل شي. اصلي ګناه ده چې دشخصیت دپوره واقعي کولو مخه ونیسي او داغېزمن کېدلو قوت یې سلبوي...

شخصیت یوه ته او نورو ته له خان نه بهر وتل پخوا تر پخوا فرض کوي. څه وخت چې هغه په خان کې ترل شوی پاتې شي هوا له لاسه ورکوي او خپه کېږي. نیکولاس بردیایف (Nicholas Berdyaeu)

www.sikaraam.com

فرض کوي. له خپل ځان سره دانسان په رابطه کې نه تر سره کېږي بلکې هغه دبل ځان په حاضرولو کې او په دغې پوهې کې ترسره کېږي چې یو دخپل ځان له خوا په بل کې حاضرېږي"

اشناتوب ته باید په سپک نظر ونه کتل شي. اشنا توب طبیعي او په اجتماعي لحاظ مطلوب دی. خو هغه نیمګړی دی، دځان سرته رسونه نه ده، بلکې پټ قوت دی چې "په کار اچولو ته انتظار کوي" که زه دښوونکي په حیث خپل اسلوب او حرکتونه هغسې وګڼم چې دود او دستور یې تقاضا کوي. نو ما به دخپلو شاګردانو دژوندانه سطح یوازې لمس کړي وي. زه باید له اشناتوب نه اخوا لاړشم او خپل ځان هغوی ته څرګند کړم. زه باید هغو ته په څرګند ډول ورشم او اعتماد پیداکړم. له اعتماد نه یو ځای کېدنه او ربښتیاني سرته رسونه را ولاړېږي.

دشته والي فلسفې پال په فکر یو اخلاقي عمل ممکن دځان یا دیوه هدف لپاره ترسره شي، خو یوانسان باید خپل هدفونه وټاکي که هغه دیوې ډلې یا ټولنې هدفونه غوره کوي بیا نو ورته ښایي چې هغه په ټاکلي حال کې تر لاسه کېږي. دا کوم معیار نه دی چې باید کړه ورسره مطابقت وکړي. بلکې هغه هدف دی چې پر لوري یې عمل کوي. څه وخت چې اخلاقي اصول دخارجي معیارونو په شان ګڼل کېږي چې دسلوك ځینې ډولونه یې تقاضا کوي له هغو نه دمریي کېدو وسیلې جوړېږي، عمل محض سلوك کېږي او فرد هغه څه ته تسلیمېږي چې ورته خارجي وي.

نو دیوه ښوونکي په حیث زه باید یوازې دسپلین تحمیل نه کړم، په ځای یې باید له هر شاګرد نه وغواړم هغه دسپلین ومني چې په خپل ذات کې یې ارزښتناك ګڼي. یا یې دیوه هدف لپاره لرزښتناك ګڼي. لکه په خپله دهغه عقلاني انکشاف یا دټولګي همغاړیتوب، ځینې

www.sikaraam.com

کـــان شاید ووایي چې دا دپوره کېدو لپاره نصحت دی. البتـه چې دی دا هغه ایډیال یا لوړ هدف دی چې پر لوري یې باید زیاروایستل شي.

زه به زیاتره په دې کې ناکام شم چې ورته ورسېږم. داسې هم زما شاګردان خو موږ باید بیا بیا کوښښ وکړو. نه فشار او نه انارکي خواب کېدلی شي. موږ باید دټولو ازادي او سرته رسونه خپل هدف وګرځوو

## پوهه حاصلول

دپوهې دماهیت په اړه دشته والـي دپر تفکـر دپدیـدې یـا پـېښې پېژندل یا فنامتالوجي (phenomenology) په اساس شوی. پدیده پېژندنه یا هغه نړی لید چې کوښښ کوي دڅیزونو اوپېښو څرګندېدنه ویلتي هغسې چې خپل خانونه زموږ شخصي شعورته په نیغ ډول ښیي. دغه څیزونه او پېښې په دې ډول هم عندي او هم افقي حقیقت لـري لـه "عندي حقیقت" نه مې مراد هغه سملاسي او شخصي اړیکي دي چې موږ ټول یې لـه طبیعت سره منکشف کوو. هو. خنګلونـه. غرونـه او مرغـان ټول خارجي حقیقت لـري او سـاینس غـوارې شـرح او بیـان یـې کړي. خو مهمه لا داده چې موږ له حقیقت نه خان ته خپـل پوهای لـرو او نیچه په خپلې لیکنې کې "زموږ دپوهنیزو موسسو دراتلونکي په اړه" له موږ نه غواړي چې له طبیعت سره دهغه دنږدې نوب دهیلې په اړه دهغه کلام واورو:

"خنګلونـه. غرونـه. بادونـه. تپوسـان. ګلان. پتنګان. ورشـوګانې. دغرونو ددې ټول باید لـه هغـه سره وګرېږي. دهغـوی پـه خپلـه ژبـه.دی باید پـه هغـو کـې لکـه چې وي. بیـا خپـل خان وپېژنـي پـه بـې شمېرو انعکاسـ تو اړ تصویرونو کې. دتغییرېدونکو لیدونـو پـه رنـګ شـوي دورکې او هغه به پـه دې ډول ډرو ډرو او پـه غیر شعوري ډول دطبیعت پـه ستر تصویر کې دټولو څیزونـو میتـافزیکي یـو والـی حس کړي او پـه

www.sikaraam.com

عین مهال کې بــه دهغـه ابدي زغـم او ضـرورت پـه غـور کولـو کـې خپـل روح تکور کړي.

په دې نـړدې وختـو کـې میـرلي پونتي پـه خپـل کتـاب، ددرك کولـو لومړیتـوب (۱۹۶۴) کې لـه دغـې موضـوع نـه ګرېدلـی دی: "دخـارجي مکانو درك کـول زمـوږ دخپـل جسـمي حال لـه لارې (چې پـه هغـه کـې دحرکتونو یو ممکن سیسـتم لـه موږ څخه چـاپیریـال تـه خلـېږي". زمـوږ جسمونه په مکان کې دنورو شیزونو په شان نه دي. هغوی په مکـان کـې اوسـي یـا پـه کـې تـګ راتـګ کـوي. هغـوی "جـهان تـه زمـوږ صـورت" تمثیلوي.

په دې ډول زما پوهه له حقیقت نـه زمـا پـه پوهاوي پورې او دوجود دماهیت په باب زما پـه تعبیر پـورې تړلـی دی. نو دغـه "شـتـه والـی" څه شیز دی؟ مارسل په خپل دشتـه والي فلسفه نومي اثر کې (۱۹۶۱) وایي چې دشتـه والي دمفهوم شرح "ډېره ګرانه ده". پـه واقـع کـې هایډیګر خپـل تخصصي ژوند دهغه پـه منظـم ډول تعبیر کولـو تـه وقـف کـړ، بې لـه دې چې خپله دنده یې سرته رسولې وي. دمارسل پـه فکـر "شـتـه والـی" هغـه مرموز شیز دی چې موږ وروسته له دې چې حقیقت لـه هر هغـه څیز نـه چې موږ هغه په بري ډول سره بیان کړی وي په خپل ځای پاتې کېږي.

نوشـتـه والـی پـه دې ډول نـه کـوم تعریف کېدونکی جوهـر، یـا کـتـه ګوري یا هستي ده، بلکه هغه دغسې یو "رمز" دی چې موږ هریو باید په شخصي ډول ورسره مخامخ شو. هغه څه چې مرموز وي نـه ... کېدلـی چې نامعلوم وي. ځکه چـې نـامعلوم بـه یـوه ورځ معلـوم شـي، پـه داسـې حال کې هغه چې مرموز وي دخپل ماهیت له مخې به هېڅکله معلوم نـه شي. درمز په شـان ـ شتـه والی هغه شیز دی چې موږ هریو بایـد پـه خپلـه پرې پوه شو او خپلـه شـخصي پروجه یـې وګرځوو. میـرلي ـ پونتـي پـه خپل مفهوم او بې مفهوم اثرکې (۱۹۶۴) کې همدغه شیز پـه لـږ څه بېل

www.sikaraam.com

ډول بیانوي: "حقیقت یوازې هغه وخت پیل کېږي چې موږ دموضوع په شواهدو کې ژوند کول ترك کړو او دخپلو ټولو تجربو افراطي عندیت له حقیقت نه بېل درك کړو." دښته والي ازموینه زما لپاره ټل ښته والي دی.

نو که چېرې اوس موږ دښته والي پال غونډې سلوك وکړو موږ باید دپوهې په مفهوم باندې له سره فکر وکړو. موضوع، قانوني شوې پوهه، په خپل ذات کې باید نه دغایې په حیث او نه دهغې وسیلې په حیث وګڼله شي. چې شاګرد دخپل مسلك داشغالولو لپاره اماده کوي. دهغه پرځای له هغه نه باید دځان انکشاف او ځان سرته رسونې دوسیلې په حیث کار واخیستل شي. ددې پرځای چې شاګرد پرېږدي چې هره هغه پوهه دځان لپاره" مختصه کړي" چې زده کوي یې یانې پرې یې ږدي چې هغه یې په خپله خپله کړي، د زده کړې په عملیه کې شخص باید په درسي کتاب باندې واکمن وي.

په دې ډول دښوونځي مضمونونه باید دشخصي واقعي کولو لپاره وسیلې وګرزي، نه غیر شخصي دسپلینو نه چې ټول یو شان ورته تابع شي. پرېږدئ چې وده کوونکي حقیقت په خپله درك کړي، حقیقت نه په مجرد ډول بلکې په خپله دهغه حقیقتونه له دې نه مې مقصد دا نه دی چې هغه دې وهڅول شي. چې په هغه څه معتقد شي چې په خپله یې خوښوي. دهغه پر ځای موږ باید ورته ووایو" دغه څیزونه د ډېرو خلکو له خوا حقیقي ګڼل شوي دي، اوس ته وګوره چې هغه حقیقي دي، یا نه دي. که تا ته حقیقي نه معلومېږي، همدغسې ووایه او بیا راځې چې په ګډه پرې بحث وکړو." دبېلګې په ډول دساینس پوهانو لپاره دا کافي نه ده چې دنیوټن دحرکت قوانین دي حقیقي وي. شاګرد باید دځان لپاره هغه حقیقي ومومي. دی باید په دې قادر شي چې هغه دخپلې نړۍ یوه برخه کړي.

www.sikaraam.com

داهغه څه دي چې پوره متخصص يې نه کوي. تخصص انسان وړوکی کوي. متخصص دخپلې پوهې مخلوق وي، نه دهغې څښتن، نيچه وايي" په ساينس کې متخصص بل څه نه دی خو دکارخانې کارګر چې خپل ټول عمر په دې کې تېروي چې يو پيچ واړوي يا کوم سامان يا ماشين وګرځوي " ښوونځي بايد دې ته پام وکړي چې هغه شاګرد چې تخصصي زده کړه کوي، بايد دې ته دوام ورکړي چې دانساني حال په پوهه کې دمخه ولاړشي، اختصاصي مطالعات بايد دانسان دوستی له مطالعاتو سره ملګری وي او تر هغو چې کېږي تخصص کېدنه بايد انساني وګرزوي. کارل يا سپرز په دغه ټکي باندې په خپل انسان په عصري دوړ اثر کې ړڼا اچولې ده:"انسان په خپلو فعاليتونو کې په هر حالت او په ټولو کسبونو کې دڅېزونو او دخپل ځان په اړه يوې اختصاصي پوهې ته اړه لري. خو يوازې تخصصي پوهه هېڅکله کافي نه ده. ځکه چې هغه يوازې له دې امله چې دی يې لري مهمه کېږي."

داسې هم پوهنه بايد په هغو تجربو کې بصيرتونه ومومي چې په هغو کې انسان له انساني حالت نه ډېرېوه وي لکه درد، جنګ، جنايت او مرګ دا ټول له موږ سره ملګري دي. مرګ ما او تا په هره شېبه کې ممکن له منځه يوسي، مرګ دژوند په اړه پوښتنه پيداکوي، په هغه موږ دشته والي له بې باورۍ توب سره مخامخ کېږو، جنايت له موږ سره تل ملګری وي. موږ چېرته په غلطه لاړ روان شوي يو؟ ايا همدا اوس موږ په حقه يو؟ دټوږ پوستکي به برابر کې زموږ (امريکايانو) مسوليت څه دی؟ دهغه جاپاني په مقابل کې چې په هيروشيما کې عيبي شوي دي؟ هغو ميليونونو ته چې په ويتنام کې وژل شوي دي؟ هغو ته چې مواستعمال کړی او هغو شاګردانو ته چې ناکام کړي مودي؟ موږ له درد، جنګ، جرم او مرګ نه خلاصېدلی نه شو، موږ بايد زيار وباسو چې په هغو پوه شو او دعقل له مخې ورسره معامله وکړو.

www.sikaraam.com

## درس ورکول او زده کول

دیوه شته والي پال دتدریس او تحصیل دمفکوري لپاره موږ دمارتن بوبر د "مکالمې" تیوري ته ځو. مکالمه یا ډایه لاګ دهغو اشخاصو تر منځ خبرې کول دي چې په هغه کې یو دبل لپاره موضوع کېږي. دغسې محاوره چې دبوبر په اصطلاحاتو "زما" او "ستا" ترمنځ وي.(۱۳)

دمکالمې ضدپه خبرو کې کنترول کول یا حکم کول دي چې په هغې کې یو کس په بل باندې تحمیل کوي او په دې ډول وروستي په خبرو کې دخپلې ارادې یو شی ګرځوي. دبوبر دمعیارونو له مخې نرډې ټول تدریس کنترول یا تحکم دی. ماشوم مجبورېږي چې دښووونکي ارادي ته په نېغ ډول، یا دنه تغییرېدونکي پوهې هیات ته تسلیم شي چې ښووونکي دهغه ساتندوی دی. البته کله ممکن میزونه واړول شي او ښودونکي به دخپل ټولګي دسپکاوي یا خپګان موضوع وګرځوي.

موږ نرډې ټول په ټولګي کې له شخصي استبداد سره مخالف یو خو بوبرله دې سره هم مخالف دی چې هغه یې دغیر شخصي پوهې استبداد ګڼي. دده په فکر که ښووونکي دښووونکي په حیث وګڼل شي، یانې هغه څوك چې شاګرد او مضمون ترمنځ محض منځګړتوب

---

(۱۳) دبوبر فلسفه که څه هم په شخص پالي باندې بنا ده سره له دې هم هغه دانساني اړیکو فلسفه ده. دهغه په نظر ریښتیني کمیونتي یا ټولنه تر هغو واقعي کېدلی نه شي خو دا چې هر فرد دخپل ګاونډي لپاره پوره مسولیت ومني "روحیه په زړه کې نه بلکې په زه او نه کې ده. دوینې په شان نه ده چې په تا کې جریان کوي، بلکې دهوا په شان ده چې تنفس یې کوې" اجتماعي واقعیت بیانو دوه اړخیزتوب کېږي "یو شخص د ته له لارې زه کېږي" "خو د زه ـ ته مکالمه یوازې لفظي مشغولتیا نه ده. هغه تجربوي ده. مشخصه ده او" دژوند کولو په ټل کې پرته ده "هغه څه چې دنه ویل موږ ته درس راکوي: اصل اتساق نه بلکې دګډون اتساق دی"

www.sikaraam.com

کړي، یا پرېږدي چې شاګرد ورته پام ونه کړي. څکه چې دا به دتدریس دچم دموضوع غوندې شاګرد بې ارزښته کړي.

دهغه پرځای ښووونکی دموضوع په اړه له پوره بحث نه وروسته هغه نظر وړاندې کوي چې دده په فکر ترټــولو ډېرښه وي او وبه یې پوښتي چې که یې مني.

ښووونکی ددې لپاره چې په موضوع باندې سم بحث شوي وي ټولګي ته ډول ډول نظر یې وړاندې کوي. ښوونکی په پراخ ډول پوښتنې کوي او موضوع ټولګي ته په ښه ډول طرح کوي. خو هغه یې دبحث لپاره وړاندې کوي، تر مباحثې وروسته دې ټولګي ته هغه نظر وړاندې شوي چې له اوږده تفکر نه یې وروسته ټینګ کړي وي. دی له هرشاګرد نه غواړي چې دغه نظر دخپلې تجربې په مقابل کې کېږدي. له هغې سره یوځای چې ده په همدغه ټولګي او په پخوانیوټولګیوکې حاصله کړې وي. داسې وګڼئ چې شاګرد دموضوع په اړه دښووونکي تعبیر نه مني، ښه نوهغه یې ردوي. دا دهغه حق دی چې همدغسې وکړي. دښته والې فلسفه په دې باندې ټینګار نه کوي چې ښووونکی دې "بریالی" وي. خو په دې ټینګار کوي چې رښتینې دې وي رښتین توب په بری باندې اوړي. څکه چې که ښووونکی له خپل شاګرد سره رښتینی وي دی باید پرې اعتماد وکړي او اعتماد حاصل ورکوي. شاګرد د دوه اړخیزه اعتماد په فضا کې پوهېږي چې دیوې موضوع په اړه دښووونکي تعبیر معقول دی او ښوونکی پوهېږي چې شاګرد به دغه تعبیر ته په هغه احترام ګوري چې استحقاق یې لري. په دې ډول داده هغه مکالمه یا دوه اړخیزتوب چې پوهنه داشخاصو ترمنځ په اعتماد ولاړه ده. هغه اعتماد چې ښووونکی یې باید په صداقت سره وګټي او په مهارت سره خلق کړي.

www.sikaraam.com

کوي. تدریس به ښه ربښتیني مکالمه یادیالاګ نه وي. څه وخت چې تدریس دښوونکو په ځېر وګڼل شي ښوونکی دپوهې په انتقال کې دیوې وسیلې په حیث ارزښت بایللي او شاګرد ددغه انتقال محصول غوندې ارزښت له لاسه ورکوي. پوهه واکمنه ده او اشخاص وسیلې او محصولات کېږي. نو پوهه څنګه باید منتقله شي؟ پوهه باید هېڅ انتقال نه شي. هغه باید" وړاندې شي" دبوبر په فکر ښوونکی چې کوم مضمون تدریسوي له هغه سره باید خان پوره اشنا کړي او په خپل ځان کې یې دانساني فعالیت دشتمنې میوې په شان ننباسي. څه وخت چې ښوونکی کوم هغه مضمون چې تدریسوي دخپلې ننني تجربې یوه برخه ګرځولی وي. هغه یې شاګرد ته له خپل ځان نه ور راوتلی څیز په شان وړاندې کوي. ښیا نوښوونکی او زده کوونکی سره داشخاصو په حیث ګوري. ځکه چې هغه پوهه چې ښوونکی یې وړاندې کوي دغسې نه وي چې هغه ته یې وسعت موندلی وي. بلکې هغه په خپله دهغه دحال دیوه اړخ په شان وي.

څه وخت چې ښوونکی له خپل ټولګي سره په یوې موضوع باندې بحث کوي او څه وخت چې دی. دبېلګې په ډول د ادبیاتو یاتاریخ کوم اړخ تدریسوي. دی چې تر هغو کولی شي کوښښ کوي چې ډېر نظرونه وړاندې کړي. دی کوښښ کوي چې موضوع د ډېرو انسانانو دفکر محصول او ددوام لرونکي فکر دمحراق په شان وړاندې کړي. په واقع کې دا دټولو هغو یوهو حال دی چې اهمیت لري. ځکه چې که داوی چې پوهه تاب راوړي هغه باید ښیا ښیا تعبیرشي او د استفادې په بهیر کې تازه اهمیت پیداکړي. خو دا د ښوونکي اراده نه ده چې شاګرد پرېږدي دموضوع په اړه هغه نظر غوره کړي چې په خوښه یې وي. دا به له غیر مسولیت نه ډک کار وي. ځکه چې شاګرد په دغې ساحې کې متخصص نه دی. په عین حال کې ښوونکی نه غواړي یو خاص تعبیر تحمیل

www.sikaraam.com

دموضوع په اړه څه؟ دښته والي پال په فکر هېڅ موضوع یا مضمون په خپل ذات کې ترکوم بل نه مهم نه دی. هغه چې مهمه ده هغه موضوع ده چې فرد په هغې کې خپله سرته رسونه او دنړۍ په اړه پوهه حاصلوي. دخینو لپاره دغه موضوع طبیعي ساینس دی، دډېرو لپاره تاریخ، ادبیات. فلسفه یا هنر دی. په دغو وروستیو مضامینو کې شاګرد دسترو لیکوالو او متفکرینو له بصیرتونو سره اشنا کېږي چې هغو په نړۍ کې دانسان ماهیت. دانسان ازادي جرم، درد، جنګ او بري په اړه لرلي. هغسې موضوعات چې شاګرد په جذباتي او عقلاني لحاظ مشغولولی شي. دمثال په توګه ښته والي پال تاریخ ته دانسان دمجادلې په ارتباط ګوري چې خپله اراده پرې واقعي کړي. شاګرد ته حتمي ده چې ځان هرې هغې دورې ته متعهد کړي چې مطالعه کوي یې او دهغې په مسایلو اوشخصیتونو کې ځان ډوب کړي، کوم هغه تاریخ چې هغه یې مطالعه کوي باید دهغه فکرونه او احساسونه وپاروي او دهغو برخه وګرځي.

ښوونکی څه وخت چې دانساني ژوند په ماهیت باندې بحث کوي باید وښیي چې ژوند له ودې، ښېړدلو، خوښۍ او تراژیدۍ نه جوړدی "پوهنه دنیکمرغۍ لپاره" تېرایستونکې ده. نیکمرغي بې له درده او لیوالتیا بې له کړاونه نه ښته. ایا تر ټولو سترې کارنامې دنیکمرغو انسانانو کاروي؟ یا دهغو ته قانع شویو اشخاصو کار چې دسرته رسونې لپاره زیار باسي؟ یا پوهنه دمصونیت لپاره؟ دشخصي قناعت لپاره؟ څومره تېرایستونکې!

ښته والي پال ښودونکی دمرګ له موضوع سره څنګه معامله کوي؟ دی خپلو شاګردانو ته نظر وړاندې کوي چې په مړینې باندې پوهه په ژوندانه باندې دیوه چا خبرتیا ډېروي. که شاګرد دمرګ په باب ډېر سوچ وکړي دی دژوندانه دمفهوم په اړه نور هم پوه کېږي، دی اخوا

www.sikaraam.com

دبختوا بې مقصده ګرځېدنه پر ېږدي. دې ته اماده کېږي چې په خپل ژوند کې له ورو جزئیاتو نه اساسات راوباسي. له دې امله بلیز پاسکال (Blaise Pascal) ویلي د چې "نن دغسې ژوند وکړه چې لکه سبا ته مرې" دمرګ واقعیت زده کوونکي په دې پوهوي چې دی باید همدغه اوس خپل ژوند جوړ کړي

ښووونکی زده کوونکي هڅوي چې په مکالمې کې په بوختولو سره دخان لپاره فکر وکړي. دی شاګرد دهغه ایډیاګانو په اړه ترپوښتنې لاندې نیسي. نوري ایډیاګانې ورته وړاندې کوي او په دې ډول ورته لارښودنه کوي چې دبدیلو ترمنځ انتخاب وکړي. شاګرد نو بیا ویني چې حقیقتونه انسانانو ته نه واقع کېږي، هغه دهغو له خوا غوره کېږي، ترهغه لا زیات هغه د زده کړې په دغې ډرامه کې عامل کېږي ته کتونکی. دی باید دښووونکي په څېرډېر زحمت وکاږي

له بده مرغه له حد نه ډېر شمېر زده کوونکي فکر کوي چې زده کړه بس دجذبولو موضوع ده. دوی تېروتلي دي. پوهه په فعال زیار سره ترلاسه کېږي. د دماغ یا زړه په تړلو سره هېڅکله نه او تل د لاژوړو حقیقتونو په لټولو سره برسېره پرهغو چې یو څوك یې لري، خینې زده کوونکي دغه پلټنه له ځانو سره ساتي. دوی ځانونه خپلو ښووونکو ته نه پرانیزي. خو دوی چې هرڅومره وړاندې لاړشي په ټولګي کې دګډون لپاره موقع له لاسه ورکوي. زه په دې تل خواشیني کېږم. زه عقیده لرم چې شاګردان او ښووونکي باید یو بل تل تر استنطاق لاندې ونیسي، څومره چې زه دنن ورځې د عمومي پوهې په نا ارامه کوونکي حال باندې فکر کوم په هماغه اندازه قانع کېږم چې شته والي پالان دسمون لارښيي. زموږ ماشومان په پوهنیزو کارخانو کې پڅ کېږي. یانې چېرته چې دوی په پروسې کې لوېږي او یو شان کېږي. بې له دې چې دهغوی شخصي بېجوړې توب په نظر کې ونیول شي. زموږ ښووونکي اړ کېږي

www.sikaraam.com

یا فکر کوي چې از کېږي چې په دغسې طریقو سره درس ورکړي هم دهغوی لپاره تاکلې کېږي. دغه سیستم هم ښوونکي ار هم زده کوونکي بېګانه کوي.(۱۴) اوس ددې وخت رارسېدلی چې هغه په بوه لانبه سیستم سره بدل شي.

زه دمارسل په شان عقیده لرم چې ښوونځي په اوسني حال کې بایه لغوه شي، زما په فکر دښوونځي ځینې وسایل باید وساتل شي لکه دغونډو سالون. جمنازیوم. دلوبو ډګر. خو هغه یوازې دوسایلو په حیث. خوانان باید له هغو نه دمطالعه کولو او لوبو کولو لپاره کار واخلي لکه لوبې. تیاتر. کتابتون او موسیقي. خوانان ددې پرځای چې دپوهنې لپاره ښوونځي ته ولاړ شي. باید ښوونکي ته ورشي. ښوونکی او زده کوونکي باید دښوونکي یا زده کوونکي په کور یا په کوم بل مناسب ځای کې سره غونډ شي. شاګرد باید ځینې وختونه یوازې او

---

(۱۴) کلارک موسته کاس (Clark Mousta Kas) زما نظر په پوره فصاحت سره بیانوي لکه چې لیکي :هغسې چې اوس وضع ده ښوونځي په عصري ټولنه کې دبېګانه کولو ښکه پیاوړې کوونکې ده. ښوونکی له خان نه بېګانه شوی. په ټولګې کې دریښتیني شخص په شان وجود نه لري، هغه یوه برخه یو رول لوبوي. هغه وظیفې تر سره کوي او دستوروته تعقیبوي. ښوونکی له خپل مضمون نه بېګانه شوی دی مضمون دهغه داحساساتو ریښتیني نړی نه خارجي دی. لکه خپګان، خوښي، قهر، یوازېتوب، تصور، هیجان او زړه سواندی. هغه له هغه ځخه بېرون دی. داسې هم ښوونکی له زده کوونکي نه بېګانه شوی دی. ماشوم په کته ګوري، ګانو او د ارزونې له مخې بېرته دل کېږي د ورو او ګرندي. دوتلي ترسره کوونکي یا د ترسره کوونکي نه په لاندې درجه کې دمتوسط یا معیوب په شان او په ډېرو نورو خاصیتونو او تصنیفونو سره چې ټول یې مربوط دي دموضوع یا څیز په رابطه کې. نه په تقابل او نه په خان واقعي کولو کې. په دغسې چاپېریال کې چېرته چې ښوونکي له خان څخه له مضمون نه او له خپل شاګرد نه ورو ورو خو په قطعي ډول بېګانه شوی وي. ښوونکی په موضوع ګانو کې یوه موضوع او په څیزونو کې یو څیز کېږي.

www.sikaraam.com

ښېنې وختونه له ملګرو سره ورشي. زه یقین لرم چې شاګرد به په دغه ترتیب سره تر هغه نه چې اوس یې زده کوي په لږ وخت کې لا ډېر څه زده کړي. ځکه چې ښوونکی به له شاګرد سره هغه وخت غونډه وکړي چې نغه به هلته په فردي ډول وجود لري

زه په دې پوهېږم چې دا ډېر افراطي وړاندیز دی او غیر عملي به وګڼل شي. خو دنن ورځې عمومي ښوونځي ګانې څه کم سل کاله عمر لري او چې هغه دلومړي وار لپاره عملي کېدل افراطي او غیر عملي ګڼل کېدل. زه دلته مجبوریم چې هغه ډول ښوونځي را یاده کړم چې. ...صي. ډي. سالنجر تیډي (J.d. Salinger Teddy) غوښتل. هغه به اول شاګردان "سره تولول" او "ورته به یې ښوول چې څنګه په تفکر کې ډوب سي" هغه به "کوښښ کاوه چې دا وروښیي چې معلومه کړي دوی څوک دي. نه یوازې دا چې ددوی نومونه څه دي او داسې نور"

هغه لا حتی کوښښ کاوه چې "هغوی خپل سرونه تش کړي" له هغو ...ولو موادو څخه چې پلرونه او میندو او نورو په کې تخته کړي دي. لکه چې البرت کامو (Albert Camus) ویلي: "ټول مدنیت باید له سره جوړ شي" ...تیډي ښوونځی هم دهغه دبیا رغونې لپاره یو ایډیالي پیل کېدلی ...ي. لکه څنګه چې ما په دریم فصل کې دکلتور په اړه ویلي دي ...وازې ښوونکی مدنیت له سره جوړولی نه شي. خو دوی ډېر څه کولی ...ي چې انفرادي شاګردان وروزي. دغسې شاګردان چې هغوی به یوه ورځ همدغسې وکړي.

www.sikaraam.com

# پنځم څپرکی

# منطق او تحلیل

## منطق او ساهپوهنه

زه زیاتره وخت په فکر کې ډوب شم چې ښووونکو ته دروزنې په وخت کې ساهپوهنه ولې ډېره او منطق یا سم اند(سمند) لږ درس ورکول کېږي. یو دلیل به داوي چې ساهپوهنه دفردي سلوك دمطالعې په حیث ښووونکوته چې زده کوونکي به څنګه سلوك وکړي. مهم شیان ورښیي. بل دلیل به دا وي چې په داسې حال کې چې ساهپوهانوله پوهنې سره تل علاقه ښوولې ده منطق پوهانو یا سمند پوهانو په هغه باندې په عمومي ډول زړې نه دي وهلې. ساهپوهنه دفکرکولو پروسه لکه هسې چې پېښېږي مطالعه کوي. صوري یا شکلي منطق دښووونکو په چارو کې لږ دتطبیق وړ ښکاري. سره له دې هم هرهغه فکر چې وایي منطق ښوونکي ته په تولګي کې لږ په درد خوري. یا په درد نه خوري په زور ډول غلط دی. هیله کوم چې دغه فصل به وښیي چې دمنطق مطالعه او دژبې منطقي استعمال به دپوهنې له تیورۍ او تمرین دواړو سره مرسته وکړي

په داسې حال کې چې ساهپوهنه دفکر کولو واقعي عملیه مطالعه کوي، صوري منطق دفکر دنتایجو دنتظیمولو لپاره عقلي شکلونه برابروي. صوري منطق (formal logic) داچې د دلیلونو کوم ډولونه د اعتبار وړ دي. تر بحث لاندې نیسي. دا چې یوفرد ددې لپاره چې دغه استدلالونه وکړي په خپله دمنطقي دلیلونو له ثقه توب سره تړاو نه لري به دا باید ومنله شي چې یوکس ددې لپاره چې منطقي


www.sirat-aam.com

دلیلونه یې تولید کړي وي، باید د دغه کار لپاره وهڅول شي، خو دا چې دی یې یا په استشراق یا په ورو ورو محاسبې سره تولیدوي دصوري منطق له نظره اهمیت نه لري. هغه څه چې مهم دي دادي چې دی باید وغواړي چې دغسې نتیجو ته ورسېږي، چې د اعتبار وړ وي او هره وخت چې دغسې وایې باید پرې وپوهېږي. دا دتدریس دندې دي چې دغه هڅه ورزوي او دغه پوهه وپالي

په لومړي سرکې به ښوونکی شاګرد ته دهغه دمنطقي فکرکولو بانې داعتبار وړ نتیجو د ایستلو په بدل کې انعام ورکړي او شاګرد به ډېر څه وخت لپاره په دې هیله چې انعام ترلاسه کړي په منطقي ډول فکر وکړي، خو شاګرد به که ورته درس په سمه توګه ورکړل شوی وي ورو ورو حس کړي چې دغسې فکر دقناعت وړ دی نه یوازې ددې لپاره چې انعام ترلاسه کړي، بلکې ددې لپاره چې په عقلاني لحاظ ثمرناک دی. هغه به ددې درك وکړي چې داعتبار وړ نتیجه بله نتیجه زېږوي، په داسې حال کې چې بې تراوتوب یا بې منطقي سړی کوم خای ته نه رسوي. په دې ډول منطقي سوچ کول دساهپوهنې په وسیلو سره روزل کېدلی شي. یانې دانساني سلوك دپوهاوي په اساس د درس ورکولو خاصو تکتیکونو له مخې

په رښتیا په منطق کې پوهه او په هغه کې روزنه په خپل ذات کې دیوه کس په سلوك باندې اثر کوي په داسې حال کې چې نور هرڅه سره برابروي. هغه چاچې منطق لوستلی وي نظر هغه چاته چې لوستلی یې نه وي، مایل وي چې په لاډېر عقلاني ډول پوه اوسي. ددې احتمال به لاډېر وي چې هغه به خپل تعصبونه او خپل استدلالونه تر پوښتنې لاندې ونیسي. په هغه باندې به دنورو سیاسي استدلالونه لږ اثر وکړي او هغه به په دې لاقادر وي چې دهغو په استدلالونو کې تېروتنې او بې ربط توب درك کړي

www.sikaraam.com

په پوهنه کې زیاتره وخت پوښتنل کېږي چې دا ښه ده چې محتوی دهغه نظم له مخې وړاندې شي چې په خپله په موضوع کې وي یا دشاګرد دانکشاف دمرحلې له مخې؟ ایا دفزیك مطالعه، دبېلګې په ډول تل دالجبري (منطقي نظم) په شان دي یا دغه مضمونونه دې هغه وخت تدریس شي چې شاګرد ورته تیاروي (ساهپوتیز نظم)؟

دمضمون منطقي عرضه په دغې تیوري باندې بنا ده چې منطقي نظم په هغه کې لاپخوا شته. موږ اورو چې دغسې نظم دطبیعت یوه برخه ده یا همدغسې ګڼله کېږي. دمثال په ډول الجبره ډېرې جوړې شوې برخې لري او موږ پخوا له دې چې په نورو ویوهېدلی شو په څینو باندې یې باید پوه اوسو. داسې هم وروسته له دې چې موږ په الجبرې باندې پوه شوو دفزیك په څینو عملیو باندې پوهیدلی شو.

هغوی چې په دغه نظر معتقد دي ډاډه دي چې که شاګرد په دغه ډول سره پوهه زده کړي هغه به په اتومات ډول منطقي فکر وکړي. په دوی کې لاډېر افراطیان په واقع کې تولې هغه روحیاتي ملاحظې ردوي چې له دغې طریقې سره مداخله کوي. دوی وایي چې دموضوع د زده کړې له عمده مقصدونو څخه یو یې دادی چې هغه دماغ ته نظم ورکړل شي چې دبې نظمي په حال کې دهغه کېږي دوی وایي چې دا به حماقت وي چې بې نظمه او ناروزل شوي دماغ ته اجازه ورکړل شي چې حکم وکړي چې دموضوع نظم باید دغسې وي او یا زده کړه څنګه وشي.

ساهپوهنیز نظم له بلې خوا، مضمون دشاګرد په هدفونو، علاقمنیو او تجربو پورې تړي. په دې حال کې دزده کړې عملیه چې دښوونکي له خوا په مهارت سره اداره کېږي دشاګردانو په نوبت سره وړاندې کېږي. دهغه علاقمني پیداکېږي. دهغه فکري قوتونو ته چیلنج ورکول کېږي او دهغه پلټنې حس راضي کېږي. زده کوونکي او مضمون سره عمل کوي.

www.sikaraam.com

داچې دمنطقي او ساهپونيز نظم بايد سره تكر ونه كړي او بايد اوږه په اوږه پر مخ ولاړشي هغه ګنهه ده چې ډېر كتونكي يې ملاتړ كوي. جان ډووي "سيكالوجيكي او منطقي" له "عملبي او محصول" سره په ترتيب سره يوګڼل. ده وويل چې ساهپونيزه عمليه په خپل منطقي شكل سره دمضمون دپوهاوي وسيله كېږي. دشاګرد لپاره منطقي شكل يو ايډيال دی چې بايد ترسره شي. نه دپيل تكی چې له هغه نه وړاندې تګ وشي. د زده كړې عمليه" مترقي انكشاف دی دهغه څه چې لا دمخه تجربه شوي وي په لاپوره او لا شتمن او لا ډېر تنظيم شوي شكل كې دغسې شكل چې دمضمون ته چې ماهر او رسېدلي شخص ته وړاندې كېږي ورو ورو نږدې كېږي." (۱۵)

## دپلټنې منطق

انګليسي بت ماتوونكي پرګماتست، شيلر (F.S.C. Shiller) څرګنده كړه چې " منطق يوازې څومره ډېر تخنيكي جزنيات دی يوازې په دې قادر دی چې شاګردان په ازموينو كې سربېره او دچانس او د اوبنتون دنړۍ لپاره نا مناسب دی". ده دا هم وويل چې " موږ ددې ثبوت نه لرو چې كاينات به په منطقي ډول تنظيم شوی وي، ممكن شوی وي، ممكن شوی نه وي. ددې لپاره چې معلومه يې كړو موږ بايد له نړۍ سره تجربه وكړو، ازموينه يې وكړو. لكه هسې چې وي."شيلر البته يوازې صوري منطق محكوموه، خو دده تيصرې زموږ لپاره لاره خلاصوي چې په هغې

---

[15] دجان ډووي د" فعاليت پرنسيپ" دهغه له هغو مفهومونو څخه راوځي چې پاس په لنډ ډول بيان شول. دهغو په اساس شاګرد بايد په فعال ډول سره زده كړې وكړي ورته حتمي ده چې څه وخت چې دوی ته ليكچر وركول كېږي په فعال ډول سره برخه واخلي، نه بس كيني او يادښتونه واخلي دوي بايد خپل ذكاوت" په فعاليت راولي" په بل عبارت دوی بايد خاتونه په روحياتي لحاظ تيار كړي چې له مضمون سره دهغه په اساسي ډول منطقي ماهيت سره سر او كار ولري.

www.sikaraam.com

سره" دپلټنې منطق" نومول شوې او دجان ډووي له خوا ترفورمول لاندې راوستل شوې ده. څوابونه ولټوو. دپلټنې منطق چېرته چې منطق د استدلالونو له شکلونو څخه بحث کوي، د دغسې اصولو دتثبيت کولو په لټه کې کېږي چې انسانان يې رعايت وکړي. په دې موخه چې داعتبار وړ نتيجې را وباسي دپلټنې منطق په دې ډول توصيوي کېږي په دې چې هغه انسانانو ته داصولوتوصيه کوي چې بايد تعقيب يې کړي. خو هغه داسې هم تشريحي دی څکه چې هغه د ډووي په نظر هغه اصول دي چې کله چې انسانان په بريي سره پلټنه کوي په واقع کې هغه تعقيبوي.

دډووي په فکر پلټل د لاتجمنی موضوع فيصله کول دی او هغه دشپږوګامونو اخيستل غواړي چې هغه به دلته دښوونځی په چاپيريال کې بيان شي.

د ډووي په فکر ټول تفکر دځينو هغو شکلونو په برابر کې څواب دی، چې په انسياق يا په معمول ډول سره حل کېدلی نه شي. شاګرد له دغسې شکلونو سره تل مخامخ کېږي، څکه چې هغه يو نوی څيز تل زده کوي. داسې وګڼې چې زه به په يوې لوړې ښوونځي کې زده کوونکی يم او هغه پېښې مطالعه کوم. چې ددويم نړيوال جنګ سبب شوي. زه د وارسا دتړون. دسترکساد. دملتونو دليک څه نه کولو. دميونيخ دتوافق ليك او داسې نورو موضوعګانو په اړه معلومات غونډوم سره له دې هم زه قانع نه يم. زه ډېرې فرض شوې پېښې په مخ کې لرم. دېبلګې په توګه. دغه واقعيت چې د وارسا تړون په جرمنی باندې بيخي ډېردرانده جنګې تاوانونه حواله کړل. دغه واقعيت چې فرانسې او برتانيې دجرمني له خوا دچکوسلواکې دنيولو په برابر کې څه ونه کړل. خو دغه واقعيتونه لاتراوسه په دې ډول تنظيم شوی نه دي

www.sikaraam.com

چې ماته مفهوم ولري. دوی "بې حرکته" دي دوی هېڅ څیز نه شرح کوي.

څه وخت وروسته زه خان له دې حال نه باسم چې محض نا قانع اوسم. زه د دې درك کوم چې هغه موضوع چې زه یې ردوم دې ته اړه لري چې مهمه وګرزول شي. نو که اوس ماته داسې درس راکړل شوي وي چې په منطقي ډول فکر وکړم خپل ناقانع توب نه ترك کوم. بلکې هغه ته د دغسې پوښتنې یا مسلې شکل ورکوم چې باید حل شي. دویم نړیوال جنګ ولې پېښ شو؟

وروسته له دې چې دغه مسله مې تر فارمول لاندې راوستلی وي. زه باید دهغې دحل کولو لپاره معلومات غونډ کړم خو دهمدغې مسلې دتعریف کولو څینې ساحې راپه ګوته کوي چې باید لوڅې شي. ددغې موضوع په اړه هغه پېښې چې په جنګ او هغو حالونو کې واوسي چې دغه پېښې یې ممکنې کړي دي لکه وسله وال کېدل. عمومي بېکاري او دهرڅه کنترول کوونکو ایډیالونو هسکېدنه. کوم هغه معلومات چې زه یې غونډوم دمسلې دممکنو حلونو لپاره لاره پرانیزي. دمثال په توګه زه دملي سوشلزم دایډیالوجي دکتنې لپاره دلبنسرام (Lebsensraum) "دژوند کولو ساحه" له مفهوم او له هغه اصل سره مخامخ کېږم چې جرمني باید داسیا یې یرغلګرو پرضد له لویدیزې اروپا څخه دفاع وکړي دغه ایډیالګانې ممکن دا وښیي چې جرمني ددې لپاره په جنګ لاس پورې کړ. چې په اروپا باندې دشوروي اتحاد تهدید شوی یرغل پخوا تر پخوا شندې کړي. سره له دې هم دا له هغو امکاناتو نه یوازې یو امکان دی چې زه باید پرې غور وکړم.

زما بل ګام به داوي چې دغه امکانات وارزوم. وګورم چې هر امکان له هغو واقعیتونو سره څنګه توافق کوي چې زما په لاس کې دي اوله نورو هغو فرضیو سره چې زما په فکر کې دي. واضحه ده چې زه

www.sikaraam.com

به ددویم نړیوال جنګ یو شمېر علتونه پیداکړم، چې څېنې به یې تر نورو څخه لا ډېر مهم وي، نو زه به هره هغه فرضیه نه یوازې دهغو واقعیتونو په ارتباط وګورم چې په غېږ کې یې نیسي، بلکې داسې هم هغه دلیلونه چې ورسره تړاو پیداکوي. په دغې عملیې کې به یو شمېر فرضیې ردې شي. دبېلګې په توګه دغه فرضیه چې جرمني په ۱۹۳۹م کال ددې لپاره جنګ اعلان کړ چې تر هغه دمخه یو ستر کساد د زور واکي او جنګ غوښتونکي رژیم دهسکېدو سبب شوی و، دغه فرضیه د اعتبار وړ نه ګرځي. ځکه چې هغه دغه حقیقت په نظر کې نه نیسي چې برتانیه، فرانسه او امریکا هم له همدغسې کساد سره مخامخ شوي وو خو هغه ټول سره له دې هم نظر دې ته چې جنګ وغواړي ګوښه غوښتونکي او ارام غوښتونکي شول. ډېره محتمله فرضیه به دا وي چې هتلر غوښتل یوازې په روسیې باندې یرغل وکړي او دغلطې پوهاوي په نتیجه کې یې ځان له لویدیزو زورونو سره دجنګ په حال کې وموند. بله فرضیه به داوي چې ځنګه چې لویدیزو زورونو په استرلیا او چکوسلواکیا باندې دهتلر دورختلو په وخت کې څه ونه کړل، ملي سوشلستان یې وهڅول چې دنړۍ نیولو په پلان باندې پیل وکړي.

اوس نو زه ترهغو ډېرې ګټورې فرضیې په تجربي ډول سره ازمېیم او هغه دهغو احتمالي پایلو په استنتاج سره او ددغو عواقبو په تائیدولو سره چې هغه به سمې وي یا نه وي اجرا کوم. فرض کړئ چې زه په دغې فرضیې باندې غور کوم چې دویم نړیوال جنګ له دې امله پېښ شو چې هتلر غوښتل له اروپا څخه د اروپایي نژادو یوه ټینګه کلا جوړه کړي. لومړی به زه ددغې فرضیې په احتمالي عواقبو باندې فکروکړم او هغه دا چې هتلر به دڅه وخت لپاره په اروپا کې له نورو اروپایي خلکو سره همکاري وکړي او دا چې دی به ټول غیر اروپایي

www.sikaram.com

خلك د بادار نوکران ګرځوي او داسې نور. بیا په نو زه ګورم چې که دغه عواقب په واقعیت کې پېښ شوي وي، زه بیا دا پلټم چې که هتلر په رښتیا اروپایي ولسونو ته دهمکارۍ کولو وړاندیز کړی وي او که ده په واقع کې سلاوي ولسونه تابع کړل او داسې نور.

په پای کې کومې هغه فرضیې چې ما په افاقي ډول ازمیېلې سره ننبلوم. هغه نو اوس "تضمین شوي بیانونه" کېږي مانا دا چې هغه دهغو معلوماتو په اساس چې ازمیېلي مې دي او دفرضیو دهغه لړ له مخې چې غوښتلي مې دي شرح یې کړم مستدلل او موجهه کېږي. ټول دغه بیانونه یا ادعا ګانې موقتي دي، ځکه چې نور معلومات لا پراخې یا لانورې ډېرې ژورې فرضیې. یا لاصاف او رسا تفکر ممکن هغه په ټولیز ډول یا څه یې له اعتباره وغورځوي. نو په دې ډول کومه هغه پوهه چې ما ترلاسه کړې موقتي ده. خو هغه دلا ډېرې پلټنې لپاره بنسټ کېږي. ځکه چې هغه دهمغې موضوع دلاسپړلو او پلټلو لپاره په لا کامل ډول سره وسیله برابروي او ځکه چې هغه لاپراخو پرېکړو لپاره دبېلګې په ډول دټولو جنګونو دعلتونو لپاره نظرلید برابروي. ددغه ډول تفکر خاصې ځانګړتیاوې څه دي؟ لومړی دا چې هغه علمي تفکر دی. هغه مې په هغه لور بیایي چې یوه مسله تعریف کړم، معلومات غونډ کړم. فرضیې وړاندې کړم، دهغو پایلې ښخوا تر ښخوا څرګندې کړم. وروستی په تجربي ډول تائید کړم او موندنې سره ونښلوم. بله دا چې دغه ډول تفکر انتقادي دی، راته وایي چې په بدیلو امکاناتو باندې غور وکړم چې څومره کولی شم واقعیتونه وازمیېم. قضاوت تر هغو وځنډوم چې واقعیتونه تائید شي او ایډیاګانې له واقعیتونو سره په شخصي رجحاناتو سره تائید کړم. دغه ډول تفکر مې له دې نه منع کوي چې څیزونه مسلم وګڼم او دې ته مې بولي چې ټوله پوهه موقتي او دبیا نظر اچولو لپاره خلاصه ده. په پای کې دغه ډول تفکر "دسوچ

www.sikaraam.com

وهنې دی. "له دې نه مې منع کوي چې نتیجو ته ورټوپ کړم. ددې پر ځای چې اول هغه څه وکړم چې په سر کې مې راننوځي مکث کوم، خیر کېږم چې که ترهغه لاښه بدیلونه موجود وي.

په ځانګړو دسپلینونو کې ډېرې مسلې دتفکر په دغه چوکاټ کې راځي. دبېلګې په توګه د نفوسو دخوځښتني او دځوانانو په پوهنې باندې دهغې داحتمالي اثر سوسیولوجیکي پرابلم واضحه ده چې په دغسې پېچلې مسلې لکه دغې باندې باید ترهغو کوښښ ونه شي، خو په هغه حال کې چې دهغې په اړه اول څوکاله سوسیالوجیکي او همدا راز دنورو اجتماعي ساینسونو مطالعه شوې وي، خو ترهغو لا ساده سوسیولوجیکي مسلې ډېرې دي چې ان په هغه اول سر کې په هغو باندې د تفکر دغه میتود به تطبیق شي. په بل عبارت همدا چې شاګرد ته دمطالعې کوم ډګر تجویز شو. هغه له دغه پرابلم حل کوونکي میتود څخه کار اخیستی شي. نه یوازې دا چې دی په هغه څه چې پوهېږي ترینه کار واخلي بلکې نور کشف هم کوي.

دغه پرابلم حل کوونکې طریقه دمعاصر ژوندانه په نورو مسلو باندې هم تطبیقېږي، لکه مدني حقوق، دمالیاتو وضع کول او له ښوونځیو سره دمرکزي حکومت مرسته. دا " غابن چیچونکي" مسایل دي. هغه مسایل چې ډېر دسپلینونونه په کې دخیل دي. دبېلګې په توګه دمالیاتو وضع کول دقانون، مالي چارو، اقتصاد او دمحاسبې په پوهې پورې ارتباط پیدا کوي. له پوهنې سره دمرکزي حکومت مرسته دتاریخ، سیاسي علومو، سوسیولوجي او اقتصاد پوهه غواړي. ددغې مسلو په حل کولو کې یوه لویه وظیفه داده چې قضاوت وشي چې په هغو کې دکومو دسپلینونو کومه پوهه مورد لري. دا هغه هنر دی چې یوازې ددغې مسلو په واقعي حل کولو سره زده کېدلی شي. چې یو شمېر دسپلینونه په کې دخیل دي.

www.sikaraam.com

مربیون به دلته دمسلو یا پرابلمونو دکورس په وړاندې کولو سره مرسته وکړي لکه د وړو خوانانو بې لارې کېدل او دبنار منځ خرابوالی. ددغسې کورس لومړني مقصد به دا وي چې نظر دې ته چې پوهه تیار شوي حلونه تهیه کړي دذکې او متحول دماغ قالب وروزي. په خاصه توګه هغه به مرسته وکړي هغه استعداد وروزي چې په منطقي ډول فکر وکړي، دبېلو بېلو عقلاني چوکاټونو(سوسیولوجیکي، اخلاقي، اوداسې نورو) له لارې به یوه مسله تعبیر کړي او دنورو په ملګرتیا به کشاله هواره کړي. ددې لپاره چې دغه نور سره اغېزمن شي هغه به یوازې یو څو مسلې په ژور ډول وپلټي. شاګردان به په دغسې عملیو باندې اخته شي لکه دهغې مسلې تعریفول چې باید حل شي. دهغې تاثیرونه پلټل. داړوندو واقعیتونو او تیوري ګانو تولول. داختلاف دعلتونو ازمییل. دبدیلو حلونو وړاندې کول او دهغو ارزول

## منطق په تدریس کې

منطق به دتدریس په عمل باندې هم تطبیق شي یانې چېرته چې له تدریس څخه مقصد داوي چې څېزونه په خاصې طریقې سره نورو ته وښودل شي. دلته به تدریس دعملونو دغسې یو سیستم وګڼل شي چې په شکل او محتوا کې به سره توپیرولري، خو د زده کړې پر لوړې به رهي کړل شي. ددغوکړو په سرته رسولو کې اوله شاګردانو سره ددوه اړخیزو کړو له امله ده چې پوهه ترلاسه کېږي. دغه اعمال او دغه دوه اړخیزه کړه البته شخصي دي. خو دوی منطقي هم دي څکه چې هغه خیني جوړښتونه او یوڅه اندازه نظم لري. دغسې نظم اوجوړښتونه چې فرق نه کوي، چې دنړۍ په هرځای کې چې زده کړه کېږي. په دغسې عملیو سره ترلاسه کېږي چې هغه ددرس ورکولو. زده کولو د وضع دماهیت انعکاس کوي.

www.sikaraam.com

دغه منطقي عمليې څه دي؟ څنګه به يې تحليل وشي؟ ويل کېږي چې د درس ورکولو په عمل کې درې اوښتون منونکي دخيل دي".
دښووونکي سلوك چې هغه خپلواك اوښتون منونکی دی.
دشاګرد چې هغه تابع تغير منونکی دی.
ډول ډول منل شوي فرضيې واقعيتونه لکه يادونه، عقيدې، ارتباوې او نتيجې اخيستې چې مداخله ګر تغير منونکی دی.
دغه اوښتون منونکي ـ دښووونکي کړه، دشاګرد دسلوکونه او فرض شوي واقعيتونه. له يو بل سره په ډېرو لارو تړلي دي. دښووونکي له کړو نه وروسته په شاګرد کې بېل بېل منل شوي فرضيې واقعيتونه راځي چې دی دهغو له امله ځينې سلوکونه کوي. ښووونکی دغه حال په نېغ ډول کتلی نه شي.
داسې هم دی علاقمنې ګانې، ارتباوې، انګېرنې او داسې نور په خپله ليدلی نه شي. خو دی دشاګرد له څرګند سلوك څخه نتيجه اخيستلی شي او زياتره وخت يې اخلي. دمثال په ډول دی به دشاګرد له عکس العملونو نه نتيجه واخلي چې څه کوي ورسره علاقه لري يا غوږه ګنې چې بل څه وکړي. دشاګرد کړه په خپل وار په ښوونکې کې بېل بېل فرضيې حالتونه پيدا کوي. چې هغه په خپل وار دنورو اعمالو مسبب کېږي. دغه دوره بيا پيل کېږي. ځکه چې دښووونکي سلوك په شاګرد کې منل شوي فرضيې حالونه پيدا کوي او داسې نور. ددرس ورکولو پروسه په همدې ډول دوام کوي. چې ښووونکی دې نتيجې ته رسيږي چې شاګرد هغه څه زده کړي چې ده يې نيت کړی و. يا داچې په دغه شېبه کې له درس ورکولو نه ګټه تر لاسه کېدلی نه شي.
دښوونکي په سلوك کې خپلواك تغير منونکي له "شفاهي". " سرته رسوونکي" او " افاده ييزو" اعمالو نه جوړ دي شفاهي کړه درې ډوله دي:

www.sikaraam.com

منطقي عملیې لکه تعریفول. تصنیف. شرحه کول او داسې نور.

دستوري عملیې چې شاګرد ته دستور ورکول کېږي چې باید څه وکړي لکه په توره د پهٔباندې لیکل. شعر لوستل، یا دضرب دجدول بیا بیا ویل

نصیحتي عملیې لکه ستایل. ملامتول. له سره باوري کول او داسې نور،

دسرته رسولو عملیې دحرکت له ډول څخه دي، خو خبرې به هم ورسره ملګرې وي. ښوونکی شاګرد ته ښیي چې یو څه وکړي لکه دا چې دبنسن (Bunsen) سوزوونکی تنظیم کړي افاده یېزې عملیې دښوونکي روحیاتي وضع څرګندوي چې هغه دهغه په مخ، د اواز په لهجه، دځان په خوځولو او نورو کې تمثیل کېږي

تابع اوښتون منونکي به هم په ورته ډول تصنیف شي. زده کوونکي دپر فعلي حرکتونه اجراکوي، خینې یې منطقي عملیې وي او مقصد یې دا وي چې وښیي شاګرد په هغه څه پوهېږي چې ورته درس ورکول کېږي. دی شفاهي حرکتونه چې دستوري یا نصیحتي وي کله کله اجرا کوي. څکه چې دڅنګه وکړه ویل او همدا راز ستایل او ملامتول په خاص ډول دښوونکي مسولیت دی.

څه وخت چې شاګرد داجرا کولو سلوك کوي ( لکه په ورزش کې برخه اخیستل یا په لابرتوار کې دسامانونو په خای کول) دی په نورمال ډول دغسې کوي چې دغه عملونه په خپله اجرا کړي نظر دې ته چې بل چاته دهغه دکولو دستور ورکړي. شاګرد هم په افاده ییز ډول سلوك کوي. دی یا موسکی کېږي. وچلی تریو نیسي، یا کوږ ووږ کېږي، یا نېغ کېني. په تینګه یا په بې باوري ډول غږېږي او داسې نور. دغسې سلوك که څه هم دچا په برابر کې کله کېږي ښوونکي ته ښودل کېږي چې شاګرد څنګه حس کوي،

www.sikaraam.com

منم چې هغه "منطق" چې په دغه ډول به تري نه کار واخیستل شي هغسې ټینګ تشبت نه دی، چې کله دغه کلمه استعمالوو په نورمال ډول یې په زړه کوو. خو هغه وخت چې په دغسې ښبنه کې لکه تدریس چې ورسره سر او کار پیداکېږي، دغسې عناصر په ځان کې شامل لري لکه جوړښت. وړ سلوك او عقلمني. په دې ډول کله چې موږ له تدریس څخه دعملونو دغسې سیستم تعبیروو چې له هغه څخه زده کړه راوځي او دهغه له مخې دتدریس دپروسې طرز تحلیل کړو موږ د زده کړې تحصیل ته په یوې افاقي طریقې ور رسېږو. چېرته چې دتدریس دطریقو داغېزمنې په اړه پخوانی پلټنه دتدریس له هغو طریقو څخه مخکې تللي چې کله یې یوه او کله یې بله غوره بللې. نتایج یې غیر قطعي و. موږ اوس دښوونکی اعمال په دغسې ډول وینو لکه چې په واقع کې دي او زموږ په پخوانیو فکرونو سره په نسبي ډول اړول شوي نه دي. په دې ډول موږ په دې قادریو. یا باید قادر شو چې دبېلابېلو داسې طریقو دقوتونو او ضعفونو تخمین وکړو. (۱۶)

---

(۱۶) ددرس ورکولو په عمل باندي دمنطق تطبيق دقطعي کېدو له حال نه چې موږ یې غواړو ډېر لري دی. ځکه چې تدریس په دې چې انساني کوښښ دی زموږ د ترتولو جدي کوښښونو په برابر کې هم مقاومیت کوي چې کوم جوړښت یا ترتیب ورته تثبیت کړو. داسې هم دیوه عمل په حیث دتدریس دشرح کولو بریالیتوب په عمده ډول دښووونکي په تخصص او دهغه دمضمون په نوع پورې تړلي چې درس یې ورکوي. (دلته زه مقصد یا میتود ته نه بلکې هغې عملي پوهې ته رجوع کوم کله چې ښوونکی درس ورکوي په واقع کې څه پېښېږي، یا پېښېدلو ته نږدې کېږي.)

www.sikaraam.com

## تحلیل او ژبه

دفلسفې په څای توب فصل کې مې درې ډوله فلسفې په لنډ ډول وښودلې چې تحلیلي فلسفه یې یو ډول وه. دفلسفې تحلیل غښتې ځانګړتیاوې له منطق سره تړاو او له ژبې سره تړاو دی. تحلیلي فلسفه له نظري او دستوري فلسفې نه مخ اړوي. نه غواړي دکایناتو تیوري ګانې یا دښه ژوند لپاره قانون وباسي. مقصد یې دادی چې فکرونه رانه کړي. دغه مقصد لودویګ وتګنشتاین (Ludwig Wittgenstein) په دقیق ډول بیان کړی دی:

"دفلسفې مقصد دفکرونو منطقي رڼول دي".

"فلسفه کومه تیوري نه بلکه فعالیت دی".

"دفلسفې نتیجه یوشمېر ګڼنې نه دي. بلکې داده چې ګڼنې رڼې کړي".

"فلسفه باید فکرونه رانه او په دقیق ډول حد بندي کړي. که نه هغه به هغسې چې دي خړ او تیاره وي".

له منطقي او رانه تفکر سره سراو کار په هماغه اندازه له ژبې سره سر او کار ضروري کوي چې فکرونه په کې بیا نېږي. په دې کې ګته نه شته چې فکرونو یا فرضیو ته دژبې له لارې وکتل شي. که ژبه مبهمه او تیاره وي حتمي ده چې یو څوک باید خپلې ژبې ته هم خیر شي.

دمنطقي او ژبه ییز تحلیل په ترکیب کې دمنطقي استدلالونو تحلیل دژبې دتحلیل له لارې چې هغه په کې بیانېږي. ددغه کسب فیلسوفان عقیده څرګندوي چې د ډېرو عنعنوي فلسفو دمسلو دحل لپاره یې وسیلې پیدا کړي دي. دوی وایي چې دغه مسلې په فکر کې هغه ګډوډۍ دي چې لږ تر لږه یو څه یې په ژبې کې له ګډوډیو نه پیدا کېږي. تېرایستونکي جوړښتونه. نا څرګندې اصطلاحګانې او مبهمې

www.sikaraam.com

افادي فيلسوفان سرګړاله کوي. دغه مسلې باید دجملو دمنطقي نتيجو دپلټنې له لارې چې په هغو کې واقع کېږي حل شي.

تحليل ګر فکر کوي چې فلسفي مسلې زموږ د کوښښونو په هغه بهير کې پيدا کېږي چې موږ معلوم واقعيتونه تر نظم لاندې راولو او شرح کوو. دغه مسلې به په خپله دغو واقعيتونو ته په مراجعې سره حل نه شي. څکه چې دجنجال ټکي دادي چې دغه واقعيتونه څنګه افاده شوي دي. دغه مسلې دژبې له کړکيچنونو نه پيدا کېږي. څنګه چې يوه ټاکلې کلمه يې افاده په طبيعي ډول داستعمال دېر ځايونه لري داستعمال دغه ځايونه په اسانۍ سره ګډوډېږي او يوه کلمه دبلې په ځای چې هغه ورته مناسبه وي. راوړله کېږي دبېلګې په توګه "د ودې" کلمه له بيالوجي نه تر پوهنې پورې په يو شمېر قرينو کې راوړل کېږي.

که موږ دودې بيالوجيکي مفهوم له بيالوژي نه پوهنې ته يوسو موږ به له دې چې پام مو شوی وي. دوه منطقي مفهومونه به موسره يو کړي وي: دودې مفهومونه په بيا لوجي کې او دودې مفهومونه په پوهنې کې دا چې دماشوم وده دنبات له ودې سره پرتله کړله شي تير ايستونکي کېږي. څکه چې د" ودې " کلمه په دغو بېلابېلو قرينو کې بېل بېل څيزونه مانا ورکوي.

نو دتحليل رول په اصل کې معالجوي دی دمفهوميزې ګډوډۍ دسرچينو په ښودلو سره ددماغ رونول تحليل مسلې نه حل کوي "اوبه کوي" تحليل افادې او دهغې ډولونه چې په فلسفي مسلوکې دخيلې وي. دمروجې استعمالونو له نظره ګوري او غواړي وښيي چې فيلسوفانو دغه افادې چېرته له حدنه دېرې غزولې يا بېځايه راوړې چې ګډوډۍ او مبهمات يې پيدا کړي دي.

www.sikaraam.com

دسم استعمال معيار په طبيعي ډول واقعي غرېدا يا هغه طريقې دي چې په هغو کې کلمې په بېلو بېلو قرينو کې په مروجې ډول استعمالېږي. واقعي غرېدا يا خبرې اترې دمانا لپاره ترټولو ډېر اعتباري لارښود دی. خکه چې هغه بايد له هغه څه سره تطابق وکړي چې دتحليل گر په نظر د اغېزمنې مفاهمې لپاره دټولو ازموينو ډېره دقيقه ازموينه دده چې هغه دهغې ثابت استعمال دی (۱۷)

تحليل دپوهنې تحصيل ته په تيارۍ سره خواب برابر کړی دی. پوهنه دپوهې ديوې څانگې په حيث ډېره عملي ده په دې مفهوم چې کومه هغه عمليه چې هغه يې زده کوي (د روزل کېدو عمليه) دهر شخص په ژوندانه کې يوه نورماله تجربه ده. هغه څه چې دپوهنې په تحصيل کې په عمومي ډول صدق کوي دهغې په فلسفي باندې هم صدق کوي دپوهنيزې فلسفې ژبه او مسلې تر زياتې اندازې هغه دي چې په عمومي ډول دژوندانه دي په عين حال کې چې خينې اساسي مفهومونه په پوهنيز بحث کې په حرکت راخي دپلټنې په يو شمېر ډگرونو کې هم راخي لکه سېپوهنه. تولنپوهنه او اقتصاد هغه " پوهېدل" زده کول" . اجتماعي کېدل" " ارزښت ورکول" او " يقيني کول" په غېږ کې نيسي. مربي چې څه وخت دغه مفهومونه تحليل کوي دهغو مانا گانې بايد په بېلو بېو قرينو کې وگوري. بيا به نو دی په دې قادر شي چې هغه مبهمات په گوته کړي چې هغه هغه وخت واقع شوي

(۱۷) " ... زموږ دکلمو گډې پانگې ټول هغه توپيرونه احتوا کوي چې انسانانو دابېلو وړ موندلي او ټول ارتباطات چې دساتلو وړ يې گڼلي دي په يقين سره چې په غالب احتمال هغه به نور هم ډېر شي. تور هم سم شي او نور هم ژورشي. خکه چې هغو دتر ټولو دقوي پاتې کېدو په اوږده امتحان کې مقاومت کړی. لږ تر لږه به ټولو عادي او نسبتا په عملي چارو کې نظر هر هغو ته چې زه او نه يې په ارامو کوچنو کې په فکر کې گرحوو" پ. ف ستراسن (P. F Strawson)

www.sikaraam.com

وي، چې ماناګانې چې دځينو قرينو لپاره دي نورو قرينو ته ورلې شوي وي، پوهنه ځان ته خاص مفهومونه لري. لکه "موضوع"، "استادي"، "تياري" او "سمه روزنه" دا نه يوازې دنظري مباحثې لپاره موضوعګانې دي بلکه دښوونځي د ډېرو عملي ساينسونو لپاره موجهه کول هم دي، چې په ټېنګه يې دفاع کېږي. دغــې واقعيت چې تحليلول يې لاهم ګرانه کوي.

په دې ډول دپوهنې زده کړه دپوهنې تحصيــل لـه ايډياګانو او همدا راز دمرتبطو دسپلينونو له ايډياګانو نه پـه زياتـه اندازه استفاده کوي، په نتيجه کې ډېر شمېر پوهنيز مفهومونه داسې منطقي تعبيرونه لري چې له هغو بېلابېلو دسپلينونو سره تطابق کوي چې دغه مفهومونو په هغه کې راغلي دي او په نتيجه کې دغه مفهومونه ډېر مبهم دي.

د"توافق" مفهوم له دغې ډلې ځخه دی چې هغه لکه چې په نورو ځايونو کې استعمالېږي په ساهپوهنې او پوهنې کې هم استعمالېږي. بل يې د"اړتيا" مفهوم دی. څه وخت چې يوه ښوونځي وايي چې هغه ددې لپاره ده چې "دشاګردانو ټولې اړتياوې پوره کړي" مقصد يې په رښتيا څه شی دی؟ داچې هغـې دځېلو شاګردانو ټولې اړتياوې اټکل کړي دي او پوره کولی يې شي؟ يا ځينې اړتياوې؟ که داسې وي کومې اړتياوې؟ ممکن "اړتياوې" دپوهنې په هغو هدفونو کې منحل کېدلی شي لکه هــې چې ديوې ښوونځي له خوا لېدل کېږي او تطبيق کېږي، يا ښايي دغه کلمه ګرد سره يوه بې مانا کلمه وي.

داسې هم د"توافق" کلمه په نظر کې ونيسئ: يو شاګرد دپوهنځي له کومې برخې سره توافق وکړي، ور ځينې پروګرام، ښووونکي، تعليم نصاب، وروستی پروګرام يا څه شی؟ ايا په متوافق کېدو سره هغه لږ ازاد کېږي. يا ډېر ازادکېږي؟ ايا يو څوك له ټولې ښوونځي سره توافق کوي. يايې په واقع کې کولی شي؟ حتی که يو شاګرد له ښوونځي سره


www.sikaraam.com

توافق کولی هم وشي دښوونځي لپاره به داښه نه وي چې له شاګرد سره توافق وکړي؟ د" په ځای" کلمه هم دزده کړې دبري یا ناکامي دقضاوت کولو لپاره یوه مروجي کلمه ده. خو دغه اصطلاحګانې هغومره ډېرې ماناګانې لري لکه هغومره چې یې خلك استعمالوي." په ځای توب" به په دغو مفهومونو باندې دلنګر اچولو په مانا په کار شي: په مسلکي زده کړه باندې د زده کړې دمسلو حل کولو طریقې باندې د زده کړه د زده کړې په خاطر باندې د انساني حال په نظري تحلیل باندې یا په هرهغه څه باندې چې د ویونکي په فکر دپوهنې په مقصد وي. ښایي زیاتره وخت هغه ددې لپاره استعمال شي چې وښودل شي چې ښوونځي دیوې خاصې ورې ټولنې یا دیوه فرعي کلتور یا دخلکو دکوم خاص صنف په مقابل کې مسولیت لري. موږ اورو چې کومه هغه پوهنه چې په ځای او مناسبه وي هغه ده چې سرك، فابریکو، کورونو، موسسو او هستوګنځیو ته ځي. هغه په ټولنو او غونډو، شویو ځایونو کې استعمالېږي. هغه دفردي او نژادي هیلو، غوښتنو او دخاصو ګټو پر لوري روانه ده. هغه حتی ددې لپاره خدمت کوي چې " ناروغه" ټولنه نسکوره کړي او زموږ دکلتور دارزښت سیستم په انقلابي ډول واړوي. په دې ډول دغه شعار چې "پوهنه باید دټولنې په ارتیاوو پورې تړلې وي" دهرڅه او ټول څه مانا لرلی شي. په خپله "پوهنه" څه ته وایي؟ په دقیق ډول هغه "ارتیاوې" کومې دي چې پوهنه کولی شي هغه په فزیکي او مانوي ډول پوره کړي؟ اوپه پای کې کمیونتي یا وړه متجانسه ټولنه څه ته وایي؟ ایا دحس کولو دیوه حال دمقصدونو یوځای شوې ټولنې خپلواکه، په ځان بسیا ټولنه او که څه؟

سره له دې هم تحلیل د وقعیتي پوهې لپاره عوض کېدلی نه شي. که دا وي چې موږ په دې کې جنجال لرو چې پوهنې دشاګرد ارتیاوې ترکومه حده پوره کړل موږ باید په دې پوه شو چې دغه ارتیاوې دبېل

www.sikaraam.com

بېل منګګ افرادو لپاره کومې دي او دا چې که هغه له يوې سيمې نه وبلې سيمې ته له يوه ټولنيز صنف نه بل ته، او له يوه اقتصادي دريځ نه بل ته تغير ورکوي. دغه پوهه يوازې له واقعيتي پلټنې څخه په لاس راځي. داسې هم تحليل موږ ته اخلاقي عقايد چې دپوهنيز عمل په اړه دپرېکړو لپاره ضروري دي تهيه کولی نه شي. دمثال په توګه دتوافق مسله تر ډېره حده پورې يوه اخلاقي مسله ده. تحليل موږ ته هغه اخلاقي اصول چې موږ دفيصلې دکولو لپاره هغو ته ضرورت لرو تهيه کولی نه شي. خو هغه موږ له هغو ګڼو نه او دهغو له پايلو څخه چې دغه اصول په کې ځای لري خبرولی شي. هغه مفهوموته. شعارونه او نصيحتونه او همداسې نور روښانولی شي چې د "ناپېيلتوب". د "ژمنتوب" او داسې نورو په اړه په بحثونو کې راځي.

ترډې حده پورې په تحليل باندې وغږېدم. اوس به زه په خپله يو تحليل وکړم. دتحليل کولو لپاره مې دوه مفهومونه غوره کړي دي: تدريس او برابري. زما بحث به لنډ او ساده وي داسې چې له همدغه فصل سره سروخوري، خو زه شايد په کافي اندازه وويلی شم چې لوستونکي ته چيلنج ورکړم چې ددغو مفهومونو په باب نوره هم مطالعه وکړي.

## دتدريس مفکوره

دکلاسيکو تعريفونو له مخې تدريس "دپوهې انتقالول". په يوه کسب کې روزل" او "زده کړه کول" دي. خو هغه په دې اړه لږ معلومات ورکوي چې دپوهې څرګندول په څه اوړي. په يوه کسب يا مهارت کې دروزلو په وظيفه کې څه شيان شامل کېږي، يا څه وخت چې يو څوک بنودنه کوي څه پېښېږي په واقع کې که موږ "دڅرګندولو يا ورکولو" کلمه وګورو يوه مانا يې درس ورکول دي. د "زده کړې ورکولو" يا

www.sikaraam.com

"ښودلو" بله مانا هم " درس ورکول" دی، مور د " روزلو" په کلمې کې په لږ ښه حال کې یو چې دهغې مانا په قاموس کې "ټینګ تدریس" دی. داچې وروزل شي مانا یې "ښوونې ته تابع" کېږي. هغه نوع چې اغېزمن اجرات ترې نه راوځي، نو قاموس له موږ سره چې دتدریس دټولو متجانسو کلمو ترمنځ توپیر ومومو مرسته‌نه کوي.

په واقع کې هغه موږ په دایروي ډول خوځوي چې بېرته هلته لاړشو چې له هغه ځایه موشروع کړي ده. نو راځئ چې دقاموس له مخونو څخه اخوا شو او دتحلیل په رڼا کوونکي ډګر کې ننوځو.

تر هرڅه دمخه ښوونکی چې درس ورکوي څه کوي؟ هغه بس ګړېږي ویل کوي. یا ربط ورکوي. یا څه؟ په واقع کې دی دغه ټول څه کوي، خو په یوې موخې سره او هغه دا چې ښاګرد وهڅوي چې زده کړه وکړي. تدریس نو "عمدي کړه" دی. هغه چې مقصد یې دا دی چې زده کړه وشي ښوونکی شرح کوي. بیانوي، پوښتنې او ارزوي. ټینګار کوي،ترټې او غوره مالي کوي. لنډه دا چې دی ډېر څه کوي چې شاګرد وهڅوي هغه ډول څېزونه زده کړي چې دی فکر کوي. باید زده یې کړي. په هغې طریقې سره چې ده ته دمنلو وړ وي. پلاز او مور او نور هم همدغسې کوي. خو په یوه توپیر سره ښوونکی ډېر" کسبي".دی یانې دا چې دی ډېر پوهېږي دهغه څه په اړه چې (الف) درس یې ورکوي، (ب) څنګه یې درس ورکوي او (ج) چاته درس ورکوي. دښوونکي لومړنی دنده داده چې شاګردان وهڅوي چې په څېزونو پوه شي او زده یې کړي په منظم ډول سره. ددې مانا داده چې دی پوهـه یا مهارتونه په دې ډول تنظیموي‌چې شاګرد وهڅوي چې نه یوازې زده یې کړي. بلکې یاد یې هم کړي‌او یا څه ورسره وکړي.

ښوونکی شاګرد ارزوي هم. په دې ډول شاګرد ته ګواښ ورکول کېږي چې یو شی زده کړي او یادیې کړي. ځکه چې دی به په یوه یا بل

www.sikaraam.com

ډول و ازمېيل شي. لنډه داچې ښوونکی دنورو خلکو پرخلاف په هغه څه بوخت کېږي چې تعليمي' وينا نومول شوي. چې هغه عادي وينا نه ده ددې مانا داده چې دی د عمدي او تلل شوي مفاهمې په پلوي له بې قاعدې او نه مطالعه شوي وينا څخه تېرېږي دی خپل تدريس په دې ډول تنظيموي چې شاګرد به دهغه په اړه په ژور ډول فکر وکړي او هغه څه چې زده کوي ياد به يې کړي.

هو، دټولو ويناوو مقصد دادی چې خلك په کوم ډول سره تر نفوذ لاندې راوستل شي. پوښتنه په دې ډول کېږي چې ځواب غواړي. تهديد چې وويرول شي. دلاساينه چې ارام کړل شي او وعده چې بيا متيقين کړل شي. دتعليمي وينا مقصد دا نه دی چې زده کوونکی بس په دې قادر شي چې دی هغه څه بيا ووايي چې ورته درس ورکول کېږي. بلکې له هغه سره يو شمېر ځيزونه وويل شي او وکړل شي. څه وخت چې ښوونکی نسبي ضمير شرحه کوي دهغه اول مقصد دا نه دی چې شاګرد بايد دهغه وينا بيا ووايي که څه هم دی بې له شکه دغه څه غواړي. بلکې داچې شاګرد نسبي ضمير په سم ډول استعمال کړي، کله چې دی دفرانسې د انقلاب علتونه وړاندې کوي نيت يې دا وي چې شاګرد بايد په دې قادر شي چې که دغه پوښته په ازموينه کې نه يوازې بيا ووايي. بلکې مهمه داده چې دتېر او دوخت دنورو انقلابي اوضاعو په ارزولو کې له هغو نه استفاده وکړي. لنډه، يې دا چې دی له هغې پوهې څخه کار واخلي چې زده کړې يې ده (۱۸)

۱۸) تعليمي زده کړه داخلي هم کېدلای شي. يو شخص کولای شي خپل ځان ته درس ورکړي چې هغه [illegible] ووايي او وکړي چې هغه په [illegible] هغو ته سل [illegible] چې [illegible] ورکړل شوي وي. د بېلګې په توګه يو شخص به د اسې حال کې چې ابتدايي [illegible] به په خپله زده کړي وي کولای شي [illegible] په [illegible] کې [illegible] په واقع کې خلك له خپلو [illegible] زده کوي [illegible] کړي.

www.sikaraam.com

ټول تدريس تعليمي وينا او ليکنه نه ده، موږ په تمثيل، تمرين، مثال او په هره هغه طريقه تدريس کولی شو چې نتيجه يې هرهغه ډول زده کړه وي چې غواړو ترسره يې کړو. خو دتدريس ژبه په اصل کې تعليمي وينا او ليکنه ده. ددغه نظر په منلو کې ځو ګټې دي اول دا چې دتعليمي وينا محتويات د ورکوونکي، اخيستونکي او د ورکولو له موقع نه تر ډېره حده پورې ازاد وي. نور ځيزونه چې سره برابر وي، کوم هغه معلومات چې دبحث موضوع وي ديوه مناسب لائق شخص له خوا هر هغه په مناسب ډول اماده شوي مبتدي ته په هره موقع کې ورکول کيدلی شي

په دې ډول که زده کوونکی کوم ټولګی خط کړي وروسته يې جبران کولی شي. بله دا چې دتعليمي وينا محتويات ساتل کيدلی. پرتله کېدلی. تر انتقاد لاندې نيول کېدلی او نورخه پرې اضافه کېدلی شي. ترڅو چې هغه څه چې ديوه نسل لپاره ورکول کېږي. کلونه وروسته به بل نسل ته ورکول کيدلی وشي په داسې حال کې چې بس وينا کول، ويل، بيانول په زياته اندازه په هغه ځا پورې اړه لري چې خبرې کوي. څه وخت او چېرته (۱۹)

خو ته به وپوښتې چې دلته زده کړه چېرته ځای لري؟ ما وويل چې تدريس د زده کړې حاصلولو لپاره کوښښ دی. خو په عکس يې ربښتيا

---

(۱۹) تعليمي بحث او وينا هم له موږ سره مرسته کوي چې د انساني مفاهمې دانواعو ترمنځ توپير وکړو. په هغې کې عقلاني عملي شاملې دي. چې دډېرو مربيونو په نظر دسلوك ترټولو دلوړ څخه لالوړ دي او بايد اداره يې کړي. عقلاني کار په بيخي ډېرو مسعدو ملسوبو کې الوړ کال کېږي. دا دهغو خلکو محصول دي چې لکه ددغه کتاب ليکونکي الوړ تحصيلات يې کړي دي او نورو ته يې ورکولی شي که عقلاني قوه چې دعقلاني مباحثې او وينا نه تولېدېږي دکوم کلتور له خوا قدر نه شي، هغه کلتور به وچ شي

www.sikaraam.com

نه ده. د زده کړې حاصلولو لپاره کوښښونه لزوماً انساني ښووونکي نه غواړي. پر دې سربېره د زده کړې سرته رسونه که څه هم دبريالي تدريس غښتيه نښه ده په خپل ذات کې کافي نه ده. چې ښه تدريس وټاکي، د هرڅه دزده کړې دسرته رسونې په موزون تيا پورې تړلې ده، زه به وکولی شم چې سباوون ته دضرب جدول تدريس کړم او څه وخت چې دی ماته ښيي چې هغه هغه زده کړي او يادولی يې شي بيا نو زه ويلی شم چې ما ورته په بري سره درس ورکړی دی، خو ما به دضرب دجدول دمفهوم په اړه ښايي تول ځيزونه چې هغه بايد زده کړی وای ورته درس ورکړی نه وي، ما به ورته اجازه ورکړی نه وي چې په خپل سر کشفيات وکړي. زه به شايد ګړندی نتيجي ته سترګې په لار وم په داسې حال کې چې ما بايد ددې لپاره چې سالمه پوهه مې ټينګه کړې وي لاهم ډېر وخت تېر کړی وای. نو اوس داسې ښکاري چې ددرس ورکولو په عمليه کې هم ښه والی او هم "بری" شامل دی.

دښه درس ورکولو ځينې شرطونه کوم دي؟ لومړنی يې مداومت دی، موږ يوازې يو ځانګړی درس نه ورکوو او داسې يې هم په خپل حال نه پرېږدو. موږ هم په متکاثف ډول او هم دمشکل په نظر کې نيولو سره درسونه ورکوو. موږ عمر، ذکاوت او د زده کوونکي لياقت په نظر کې نيسو او موږ خپل فعاليتونه دنسبتاً اوږدې مودې لپاره تنظيمو. دا له هغه سلوك څخه پوره توپير لري چې غير ښوونکي يې کوي. پلار او مور خپل ماشومان په ډېرو ځيزونو پوهوي لکه دين، اخلاقيات او سکس. والدين په هغو شرايطو سره چې موږ د تدريس ښکورې دتطبيق لپاره بيان کړه په معمولي ډول نه تدريس کوي. په واقع کې د ډېرو په نظر دا يو دليل دی چې د اخلاقياتو او سکس په اړه معلومات بايد په پوهنځي کې تدريس شي. دلته په نظر کې نه لزوماً په عمل کې اخلاقيات او سکس به ممکن دښه تدريس په نتيجه کې زده کړل شي.

www.sikaraam.com

دښه تدریس بل شرط دهغه څه چې درس ورکول کېږي (او زده کېږي) عمدي عملي کول دي، ویل، خبرول او بیانول زده کړه نه غواړي. حتی ښه ویل، خبرول او مربوط کول هم، خوښه تدریس یې تقاضا کوي او تدریس یوازې هغه وخت ښه وي چې شاګرد له هغه څه نه چې زده کړي یې وي په ازاد ډول او په مسولیت سره کار واخلي او ورسره ژوند وکړي.

ښه تدریس یو بل شرط هم لري، دمفکورې جوړېدل. ښه ښووونکي یقیني کوي چې زده کوونکي دفکر او عمل دغسې طرح حاصله کړي چې نه یوازې دوام به وکړي، بلکې مشخص حکمونه به پالتو هم کړي ددغسې خلکو ترمنځ غټ تفاوت وي چې ورته ویل شوي وي، چې ربښتیني اوسي. زده کړي یې وي چې ربښتین اوسي او زده کړي یې وي چې باید ربښتین اوسي. زه کاوون ته ویلی شم چې ربښتین اوسي (حکم): خوکه زه ورته ښه درس ورکړم هغه به زده کړي چې ربښتین توب څه شی دی، هغه په څه سبب ښه شی دی او دی ولې باید ربښتین اوسي.

زه به له ده نه دا هم وغواړم چې دی باید ربښتین اوسي خکه چې دی په دې فکر شوی دی (او هم پرې پوهېږي) چې دی باید ربښتین اوسي، نو دښووونکي لپاره یوازې دا ګواښ نه دی چې شاګرد په ربښتین توب (یا همدغسې بل څه) باندې پوه کړي، بلکې کوښښ وکړي چې ربښتین یې کړي په دې ډول چې هغه په خپل فکر په انتقادي ډول همدغسې شوی وي.

البته اوس نو دا ممکنه ده چې په ښه ډول درس ورکړل شي چې زده کوونکي به ښووونکي، پوهه او هغه طریقه چې پوهه وړاندې کېږي په مسولیت سره رد کړي، دا هغه خطر دی چې ښووونکي یې باید ومني. په واقع کې کله چې موږ دغه خطر منلی وي، انتقادي تفکر. بېطرفه قضاوت او ددریسخونو نیول مو هڅولی وي. موږ به هر چېرې له یاغي شاګردانو سره مخامخ شوي یو، خو تر هغو چې دغسې یاغیانو دا

www.sikaraam.com

ښوولې نه وي چې دوې نامسول او نا معقول دي موږ باید په خوښې سره نتیجه واخلو چې ځینو ښووونکو خپله دنده په ډېره ښه توګه سرته رسولې ده. موږ اورو چې "پرمختګ دناراضو دماغونو نتیجه ده".

په لنډ ډول کله چې موږ وایو چې دښه درس لپاره ځینې شرطونه ضرور دي. مطلب مو دادی چې زده کوونکو ته انتقادي فکر اوسلوك نومورنه تدریس شوی دی. موږ شاګردانو ته یوازې درس نه ورکوو چې څنګه ښه مدني افراد اوسي. لکه داسې چې ښه مدني افراد کېدل به دمهارتونو یو ټولی اوسي، بلکې دا هم وایو چې ښه مدني فراد اوسي ( یاکه په بل ډول اوسي باید قانع کوونکي دلیلونه ولري.) موږ ورته درس ورکوو چې نه یوازې دا چې رایه ورکړي. بلکې دا چې څنګه رایه ورکړي او دا چې رایه ورکول په سیاسي ژوند کې څه ارزښت لري.

ایا په ښه تدریس کې هم تلقین وي؟ البته چې وي، ښه ښوونکی له تلقین کولو څخه خان ژغورلی نه شي، دی به ټولګي ته ووایي چې زموږ په کلتور کې څه شی ښه دی او څه شی بد. خو دی به هم ښه وستایي او بد وغندي څنګه چې وویل شو پوهنه په اساس کې د نارم یا ټاکلي معیار موضوع ده یو ښووونکی به هر وخت خپل ارزښتونه ښکاره کړي. دی به دهغه څه تدریس وکړي چې دده په فکر شاګردان یې باید زده کړي. داسې به دی دڅه وخت درس ورکړی وي چې ورته دستور ورکړل شوی وي. نو تلقین په خپل ذات کې دښه تدریس پر ضد نه دی دهغه پر ځای هغه چې اهمیت لري هغه دی چې تلقین یې کېږي او دهغه لپاره نه کومې طریقې نه کار اخیستل کېږي. ځینې خلك فکر کوي چې تلقین په دموکراسي کې داصطلاحاتو تناقص وي. څکه چې دموکراسي دتدریس او تحصیل مفهوم لري. دا تناقص نه دی. تاماس جفرسن ویلي وچې "دخان حکومت یا دخلکو حکومت صفتونه ذاتي نه دي هغه دعادت او اوږدې روزنې نتیجه ده" دموکراسي په ځینو تثبیت

www.sikaraam.com

شویو اصولو باندې ولاړه ده او دهغو دمنلو لپاره موږ ډېر دليلونه لرو چې درس يې ورکړو. لنډه دا چې هغو ته يوه عقيده تلقين کړو. دا ددې مانا نه ورکوي چې موږ په هغو انتقاد کولی نه شو. دا ددې مانا ورکوي چې ښوونکی هغه وخت چې زموږ دسياسي سيستم په اړه درس ورکوي حق لري په شاګرد باندې له خپل نفوذ نه کار واخلي. هغه ددې امتياز لري او دخپنو په فکر هغه دوظيفې له مخې مکلف دی چې دکلتور ايډيالونه تلقين کړي چې دغه حق هم په کې شامل دی. چې په کلتور باندې انتقاد وکړي. معترض ته چې وايي ښوونکی بايد "بېطرف" اوسي زه دغومره وايم چې دغسې کول هم ديوه طرف نيول دي که څه هم ډېر اغېزمن به نه وي. بېطرف ښوونکی خپل منلتوب ژر له لاسه ورکوي. ځکه چې پوهنه بېطرف تشبث نه بلکه له ارزښت نه ډک تشبث دي.

اوس به نو واضحه وي چې تدريس داسې هم دمنلو وړ عقيدې د هڅولو طريقه هم ده. خو موږ بايد وښيو چې تدريس څنګه دعقيدې هڅولو له نورو طريقو نه توپير کوي. لکه بحث کول. ترټل. مجبورول. پروپاګند کول. بډې ورکول او داسې نور. تدريس له دغو نه فرق کوي په اساس کې په دې لحاظ چې عقليت. قضاوت. انتقادي مکالمه او ددفاع قابليت هم په کې شامل دي. تدريس د ازاد او عنانکې قضاوت په تمرين سره چې شاګردان يې اجرا کوي. عقيده تلقين کوي. ښوونکی هم دهغې عقيدې لپاره چې تلقين يې کوي دليلونه وړاندې کوي او په دې ډول خپل قضاوتونه دخپلو شاګردانو انتقادي ارزونې ته سپاري ښوونکی په واقع کې خپل عقايد په خطر کې اچوي ځکه چې کېدای شي دشاګردانو انتقادونه ورانوونکي وي.

خو له حد نه ډېر عقلي تدريس هم محدوديتونه لري هغه دښکته صنف په شاګردانو باندې کله کله تطبيق کېدلی شي. لکه دمخه مې

www.sikaraam.com

چې وویل. تدریس هر هغه فعالیت وي چې زده کړه یې ماحصل وګرځي. تدریس نظر دې ته چې خالص عقلي وي. نورې طریقې هم باید په خان کې شاملي ولري. په لومړي ټولګې کې ښووونکی شاګرد ته هغه ډول درس ورکوي چې هغه په هغه عمر کې ورته اړتیا لري. لکه اجتماعي کېدل. ممکن یا کولتوري ارزښتونه خپل کول. یا دښه سلوک غوره کول څه وخت چې دلومړي ټولګي زده کوونکي پوښتي چې له هغه نه ولې غوښتل کېږي چې دغه او هغه وکړي هغه ددې هیله نه کوي چې لوړ عقلي خواب به واوري. ټول هغه څه چې هغه یې غواړي دغسې ځواب دی چې دی پرې پوهېدلی شي. دغسې خواب چې دده دپلټنې حس یا دپام اړولو لپاره دده ضرورت ارضا کړي. دماشوم نړۍ په لومړنیو ټولګیو کې ژوندۍ. له تاو او تخیل نه ډکه ده. دغسې نړۍ چې دعقل لاس کله کله پرې بر وي

په دې ډول تدریس یوازې دعادتونو، نورمونو. معلوماتو او مهارتونو دتزریق. عمدي فعالیت نه دی. حتی که موږ هغه مهال هم په نظر کې ولرو چې هغه څه چې تدریس یې شوی وي. باید په حتمي ډول په یاد ولرل شي البته دا حتمي ده چې یو څه تلقین کول باید ددغسې بد وکړو پر ضدوي لکه په زور دښخو بې عفته کول. ماشوم ترک کول او بدي ساري ناروغی. او دښو کړو په پلوی وي لکه په وعده وفا کول. رښتین توب او جسمي روغتیا. تدریس هغه دخت ښه وي چې دمطلوبې زده کړې له مخې وي. په ښه تدریس کې دا هم شامل دي چې دموضوع بېل بېل عناصر تشخیص کړل شي. دمثال په ډول په ساینس کې به دغه څه درس ورکړو.

دساینس څرګند واقعیتونه

دساینس مفهوم (شخصي. اجتماعي .پوهېوهنې او داسې نور)

دساینس ارزښت.

www.sikaraam.com

څنګه په ساینسي طریقه فکر وشي او
په ساینس کې پرابلمونه څنګه حل شي.

د ساینس ښه ښوونکی دغه ټول عناصر په نظر کې نیسي. دی په دې پوهېږي چې کوم کوم دي، هغه باید څنګه سره ببل شي او څنګه بېرته یو کړل شي.

ښوونکي ته سي هم د هغو ښيګڼو لپاره چې دده خارنې ته سپارل شوي دي اخلاقي مسولیت په غاړه اخلي. دی داعتماد په یوه حال کې دی او که له هغه نه یې ناوړه استفاده وکړه، په غالب احتمال چې ډېر سخت قضاوت به پرې وشي. ښوونکی هغه یوازینی کس دی چې دخپلې موضوع او خپلو شاګردانو په اړه خاصه پوهه لري. هغه وخت چې ورته جواز یا تصدیق ورکول کېږي مانا یې دا نه ده چې دی به یوازې صنف ته خي او درس به ورکوي. هغه په اخلاقي لحاظ موظف دی چې ښه درس ورکړي، هغه دغه مسولیت په څرګند ډول منلی چې وګوري زده کړه په رښتیا کېږي.

البته هېڅ ښوونکی ضمانت کولی نه شي، چې زده کړه به وشي. خو دوی شاګرد د زده کړې لپاره هڅولی شي او حتی په غوړه مالی سره هڅولی شي. دی هغه په اوږده موده کې د زده کولو لپاره مجبورولی نه شي. دا یوازې شاګرد دی چې هغه دخپل ځان لپاره کولی شي.

دا ټول ددې مانا ورکوي چې دښوونکي او دښوونکي دصلاحیت یا اختیار له خوا کنترول باید دتدریس دلازمي امتیاز په حیث وپېژندل شي ښوونکی داختیار مقام دی. نه یوازې دخپل مضمون په اړه بلکې دهغو ټولګیو په هکله چې ورته درس ورکوي، خینې ښوونکی په تېره بیل کوونکی وېرېږي چې دخپلو شاګردانو درناوی به له لاسه ورکړي. نو دوی په دې کې ټکنی کېږي چې له خپل اختیار نه کار واخلي. خو دا

www.sikaraam.com

د هغه د کسب له امله ده چې هغه د اختیار خاوند کېږي، که هغه یې غواړي یا یې نه غواړي، مور او پلار او شاګردان ترېنه هیله کوي، چې دی دې د اختیار خاوند وي او شاګردان پوهېږي چې دوی ددې لپاره ښوونځی ته ځي چې له هغه نه زده کړه وکړي.

نو ښوونکی دېرتانوي کورمشر په شان دخپلې کلا پاچا دی. له هغو ټولو حقوقو، امتیازونو او مسولیتونو سره چې ورسره مل وي، دهغه یو حق دادی چې ټول هغوی چې دی پرې اختیار لري دده اطاعت وکړي. دی ددې لپاره چې خپل اطاعت یقیني کړي، ممکن حتی له زور نه کار واخلي یا دهغه د استعمال اختیار بل چاته وسپاري. دا ښه مناسب کار دی خکه تر څو چې له اختیار سره زور مل نه وي ممکن په هغه باندې ملنډې ووهل شي، البته چې دښووونکي لپاره حتمي ده چې له خپل اختیارنه په هوښیاري او مسولیت سره کار واخلي. دی باید دا هم په یاد ولري چې دده اختیار دپلار او مور تر اختیار نه کم دی. دښووونکي زده کوونکي روابط به مینه ناك وي خو دوالدینو مینه او جذبه به ونه لري، هغه دماهیت له مخې محدود او موقتي دی. موقتي په دې چې زده کړه چې ښووونکی یې تدریسوي له اره عقلاني ده یاباید همدغسې وي، دا هغه رابطه ده چې په نهایت کې دیوه ډېر لرغوني کسب په اصولو سره ټاکله کېږي.

## دبرابرۍ مفکوره

اوس به دبرابرۍ په مفکورې باندې وغږېږم. په امریکې کې په برابرۍ باندې عقیده دومره ټینګه ده چې دغیر دسپین پوټکو لپاره د "بېل خو برابر" عنعنوي سیاست نور نو په رسمي ډول نه منل کېږي، دبرابرۍ پوهنیزې موقع په نامه دزیاترو لوړو پوهنیزو موسسو وروته دټولو ثانوي فارغانو په مخ خلاص دي. ویل کېږي چې هر یو حق لري په

www.sikaraam.com

ښوونځي یا پوهنځي کې په څرګند ډول تر نهایي ممکن ګټور حده پورې زده کړه وکړي. سره له دې هم د دغه ټکي په سر چې له "برابري" یا "برابرسلوک" نه مو مطلب څه دی، ډېر اتفاق نه شته. زما لغت تون یا قاموس وایي چې "برابر" په مقدار، درجې، ارزښت، قابلیت او نورو کې دیوشان یایو ډول مانا ورکوي.

زما قاموس نورې ماناګانې هم ورپورې تړي لکه" دکافي قدرت یا توان نه لرل" دغسې جملې کې لکه " دي د وظیفې اندول نه و" خو اوس راځي چې خانونه د هغه په اوله مانا " یو شان ته والي" یا "یو ډول والی" پورې محدود کړو.

د" برابری" کلمه په مقدار یا درجه کې دیو ډول والي په مانا مشکل نه پیدا کوي. کله چې دا یو دغورځنګ د ذکاوت تناسب (I Q intelligence quotient) دموسکاله IQ سره برابر دي، موږ پوهېږو چې که دغورځنګ IQ ۱۱۰وي دموسکا به هم ۱۱۰ وي، خو کله چې وایو" ښووونکي له غورځنګ او موسکا سره یو شان سلوک وکړ، مطلب مو څه دی؟ ایا موږ وایو چې ښووونکی له دواړو سره په برابر اندازه وخت تېر کړ؟ چې ښوونکي غورځنګ له ښوونځي نه وروسته هغومره تال کړ چې موسکا یې تال کړه؟ یا دا چې ددوی دشخصیتونو له تفاوت سره سره یې له دواړو سره په عین شان سلوک وکړ؟ څرګنده ده چې د" یوشان" په مانا د" برابر" کلمې په استعمال کې یو څه ابهام شته.

ممکن داسې وختونه به وي چې موږ باید له شاګردانو سره د نابرابري سلوک وکړو، څرګنده ده چې موږ باید موسکا دښوونځي له وخت نه وروسته تال نه کړو لکه چې غورځنګ مو تال کړی دی. هو، که زه ووایم چې " ښووونکي له غورځنګ او موسکا سره نابرابر سلوک وکړ" ښکاري چې زه ښووونکی په تبعیض تورن کوم. " برابر" هغه کلمه ده چې دښه او مطلوب انتباره ورکوي. ویل کېږي چې انسان "برابر او

www.sikaraam.com

ازاد پیدا شوی دی" هغه خلك چې فکر کوي انسانان دغسې نه دي غیر متمدن ګڼل کېږي، دا رښتيا ده چې موږ ممکن د استعدادونو کیسه را په زړه کړو چې وايي ځینې خلك دنسب یا چاپیریال له امله تر نورو ډېر مستعد دي، خو موږ لږ تر لږه وایو چې له ټولو خلکو سره باید برابر سلوك وشي، دوی ددې لپاره چې له خپلو استعدادونو څخه هر څنګه چې وي په اعلی درجه کار واخلي باید برابره موقع او چانس ولري.

خو دا مشکل لا زیاتوي، ځکه چې موقع داسې یو شی نه دی چې هغه به هغسې وي چې دتا لپاره اندازه په کمې ډول وټاکي په هماغه اندازه به یې زما لپاره هم وټاکي او هغه څه چې زما لپاره موقع ده ستا لپاره هم موقع کېدلی نه شي، نو موقع یا چانس به څنګه برابر وګرځي؟ په حقیقت کې اول به موږ مجبور اوسو چې برابري تهیه کړو، هرڅه چې هغه وي، پخوا تر دې چې موقع تهیه کولی شو، څرګنده ده چې حتی کله چې ټول ماشومان دښوونځي تللو لپاره " برابره موقع" لري هغه ماشومان چې ډېر محرومیتونه لري تر هغو نه چې نه یې لري په ښوونځي کې دبریالي کېدو لږ چانس به ولري، داسې وګڼئ چې موږ ترڅو کولی شو محروم ماشومان دبهره منو زده کوونکو سره یو ځای دپیل په لیکه کې دروو. نو ایا موږ به دلته په دام کې ګیر نه شو چې له هغو سره چې دپیل په لیکه کې دي نا برابر سلوك کوو؟ یو ښوونکی بوازې ټاکلی وخت او انرجي لري، که په ډېرش کسیزه ټولګي کې هغه محرومو شاګردانو ته ډېره پاملرنه کوي په ټولګي کې به نور له یاده وایستل شي.

راځئ چې په یاد ولرو چې موږ په یوې قوي رقابتي ټولنې کې ژوند کوو، همکاري ډېر ښه ایډیال دی، خو که موږ وغواړو دمخه ولاړ شو ځوك یې نه غواړي؟ موږ باید رقابت وکړو. حتی ډېر ښه دماغونه هم ګوابښ او لاړ ښودته ضرورت لري او دغسې زده کوونکي دهمدغه

www.sikaraam.com

مقصد لپاره ښوونځي ته ځي. نو په دې ډول یا موږ "برابر" تر موقع نه لوېږی له منځه نه وړو؟ دغه صفتي نوم هم اضافي او هم ګډوډونکی دی، هغه څه چې موږ یې په یقین سره په ښه ډول تهیه کولی شو دادی چې موقع تهیه کړو، برابره یا نابرابره . دهریوه لپاره چې په هغه ډول پوهنه وکړي چې د هغه مستحق دی، په دې اړه به ځه نورهم وغږېږم.

دموضوع غټ ټکی به له سره ووایم. داسې ښکاري چې کله موږ د "برابري" کلمه د "یوشان والي" په مفهوم استعمالوو موږ یې نه یوازې په محدود مفهوم سره استعمالوو بلکې دهغه قاموسي مانا هم په واقع کې نفي کوو. موږ وایو چې له خلکو سره برابر سلوک کول له هغوی سره دیو شان سلوك کولو مانالري. خو بیا هم موږ ته ښکاري چې ددې لپاره چې له محرومو سره مو انصاف کړی وي، باید له هغو سره ښه سلوك وکړو، یانې یوشان نه، په برابري سره نه. که میرې یوې محرومې کورنۍ ته منسوبه وي او رابرټ دیوې هوسا منځنۍ طبقې غړی وي له ښوونکي نه د قاعدې له مخې دغه توقع نه کېږي چې هغو سره برابر سلوك وکړي، بلکه په نابرابرۍ سره ددې لپاره چې دهغو ترمنځ لاډېره برابري (اجتماعي، اقتصادي او داسې نور) واقعي شي دا دجبیره وي پوهنې لویه موضوع ده.

راځئ چې اوس دویمه طریقه وګورو. هغه طریقه چې ځارو لوستونکو ممکن دمخه پرې غور کړي وي، که موږ ووایو چې ښوونکی له میري او رابرټ سره برابر سلوك وکړ. زموږ مطلب ممکن دا وي چې له هغو سره دعدل او انصاف یا په مناسب ډول سلوك نه دی کړی. ښوونکي رابرټ له درس نه وروسته په پوهنځي کې وساته خوا دهغه لپاره مناسبه نه وه چې له میري سره هم دغسې سلوك وکړي، ځکه چې هغې درابرټ غوندې ناوړه سلوك نه دی کړی، تر دې ځایه پورې ستونزه نه شته. خو اوس راځئ داسې وګڼو چې ووایم: ښوونکي

www.sikaraam.com

دموضوع له دواړو خواو سره برابر سلوک وکړ." دا په کافي اندازه دستاينې وړ کار دی. څکه چې په دموکراتيکې ټولنې کې له ښووونکي نه هيله کېږي، چې همدغسې وکړي. خو دغه برابر سلوک څه مانا ورکوي؟ دا چې ښوونکی له هرې خوا سره شل دقيقې تېرې کړي؟ دا چې ښووونکی شپږ دليلونه په طرفدارۍ او شپږ يې پر ضد وړاندې کړي؟ دا چې ښووونکی له يوې خوا سره پنځه دقيقې په وينا کولو شرح کولو، پلوي کولو او ردولو سره تېرې کړي او پنځه دقيقې له بلې خوا سره په همدې ډول تېرې کړي؟ يوازې کله که دغسې وشي. غټ دليل دادی چې ښووونکی به ضرورت ونه لري چې يوې خواته موضوع شرح کړي. څکه چې زده کوونکو هغه خوا دمخه په خپله مطالعه کړې ده.
دوی ښايي دغه خوا دومره ښه مطالعه کړې وي چې ښووونکی خپل ټول وخت په بلې باندې تېرولی شي. په اول نظر کې دا به بې مانا ښکاره شي. خو دا يوازې دهغې طريقې هسې بې مفهومه کول ( reductio ad absurdum)(۲۰) دی. چې لکه خينې خلك د"برابری" کلمه استعمالوي.
څنګه چې موږ ددې تحمل نه لرو چې بې مانا اوسو راځئ چې دريمه طريقه وپلټو.
ولې زده کوونکې پرې نه ږدو چې په خپله پرېکړه وکړي چې برابر سلوک څه شی دی؟
څه ته زده کوونکی ونه پوښتو چې له برابر سلوک نه دهغه مقصد څه دی او که له ده سره برابر سلوک کېږي؟

(۲۰) " reductio ad absurdum " لاتيني افاده ده په مانا د چټې او پوچ اړول، مطلب ديوې قضيې يا موضوع حل کول په دې ډول ښودلو سره چې دهغې منطقي نتيجه پوچه او چټي ده. ژباړن

www.sikaraam.com

خو په دغې موضوع کې موږ ګټلی شو چې زده کوونکی به خپله ادعا مدلله کولی وشي، په دې کې ګټه نه شته چې پرېږدو هغه بس غرېدا وکړي. دلته نو زده کوونکی دخپلو اخلاقي ادعاګانو دمدللهٔ کولو لپاره په عمومي ډول او د برابرۍ په اړه دخپلې ادعا دموجهه کولو لپاره په خاص ډول پوهې ته اړتیا لري. ځینې موجهه کوونکي اصول شته چې هغه یې بنایي له اخلاقیاتو نه واخلي. دمثال په ډول دی ممکن دکانټ مطلق شرط ته مراجعه وکړي چې موږ باید "یوازې په هغه پند عمل وکړو چې هغه به په عین حال کې عالمي قانون کېدلی شي" دغه شرطیه اشخاصو ته دکانت ددرناوي او بېطرفي دهغه کلاسیك اصل تمثیل کوي چې هېڅ څوك باید دځان په مقابل کې د طرفدارۍ سلوك ونه غواړي، خو دا چې دهغه لپاره یې سم دلیلونه وړاندې کړي وي. په بل عبارت موږ دنده لرو له خلکو سره "په برابر ډول" یانې یو شان سلوك وکړو، خو دا چې موږ دبل ډول سلوك کولو لپاره ښه دلیل ولرو. واضحه ده چې که دیوه زده کوونکي محرومیت دپام وړ وي، موږ به دلیل ولرو چې له هغه سره په بېل ډول سلوك وکړو، هغه مساوي نه دی نو باید په مساوي ډول ورسره سلوك ونه شي.

نو موږ دغــې مفکورو ته مخ اړوو لکه عدالت، انصاف او مناسب توب. هرڅه نور چې په نظر کې ونیول شي څه وخت چې خلك برابري غواړي هغه څه چې دوی یې غواړي هغه عدالت، پاکه لوبه او سلوك دی چې ددوی له اړتیا وو سره مناسب وي، خو کوم شی زموږ دلیل ښه کوي؟

موږ پوهېږو چې ذکي کسان دهغو اعمالو لپاره چې په شرمناك ډول نابرابر ښکاري په ظاهر کې ښه دلیلونه وړاندې کولی شي.

۱ په خای یا واردوي.

۲ په اجتماعي لحاظ د ژوندي پاتې کېدو وړ وي.

www.sikaraam.com

ددفاع وړ وي.

په خاې توب تېنګو اخلاقي اصولو ته په مراجعې سره تثبيت کېدلی شي. دانسان دحيثيت په اړه زه خپله وينا دخپلو اخلاقي عقايدو په ذکر کولو سره تثبيت کولی شم، چې دا غلطه ده چې له انسانانو سره دمريو په شان سلوك وشي، مريي توب زما په نظر دانسان پرحيثيت باندې تيری دی. له اجتماعي ژوندي پاتې کېدو يا له اجتماعي پايښت نه مې موخه دننه په يوې تاکلي ټولنې کې دېوه خاص شکل عدالت ټټلو امکان دی، څرګنده ده چې که قانون يا دود دستور مې منع کوي، زه له خپلو شاګردانو سره دکلمې په واقعي مانا سره برابر سلوك کولی نه شم. زما دليلونه هغه وخت ددفاع وړ وي چې که زه هغو ته په منطقي ډول رسېدلی يم او که دغه دليلونه په دغسې اخلاقي تيوري باندې بنا شوي وي چې دانسان دښېګڼې لپاره يې په عقلي ډول څرګندولی شم. اوس نو البته په دې هکله به يو څه دعوه وي چې زما دليلونه به ستا تر دليلونو ښه وي، يا دا چې ما به خپله دعوه ښه ثابته کړې وي. که داسې وي موږ به دقانون محکمې ته لاړ شو. ستره محکمه ددعوو دفيصله کولو لپاره نهايي محکمه ده او که څه هم په خپله قاضيان په خپل وار دعوه ګران کېږي، حتی دلته هم په پای کې د ډېر نظرو غلبه کوي.

څومره ارامي بښوونکی وي چې يو څوك دځوابونو لپاره په سترې محکمې باندې اتکا وکړي، پرېکړه په عمومي ډول حقوقي ده او دپرېکړې کولو لپاره قاضيان هم مجبور دي خپل ځانونه پوه کړي، دوی مجبوره دی اخلاقي پرنسيپونو. قانوني فلسفو او انساني سلوك ته مراجعه وکړي. سره له دې هم په واقع کې دبرابرې په اړه يوازې يوڅو دعواګانې تر سترې محکمې پورې رسېدلې دي، ډېرې يې دپوهنې په ډګر کې يانې چېرته چې ګوانښ واقع کېږي بايد فيصله شي، زده کړه يوه جدي موضوع ده. ښوونکی انتظار ايستلی نه شي.

www.sikaraam.com

عاجلي پېښې هره ګړۍ پېښېږي. پرهېزګړې باید په هماغه ځای کې وشي، ښوونکې به ارو مرو دبرابرۍ په موضوع باندې سوچ وهلی وي او باید تیار وي چې له خپلې اخلاقي زېرمې څخه کار واخلي.

# پایله

په دې کې شک نه شته چې تحلیل دپوهنې فلسفه اصلاح کړې ده. نوره یې هم تینګه او دقیقه کړې اود هغې دڅو اړخیزو پوهنیزو اصطلاحګانو نتیجو ته یې حساس توب ورکړی دی. له بلې خوا تحلیل دفلسفې په حیث په یوازې ځان نیمګړی دی. تحلیل ځانګړي پوهنیز مفهومونه او جوړه مفهومونه لکه تدریس او تحصیل روڼ کړي، خو هېڅ تحلیلي فیلسوف تر اوسه پورې په دې لټه کې شوی نه دی چې دپوهنې ستر مفهومونه تنظیم یا منسجم کړي. تحلیل ګران ممکن وروسته په تنظیمولو باندې لاس پورې کړي، خو دهغه لپاره یې تر اوسه زړه کړی نه دی.

پوهنه په ارادي ډول د انسان له خوا په قالب کې د انسان اچول دي. پوهنه د انسان او ټولنې په هغو مفهومونو باندې ډډه کوي چې یوازې ددغسې فلسفې پوهنې له خوا پرې باندې قضاوت کېدلی شي. چې ټولې فلسفي موضوعګانې په کې شاملې وي. تحلیل دغه موضوع له اعتبار نه غورځولې نه ده، خو یوازې شایې ور اړولې ده. نو په دې ډول دنن ورځې دپوهنې پر فلسفې باندې دتحلیل نفوذ باید موږ په دې فکر نه کړي چې دپوهنې دفلسفې نظر یې او دستورې نورې دندې بدلې شوې دي، هغه اوس هم هغسې ضروري دي لکه هر وخت چې وو.

www.sikaraam.com

# اصطلاحګانې او لنډې ویناوې

# Glossary and Aphorisms

## A

absolute — دتفکر نهایي اساس، له قید او بند نه ازاد، مثبت، یقیني، مطلق

analytical philosophy — تحلیلي فلسفه

assumption — فرضیه، ګڼېنه

authoratative knowledge — هغه پوهه چې دېل چا په صلاحیت سره دمنلو وړ وي

authoritarianism — زور واکي توب، زور واکي فلسفه

axiology — د ارزښتونو عمومي مطالعه، ارزښت پوهنه

## C

Categorical imperative — قطعي ضرورت، مطلق شرط.
دکانت له نظره هغه شخصي عمل چې دعام کېدلو دقانون په شان اساس برابر کړي.

causality — هغه نظر چې دهغه له مخې هره پېښه یو یا څو، لاملونه (علتونه) لري

coherence theory — درابطه تیوري

cubism — کیوبیزم په معاصر هنر کې هغه حرکت چې له مجرداتو اودشکل له هندسي تعبیر سره سروکار لري.

## D

depression — ستر کساد، د ۱۹۹۲ کال هغه زور اقتصادي کساد چې بانکوالي سیستم یې ولړزاوه.



www.sikaraam.com

# E

| | |
|---|---|
| تجربي فلسفه هغه طريقه چې وايي | empiricism |

امپرسيزمپوهه دانسان دحواسو او تجربې له لارې ترلاسه کېږي

| | |
|---|---|
| تجربه پال | empiricis. |
| معرفت پوه، پوهپوه. | epistemologis. |
| دمعرفت علم. پوهپوهنه | epistemology |
| اخلاقيات، اخلاقپوهنه | ethics |
| اساسي توب فلسفه. اساسي توب پال | essentialist |
| اساسي توب پال | essentialism |
| دوجود فلسفه. دشته والي فلسفه | existentialism |
| شته والي پال | existentialist |
| دتجريب فلسفه | experementalism |

# f.

| | |
|---|---|
| واقعيتونه معلومات | facts |

دپېښو په اړه هغه څه چې حقيقت وي، لکه دا چې بوره په اوبو کې حل کېږي

| | |
|---|---|
| شکلي سمند. شکلي منطق، صوري منطق | formal logic |
| صوري فلسفه | formal philosophy |
| دوظيفې يا استعمال فلسفه. | functionalism |

هغه نظر چې دهغه له مخې ديوه څيز وظيفه يا استعمال بايد دهغه څيزېنه، جوړښت او مواد وټاکي

# G

| | |
|---|---|
| طلايي قاعده | G loden rule |

هغه قاعده چې وايي له خلکو سره هغسې سلوك وکړه چې غواړې نور له تا سره هماغسې سلوك وکړي

# H

| | |
|---|---|
| فرضيه، گڼنه | hypothesis |
| انساني فلسفه | humanism |

هغه فلسفه يا لار چې معيار يې انسان وي.

www.sikaraam.com

# I

idea — مفکوره، نظر، ایډیا

intuitive knowledge — استشراقي پوهه، دشخص نبغ درك پوهه.

# L

logic — دسم فکر کولو دسپلین، سم اند یا سمند، منطق

# M

metaphysics — دطبیعت یا کاینا تو نه اخوا ،میتافزیك.

# N

naturalism — دطبیعت فلسفه

# O

originalsin — اصلي گناه

عیسوي نظر چې وایي دانسان طبیعت دبابا ادم (ع) دمنې په خوړلو سره نیمگړي او لړل شوي دي.

# P

perennialism — دتل ترتله توب فلسفه

perennialist — تل ترتله توب پال

personalist — شخص پال

هغه څوك چې خپل معلومات خپلو پخوانیو تجربو ته مربوط کوي

Phenomenology — پدیده پېژندنه، پېښه پېژندنه.

pragmatism — پرگماتزم ددوه ارخیزعمل فلسفه.

prescriptive philosophy — دستوري فلسفه، توصیوي فلسفه

progressivism — دوراندي تگ فلسفه

# R

reconstructionalism — دبیا رغونې فلسفه یا لار

Resuction ad absurdum — په چټي او پوچ اړول.

داکلمه یوه لاتیني افاده ده چې دیوې قضیې یا موضوع حل کول په دې ډول ښودلو سره چې دهغې منطقي نتیجه پوچه او چټي ده.

www.sikaraam.com

# S

| | |
|---|---|
| سکولاستسزم | Scholasticism |

په عیسوي اروپاکې د منځنیو پیړیو پوهانو منطق، فلسفه او الهیات، د تدریس هغه طرز چې په عنعنوي نظریو باندې ډېره لګوي.

| | |
|---|---|
| روح | Soul |
| روحیه | s pirit |
| جوهریت | Substantiality |

# T

| | |
|---|---|
| دتیوري فلسفه | theoretical philosophy |
| تیوري، منسجم او تنظیم شوی نظر | theory |
| تامزم، دتاماس اکویناس لاریا فلسفه | Thomism |

www.sikaraam.com

# دمولف جارج نور چاپي اثار

- دملي سوشلزم پوهنيزه فلسفه (ببل پوهنتون)
- دمکسيکو دملت پوهنه (کولمبيا پوهنتون)
- دبرتانيې لوړه زده کړه (دکليفورنيا پوهنتون)
- دشته والي فلسفه او پوهنه (وايلي خپرونه، ۱۹۶۴)
- دپوهنيزې فلسفې بنيادي فکرونه (وايلي، ۱۹۶۴)
- دتخليق هنر اوساينس (هولټ خپرونه)
- دپوهنې منطق او ژبه (وايلي، ۱۹۶)
- پوهنه او اقتصادي فکر (وايلي، )
- پوهنيزه انسان پيژندنه (وايلي، ۱۹۶۵)
- پوهنه او علمي دماغ (وايلي، ۱۹۷۱)
- دپوهنې بنسټونه . دريم چاپ (وايلي، ۱۹۷۱)

www.sikaraam.com

Pashto Translation of

# Introduction to the Philosophy of Education

By

George Kneller
University of California, Las Angeles

Translated by:

M. Hassan Kakar
Formerly Professor of History at Kabul University

د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه – جرمني

VEREIN ZUR FÖRDERUNG DER
AFGHANISCHEN KULTUR E.V

د خپرونو لړ (۳۸)

www.sikaraam.com

کتابتون ټولنه